النحو في الكلام كالملح في الطعام

عطاء البشير

پښتو

شرح نحو مير

تاليف

حضرت مولانا عطاء الله رحماني كان الله له

مهتمم دار العلوم رحمانيه ناوكى باجوړ ايجنسى

مكتبه رحمانيه پشاور

بسم الله الرحمٰن الرحیم

النحو فی الکلام کالملح فی الطعام

عطاء البشیر

پښتو

شرح نحو میر

تالیف: حضرت مولانا عطاء الله رحماني کان الله له

«مهتمم دار العلوم رحمانیه ناوګۍ باجوړ ایجنسی»

کمپوز و اصلاح: طالب الدعاء حافظ مولوی محمد ولی «مغلانی»

ناشر

مکتبه رحمانیه محله جنګی پېښور

ناظم مکتبه: خطاط شهزاده نقشبندی عفی عنه خادم العلماء والطلباء والمشائخ

حقوق طبع محفوظ

دکتاب نوم : عطاء البشیر پښتو شرح نحو میر
تالیف : حضرت مولانا عطاء الله رحمانی کان الله له
((مهتمم دار العلوم رحمانیه ناوګئ باجوړ ایجنسی))
نظر ثانی : حضرت مولانا محمد علی نورستانی صاحب دامت برکاته وفیوضاته.
کمپوز و اصلاح : طالب الدعاء حافظ مولوی محمد ولی (بغلانی)
ناشر : مکتبه رحمانیه محله جنګی قصه خوانی پېښور.
ناظم المکتبه : خادم العلماء والطلباء والمشائخ، خطاط شهزاده نقشبندی عفی عنه.

فهرست مضامين

موضوع	صفحه

تقریظات علماء کرام

تقریظ ونظر ثانی

ذی شرافت وسعادت حضرت مولانا محمد علی نورستانی دامت برکاته وفیوضاته.

دغه کتاب چه په نامه دَ ((**عطاء البشیر**)) دي ما دَ اول نه تر آخره پورې مطالعه کړو او نظر ثانی مې پرې وکړو، حضرت مولانا **عطاء الله رحمانی** صاحب په دغه کتاب کښې حتی الوسع ښه کوشش کړې دي چه لفظی ترجمه، لغوی تحقیق دَ بعضې الفاظو اوخلاصه په ښه کوشش اوجهد سره بیان کړیده. امید کوم چه دطالبانو دپاره به نهایته مفیده وي. الله تعالی دې د ((**عطاء البشیر**)) دکتاب لیکونکی ته پوره او کامل اجر اوثواب ورکړي.

بنده محمد علی نورستانی (مدرس دارالعلوم رحمانیه)

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا محمد صادق صاحب دامت فیوضانه وبرکاته (مهتمم دارالعلوم ریاض القرآن باجوړ ایجنسی)

لله درمصنف هذا الشرح حیث سعی وجهد فی تشریح مسائل النحو، والنحو فی هذا الزمان ضروری للعلوم الشرعیة اعنی التفسیر والحدیث والفقه.

شعر

کلام بلا نحو طعام بلاملح ونحو بلا شعر ظلمة بلاصبح

لاشیئ مولو محمد صادق (عفی عنه)

۲۱/۲/۲۰۰۸

تقریظ

لشیخ الحدیث وماهرفی الفنون حضرت مولانا خورشید احمد صاحب دامت برکاته وفیوضاته (مهتمم دارالعلوم احیاء العلوم خار باجوړ)

کومه شرحه دنحومیر چه حضرت مولانا **عطاء الله صاحب** ولیکله چه مسمّٰی ده په ((**عطاء البشیر**)) سره، نو ددې وقت د طلباؤ دپاره ډیره موزونه ده، الله تعالی دې دا شرحه د ټولو طلباؤ دپاره ښه علمی فائده دار وګرځوی۔ آمین۔

احقر خورشید احمد ۲۰۰۸/۲/۲۱

تقريظ

جامع المعقول والمنقول حضرت مولانا سميع الله صاحب دامت بركاته وفيوضاته (صدر مدرس دار العلوم مدينة العلوم باجوړ ايجنسى)

بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله الكبير والصلوة والسلام على سراج المنير وعلى آله واصحابه الداعين الى خير كثير.

اما بعد: فقد طالعت بعض المواضع من التاليف لاخ فى الله المسمّٰى (**عطاء الله رحمانى**) سلمه الغنى عن شر كل غَبِيٍّ وغوىٍ فوجدتُه مأخوذًا من الشروح الكثيرة موضحًا لمسائل نحومير لان مؤلفه بذل جهده فاوضح مرادها ونافعًا للطلاب والعلماء.

اسأل الله تعالى ان يجعله للمؤلف نافعًا فى الدارين، آمين يارب العالمين

سميع الله حقانى لوى ماموند باجوړ ګلون خګی

تقريظ

تقريظ جامع المعقول والمنقول حضرت مولانا فضل حق عرف صاحب حق صاحب ديرباجوړ

ثَناءٌ لِلَّذِیْ هُوَ مُسْتَعَانٌ
رَحِیْمٌ بِالْعِبَادِ الْمُؤمِنِیْنَ
وَصَلَّیْنَا عَلٰی خَیْرِ الْبَرِیَّة
وَسَیِّدِنَا امَامُ الْمُرْسَلِیْنَ
اُبَشِّرُکُمْ بِشَرْحٍ مُسْتَطَابٍ
لِنَحْوِ الْمِیْرِ شَافِی الطَّالِبِیْنَ
عَطَاءُ اللهِ اَلَّفَهُ بِجُهْدٍ
جَزَاهُ اللهُ اَجْرَ الْمُحْسِنِیْنَ
وَقَدْ طَالَعْتُهُ فَوَجَدْتُ فِیْهِ
شِفَاءً لِلطُّلَّابِ الشَّائِقِیْنَ
اَفَادَ فَوَائِدًا فَاَجَادَ فِیْهَا
فَفِیْهِ سِقَایَةٌ لِلْعَاطِشِیْنَ
وَفِیْهِ کِفَایَةُ الطُّلَّابِ طُرًّا
وَفِیْهِ هِدَایَةُ الْمُتَعَلِّمِیْنَ
یُتَرْجِمُ بِالْفَصَاحَةِ وَالْبَلَاغَةِ

فَفِيْهِ دِرَايَةٌ لِلْعَارِفِيْنَ

اَلَى فِتْيَانِ مِنْ فِتْيَانِ عِلْمٍ

اَلَىٰ بِهِ فَتَسُرُّ النَّاظِرِيْنَ

ثَنَاءُ اللهِ قَاضٍ مِنْ كِرَامٍ

وَنُوْرُ اللهِ وَلَدُ الْمَاجِدِيْنَ

جَزَا اللهُ الْمُؤَلِّفَ بِالنَّعِيْمِ

وَاَكْرَمَهُ بِدَارِ الْمُتَّقِيْنَ

لِكُلِّ رَحْمٰنَ اَوْلَادُ كِرَامٍ

بَقَايَا مِنْ ذَرَارِ الْمُخْلِصِيْنَ

بَنُوْا دَارَ الْعُلُوْمِ وَ دَارَ رُشْدٍ

لِاِعْلَاءِ الرَّشَادِ مُجَاهِدِيْنَ

بِرَحْمَانِيَةٍ وَسُمِّيَتْ فَصَارَتْ

تُفِيْدُ جَمَاعَةَ الْمُسْتَرْشِدِيْنَ

اَدَامَ اللهُ ذَاكَ الْجُهْدُ مِنْهُمْ

وَاَكْرَمَهُمْ بِمَاوَى الصَّالِحِيْنَ

اَفَادَ بِذِى الْقَصِيْدَةِ فَضْلُ حَقٍّ

فَقِيْرٌ نَاصِحٌ لِلْخَادِمِيْنَ

احقر العباد مولانا فضل حق عرف صاحب حق صاحب

غرض دليكونكى

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى اَشْرَفِ الْاَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ ، اَمَّا بَعْدُ :

اګرچه تصنيف کول دلويو علماؤ کار دي، ليکن څه ملګرو په مشوره باندې د نحومير شرحې ته په پښتو ژبه کښې ليکلو ته تيار کړم، بل طرفته دَ نحومير شروح په هره ژبه کښې خصوصاً په پښتو کښې هم موجود دي، چونکه بعضې شروحو کښې طول او په بعضو کښې اختصار وو، بنده اراده وکړه چه ددغې شرحې ته يوه خلاصه شرح جوړه کړي، الله تعالى دې توفيق راکړي، آمين ، ثم آمين ، څکه چه ما په «خير الامور اوسطها» باندې عمل وکړى

مختصر تعارف دبنده :

بنده عطاء الله رحمانى بن حضرت مولانا ګل رحمٰن مرحوم نور الله مرقده ، ساکن ناوګئ باجوړ ايجنسى ، فاضل دار العلوم کراچى ، سنه ۱۳۹۲هـ دَ تقريباً څه کم پنځوس کاله نه وړاندې والد ماجد نور الله مرقدهٗ او عم امجد حضرت مولانا عبد الحليم نور الله مرقدهٗ چه فراغت حاصل کړو ، نو په خپل

کلي ناوګئ کښې یې یوه عظیمه درسګاه دعلومو ... په کړه چه دهر طرف نه ورته طالبان راروان شو .لکه بدخشان. تګاؤ. نورستان. کوه دامان. کنړ وغیره. دا هغه وخت و چه دلته دحکومت پاکستان هیڅ اثر نه وو. خو الله پاک دانسان ټولې ارزوګانې نه پوره کوی، اوتدبیرهم دتقدیر مخه نشی نیولې

مَا كُلُّ مَا يَتَمَنَّى الْمَرْءُ يُدْرِكُهُ

تَجْرِي الرِّيَاحُ بِمَا لَا تَشْتَهِي الْفُسُ

څه ناپوه ملایان پیدا شو . قامونه دباجوړ اومهمندو یې را اوچت کړل. مدرسه یې ورانه کړه.

وہی ہوتا ہے جو منظور خدا ہوا ہے

دغه حالات جدا یو کتاب دې . انشاء الله تعالی څه وخت کښې به هغه هم وجود ته راشي.

بنده څه اسباق والد ماجد سره اوڅه په نورو مختلفو مدارسو کښې ویلی دی، آخری دوره حدیث یې په دار العلوم کراچی کښې وکړه

فراغت نه وروسته په دارالعلوم رحمانیه کښې چه دوالد ماجد په حیاة مبارك کښې یې بنیاد دوباره کیښودې شوې وو. خدمت اودرس، تدریس کوی . الله تعالی دې په خپل دربار کښې قبول اومنظور کړی (آمین، ثم آمین)

دنحو مير دمصنف حالات

نام او نسب: علي بن محمدبن علي، كنيت ابو الحسن. د نسب په لحاظ سره سيّد وو، ځکه ورته سيّد شريف سيّد سند وئيلې شي، اومیرصاحب ورته هم ويلې شي، ددغې وجهې نه بعضي کتابونه دده هم په دغه نوم سره مشهور دي، لکه نحومير، مير ايساغوجي، میرقطبي وغيره شو.

تاريخ پيدايش:

۷۴۰ هـ ۱۲ شعبان المعظم، طوغو کلي د جرجان په علاقه کښې پيدا شوې دې، ځکه ورته جرجاني هم وايي.

علمي مقام: دقرآن کريم ترجمه په فارسي کښې دټولو نه اول دوئ ليکلې وه، د پنځه سوه (۵۰۰) نه زيات کتابونه يي ليکلي وو، چه بطور مثال دهغه ديو څو مشهورو کتابونو نمونه دادي: (۱) ترجمه قرآن بزبان فارسي (۲) حاشيه بيضاوي (۳) حاشيه مشکوة (۴) حاشيه مطول (۵) حاشيه هدايه وغير وغيره، دده اکثر کتابونه په درس نظامي کښې شامل دي.

تاريخ وفات:

۶ ربيع الاول. سنه ۸۱۶ هـ. په شيراز کښې وفات شو. عمر يي (۷۵) کاله (۷) مياشتې (۱۴) ورځې وو. بروز چهارشنبه.

مقدمه

هرطالب علم چه په یو علم کښ شروع کوی نو دَ هغه دپاره درې شیان پیژندل لازمی دی : (۱) تعریف دعلم، (۲)موضوع دَعلم، (۳) غرض دعلم.

۱ــ **معنی لغوی دنحوِ** : نحو په لغت کښ په ډیرو معانیو سره راځی : (۱) قصد، (۲) طرف، (۳)مِثل، (۴) نوع، (۵) طریق، (۶) فصاحت.

دعلم نحو اصطلاحی تعریف : هو علم باصول یعرف بها احوال اواخرالکَلِمِ الثلاثِ من حیث الاعراب والبناء وکیفیة ترکیب بعضها مع بعض.

(**ترجمه**) : دا علم نحو یو علم دې چه په قواعدو ددې سره پیژندلې کیږی هغه احوال د اواخرو دکلمو دریو ((یعنی اسم، فعل، حرف)) دحیثیت د اعراب او بنا نه، او پیژندلې کیږی په هغې سره طریقه دترکیب دَبعضې کلمو د بعضې نورو سره.

سوال : تعریف لره ولې پیژندل ضروری دی ؟

جواب : که تعریف دعلم څوک ونه پیژنی نولازم به شی طلب دمجهول مطلق او طلب دمجهول مطلق باطل دې.

۲ــ **موضوع دعلم نحوِ** : کلمه او کلام دې.

موضوع په لغت کښ وضع ((یعنې کیښودلو)) ته وایی، او

په اصطلاح کښې «مايبحث فيه عن عوارضه الذاتية» ته وايي، او په علم نحو کښې هم بحث کولي شي د عوارضو ذاتيه وو د کلمې او کلام نه

سوال موضوع پيژندل ولې ضروري دی

جواب: که موضوع ونه پيژنې نو تميز به رانشي ديو علم دبل علم نه

۳ ـ غرض دعلم نحو: «صيانة الذهن عن الخطأ فى كـلام العرب»، يعنې بچ والې دذهن دې دخطأنه په کلام دعربو کښې. يعنی چه دعربو په وينا کښې نه خطاکيږی

سوال: غرض پيژندل ولې لازمی دی

جواب: که غرض خوك ونه پيژنې نو کوشش او سعې به يې عبث لاړه شي، وكلُّ عَبَثٍ حَرَامٌ

خطبه دکتاب

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ، وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَآلِهٖ اَجْمَعِیْنَ ، اَمَّا بَعْدُ :

ترجمه په برکت دنوم دالله تعالی سره چه عام مهربان او خاص مهربان دي. زه دا کتاب شروع کوم

ټول ثنا اوصفت دخدایی توب خاص الله تعالی لره دی. چه پالونکي دټولو مخلوقاتو دي،او ښه انجام دآخرت چه دي خاص نیکانو لره دي. سلامتی دي وي په هغه غوره دمخلوق باندي چه نوم يي پاك محمد (صلی الله علیه وسلم) دي. او دهغه په آل باندي هم او په ټولو اصحابو باندي دي هم وی پس د دغه دریو خبرونه

تشریح سوال بسم الله سره مصنف ولې شروع وکړه؟

جواب مصنف ابتداء وکړه په بسم الله سره ددې دپاره چه موافقت يې راشي د کتاب الله سره، اوحدیث مشهور سره او له کتابونو دسلف صالحینو سره. حدیث مشهور : «كُلُّ اَمْرٍ ذِیْ بَالٍ لَمْ يُبْدَءْ فِيْهِ بِبِسْمِ اللّٰهِ فَهُوَ اَبْتَرُ اَوْ اَقْطَعُ»، یعنی هر یو نیك كار چه دالله تعالی په نوم سره شروع نه شی نو هغه بې برکته وی

﴿الله﴾ علَمْ دي دپاره دذات دَ واجب الوجود چه مستجمع دي جميع صفات دكمال لره

﴿الرَّحْمٰن﴾ صيغه دصفت مشبه ده په وزن دفعلان سره په معنى دفاعل سره.

﴿الرَّحِيم﴾ رحيم هم صيغه دصفت مشبه ده په وزن د فعيل سره، په معنى دفاعل سره.

سوال: ((رحمٰن)) یی ولی مقدم کړو په رحیم باندې؟

۱ــ **جواب**: په ((رحمٰن)) کښې حروف ډير دى درحيم نه ((والعزة للتكاثر)).

۲ــ **جواب**: ((رحمٰن)) اخص اللفظ اعم المعنى دې. او ((رحيم)) اعم اللفظ، اخص المعنى دې.

فرق په مينځ د ((الرَّحمٰن)) او ((الرَّحِيم)) كښې معنًى

۱ــ ((الرحمٰن)) دټولو خلقو سره تعلق لري او ((الرحيم)) خاص مسلمانانو سره تعلق لرى

۲ــ ((رحمٰن)) دنعمتونو وركولو په معنى دلالت كوى او ((رحيم)) دمصيبتونو او عذابونو په دفع كولو باندې دلالت كوى.

۳ــ ((رحمن)) د دنيا دنعمتونو سره تعلق لرى او رحيم دآخرت دنعمتونو سره تعلق لرى

۴ــ ((رحمن)) په وسعت رحمت باندې دلالت كوى او ((رحيم)) په لزوم رحمت باندې دلالت كوى

۵ ـ ((رحمٰن)) په لویو نعمتونو باندې دلالت کوي او ((رحیم)) په وړو نعمتونو باندې دلالت کوي.

۶ ـ ((رحمٰن)) د آسمانو والا سره تعلق لري او ((رحیم)) دځمکې والا سره تعلق لري.

۷ ـ ((رحمٰن)) هغه ذات دې چه سوال ترې وشي نو ورکوي او ((رحیم)) هغه ذات دې چه سوال ترې ونه شي نو هم ورکوي.

۸ ـ ((رحمٰن)) دلالت کوي په کثرت د افرادو باندې او ((رحیم)) دلالت کوي په تکرار د رحمت باندې.

﴿الحمد لله﴾ (حمد) په لغت کښ: ((اَلثَّنَاءُ بِالْجَمِیْلِ الاِخْتِیَارِی)) ته وائي، او په فارسی کې ترې تعبیر کیږي په (ستودن او ستایش کردن) سره، او په پښتو کې هغې ته (ستاینه کول) ویلې شي.

اوپه اصطلاح کښ: هوثناء الله تعالی باسمائه وصفاته عقیدةً اوقولاً اوعملاً ماثبت بالقرآن والحدیث.

﴿لله﴾ لام دپاره داختصاص دې او دا لفظ (الله) یې ددې وجهې نه راوړو چه حمد خو صفتونه دی او دصفتونو دپاره موصوف ذات وی او الله اسم ذات دې، اوبله وجه داده چه په نورو نومونو کښ دمعنی لغوی په لحاظ سره احتمال دشرکت کیدې شی اولفظ دالله تعالی کښ هیڅ احتمال دشرکت نشی کیدې

سوال: (الحمدلله) یې ذکر کړو، نو (سبحان الله) یا (الشکر

لله) یا (المدح لله) یې ولې ذکر نکړو

جواب (الحمدلله) ددې ټولو کلماتو نه عام او افضل دې. ځکه اثبات دصفتونو ثبوتیو په الحمدلله کښې داخل شو. او په حدیث شریف کښې هم دیته اشاره ده چه ((سبحان الله نصف المیزان والحمدلله تملأه)) یعني د سبحان الله ثواب نیمه تله دمیزان ډکوي او الحمد لله ټوله تله دمیزان ډکوي. دغه شان الحمدلله غوره دې د (الشکرلله) نه په ډیرو وجوهو سره: اول داچه شکر دالله تعالی چه اداء کیږي نو بهتره طریقه دهغې الحمدلله وئیل دي. دویم داچه دشکر په معنې کښې مقابله دنعمت ضروري ده او حمد عام دې که دنعمت په مقابل کښې وي او که نه وي. دارنګه حمد دمدحې نه غوره دې د ډیرو وجوهو نه: اول دا چه حمد مختص دې په ژوندو پورې. او مدح خو دمړو او جماداتو هم کیږي، او الله تعالی خو همیشه ژوندې دې، دویم داچه اطلاق دمدحې په امورو غیر اختیاریو باندې هم کیږي او حمد په امورو اختیاریو پورې خاص دې او دالله تعالی صفتونه ټول اختیاري دي، نو معلومه شوه چه ذکرکول د کلمې دالحمد لله غوره دي.

﴿رَبِّ الْعَالَمِيْنَ﴾ (رب) صیغه دصفت مشبه ده، د تربیت نه. یا مصدرمبنی للفاعل دې. او تربیت په اصل کښې: ((انشاء الشيئ حالاً فحالاً الی حد التّمام)) ته وئیلې شي (راغب). او دغسې ((تبلیغ الشيئ الی کماله شیئًا فشیئًا)). (بیضاوي)

رب) په لغت عربي کښې ډېرو معانیو لپاره راځي . مثلا مالك. سیّد، حاکم. انتظام کوونکې . اصلاح کوونکې. جمع کوونکې، پالنه کوونکې، معبود . وغیره لسان العرب. قاموس)

﴿الْعَالَمِیْنَ﴾ جمع دعالم ده .عالم په لغت کښې هغه څیز ته وئیلې شي چه بل څیز پرې معلومیږي. یعنی علامت. او په عرف عام کښې دالله تعالی نه سوا ټولو څیزونو ته عالم وئیلې شي. لکه : ملائك، انسانان، پیریان، حیوانات، جمادات، نباتات، آسمانونه، ځمکې وغیره، وغیره.

سوال : هرکله چه عالم (مفرد) ټول ماسو الله ته وئیلې کیږي نو بیا دَ جمع صیغه راوړل څه فائده لري.

جواب : هرکله چه په ماسوی الله کښې ډېر اجناس دَ عالم دي، لکه : عالم اعلی، عالم اسفل. عالم الحیوانات. عالم النباتات. وغیره، وغیره ، نو دتعمیم دپاره یې دا لفظ په صیغه دجمعې سره ذکر کړو.

﴿لِلْمُتَّقِیْنَ﴾ جمع دمتقی ده، معنی یې داده هو الذی یتقی عن الشرك وعن المعاصی کلها.

﴿وَالصَّلٰوةُ﴾ لغوی معنی یې دعا. رحمة . استغفار، تسبیح . وغیره دی.

اوپه اصطلاح کښې : عبارت دې دارکانو مخصوصه وو نه

په اوقات مخصوصه کښې لکه قیام، رکوع، قرأة، سجده، وغیره شو. په پنځه وختونو دمانځه کښې. دلته یې معنی ده نزول درحمت کامله دالله تعالی دطرف نه

﴿مُحَمَّدٍ﴾ صیغه داسم مفعول، باب تفعیل دتحمید نه دې

﴿وَآلِهِ اَجْمَعِیْنَ﴾ (آل) په دوه قسمه دې (۱) آل نسبي، (۲) آل حسبي. لکه دا قول دنبی علیه الصلوة والسلام: کُلُّ تَقِيٍّ وَنَقِيٍّ فَهُوَ آلِيْ.

سوال: دأهل او آل په مینځ کښې څه فرق دې.

جواب: (۱) (آل) استعمالیږي په اشرافو کښې او (اهل) استعمال کیږي په اشرافو او ارذالو دواړو کښې.

سوال: (آل) خو دفرعون په باره کښې استعمال شوې دې نو هغه خو شریف نه ؤ.

جواب: شرافت په دوه قسمه دې: یو دنیاوي اوبل أُخروي، اوفرعون ته شرافت دنیوي حاصل وو. (واغرقنا آل فرعون)

(۲) دویم فرق دادې چه (آل) کښې مضاف الیه په حکم دمضاف کښې داخل وي، او (اهل) کښې مضاف الیه په حکم دمضاف کښې داخل نه وي، لکه (واغرقنا آل فرعون) یعني فرعون هم غرق شو.

﴿اَمَّا بَعْدُ﴾ (امّا) حرف شرط دې، بدان ورله جزاء ده (بعد) اسم ظرف دې، قانون په اسم ظرف کښې دادې چه دې به همیشه مضاف وي، خو دده درې حالتونه دي، په یوحالت

کښې مبنی او په دوه حالتونو کښې معرب وی

(۱) که مضاف الیه په عبارت کښې نه وی او په نیت کښې وی نو مبنی په ضمې سره وی.

(۲) او که مضاف الیه په عبارت کښې وی نو معرب وی

(۳) که مضاف الیه په عبارت کښې هم نه وی او په نیت کښې هم نه وی نو بیاهم معرب وی.

بدان ارشدك الله تعالى

پوهه شه نیک بخت دې کړی تالره الله تعالی

سوال: چه بدان یې وئیلو نو ولې یې اعلم نه وئیلو؟

جواب: (اعلم) لفظ عربی دې او دا کتاب دفارسی دې نو ځکه مصنف علیه الرحمةؒ په اول کښې لفظ دفارسی راوړلو.

سوال: د (بدان) لفظ یې په فارسی کښې ذکر کړو، او دعاء (ارشدك الله تعالى) یې په عربی کښې وه ویله. نو دعاء ب بی هم په فارسی کښې وئیلې وه.

جواب: دعاء یې په عربی کښې ځکه ذکر کړه چه اصل دعاء په عربی ژبه کښې بنه قبلیږی.

سوال: داخو صیغه دماضی ده او معنی یی دمضارع کوې، دلته صیغه دمضارع پکار ده.

جواب: دا مقام د دعاء دې او په جمله دعائیه کښې ماضی په معنی دمضارع سره په ډیرو ځایونو کښې راغلې ده.

که این مختصر ایست مضبوط در علم نحو که مبتدی را

چه دا یو مختصر کتاب دی لیکلی شوی دی په علم نحو کښې چه نوی شروع کوونکی ته

بعد از حفظ مفردات لغت ومعرفت اشتقاق و ضبط

پس د یادولو د مفرداتو دلغت نه او پس د جوړولو د الفاظو د پیژندلو نه او یادولو

مهمات تصریف بآسانی بکیفیت ترکیب عربی راه نماید

د ضروری مسائلو د صرف نه په آسانئ سره په طریقه د ترلو د عربی الفاظو نه لاره ښائی

وبه زودی درمعرفت اعراب وبناوسوادخواندن توانائی

او زرترزره په پیژندلو دَ معرب او د مبنی کښې او د عبارت لوستلو کښې طاقت

د هد، بتوفیق الله تعالی و عونه

ورکوی داخبره مکمل د الله تعالی په توفیق او د هغه په مدد سره کیږی

تشریحات

مختصر: صیغه د اسم مفعول د باب افتعال نه دی. په لغت کښې کوتاهی ته ویلې کیږی. او په اصطلاح کښې «اداء المطالب الکثیرة بالفاظ قلیلة».

مضبوط: صیغه د اسم مفعول ده. معنی یی محفوظ. مکتوب ده.

مبتدی: صیغه د اسم فاعل د باب افتعال نه ده. معنی لغوی یی «نوی شروع کوونکې». او په اصطلاح کښې: «هو الذی شرع فی اول جزء من الشیئ مع قصد تحصیل باقی الاجزاء».

لغت: په لغت کښې «نطق» ته وایی او په اصطلاح کښې:

((مایعبر کل قوم عن اغراضهم)) او صیغه د مصدر ده

اشتقاق په لغت کښې پاره کردن ته وایی، او په اصطلاح کښې ((ان تجد بین اللفظین مناسبةً فی اللفظ والمعنی))

تصریف په لغت کښې تغیر ته وائی او په اصطلاح کښې ((هو تحویل لفظ واحد الی الفاظ متعددة بحسب الزمان والمکان))

فصل : بدانکه لفظ مستعمل درسخن عرب بردوقسم

دا فصل دي ، پوهه شه ای طالبجانه چه لفظ مستعمل په ژبه د عربو کښې هغه په دوه

است مفرد، لفظی باشد تنهاکه دلالت کندبریك معنی

قسمه دي یو مفرد دي ، هغه لفظ دي چه دلالت کوی یوازې په یوه معنې باندې

وآن راکلمه گویند وکلمه برسه قسم است اسم چون

او هغې ته کلمه وایی ، بیا کلمه په درې قسمه ده ، اسم دې ، لکه رجل

رجل و فعل چون ضرب و حرف چون هل

، یعنې سړې ، او فعل لکه ضرب ، یعنې وهل وکړه یو سړي ، او حرف لکه ((هل)) شو

چنانکه در تصریف معلوم شده است

معنی دا شوه چه دا په علم صرف کښې معلوم شویدی

فصل : په لغت کښې قطع ته وائی او په اصطلاح کښې ((قطعة من القرطاس مشتملة علی مسائل العلم علماً بالاجمال))

لفظ : په لغت کښې ((رمی)) ته وائی او په اصطلاح کښې : ((مایتلفظ به الانسان)) ته وئیلې شي.

مستعمل : صیغه د اسم مفعول ده، معنی یی داده چه

مستعمل کړې شوې

مفرد صیغه د اسم مفعول دباب افعال دافراد نه دې.

مرکب صیغه د اسم مفعول دَ بَاب تفعیل دترکیب نه ده.

سوال مستعمل دې چه وونیلو نودچا نه دې احتراز وکړو.

جواب: احتراز مو دغیر مستعمل نه وکړو، ځکه چه نُحاة دهغې نه بحث نکوی.

سوال: (درسخن عرب) کښې د (عرب) قید بې فائدې دې ځکه چه الفاظ خو په نوروژبو کښې هم مستعمل دی.

جواب: دا قید احترازی ندې بلکه مقصود زما ددې کتاب نه صرف دعربو الفاظ صحیح کول دی، ځکه مصنف رحمه الله قید دعربی ولګولو چه خپل اصل مقصد معلوم شی.

اسم: په لغت کښې نوم ته وائی او په اصطلاح کښې دا هغه کلمه ده چه فی نفسه په خپله معنی دلالت کوی، او د درې زمانونه په یوې پورې هم تعلق نه لری، لکه رَجُلٌ شو.

فعل: په لغت کښې حدث ته وایی او په اصطلاح کښې دا هغه کلمه ده چه فی نفسه په خپله معنی دلالت کوی او د درې زمانونه دیوې زمانې سره تعلق لری، لکه ضَرَبَ شو.

حرف: په لغت کښې طرف ته وائی او په اصطلاح کښې هغه کلمه ده چه په خپله معنی ورکولو کښې بلې کلمې ته محتاج وی، لکه (هل) شو.

اما مرکب لفظی باشد که از دو کلمه یا بیشتر حاصل
هرچه مرکب دی نو دا هغه لفظ دی چه د دوه یاد زیاتو کلمونه

شده باشد ومرکب بر دو گونه است. مفید وغیر مفید
جوړ وی ، بیا مرکب په دوه قسمه دی ، مرکب مفید او مرکب غیر مفید.

مفید آنست که چون قائل برآن سکوت کند سامع را
مرکب مفید هغه ته وائی چه ویونکی په هغې چپ شی نو اوریدونکی ته

خبری، یا طلبی معلوم شود وآن را جمله گویند
خبر که جمله خبریه وی یا طلب که جمله انشائیه وی معلوم شی او هغه ته جمله وایی

وکلام نیز. پس جمله بردوقسم است خبریه وانشا ئیه
او کلام هم وائی. بیا جمله په دوه قسمه ده ، خبریه ، انشائیه

مرکب: په لغت کښ جوړ کړي ته وائی او په اصطلاح کښ چه دَ دوه کلمو یا زیاتو نه جوړ شوې وی.

مفید: صیغه د اسم فاعل ده دباب افعال د (اَفَادَ) نه دې.

قائل: صیغه د اسم فاعل ده په معنی د ویونکی سره.

سکوت: مصدر دې د دثلاثی مجرد دباب (نَصَرَ) نه.

سامع: صیغه د اسم فاعل ده دباب (سَمِعَ) نه ثلاثی مجرد.

خلاصه

لفظ په دوه قسمه دې: مفرد اومرکب، او مفرد په درې قسمه دې: اسم، فعل، حرف، او مرکب په دوه قسمه دې: مفید اوغیر مفید ، اوبیا مفید په دوه قسمه دې: یو انشائی

او بل خبري دي

سوال: مرکب مفید ولې مقدم شو په مرکب غیر مفید باندې

جواب: ځکه چه مرکب مفید اصل دې او اصل مقدم وي په غیر اصل باندې، ځکه اصل دې چه مرکب مفید مقید دې په فائدې تامې پورې نو مرکب تام ورته هم وائی او غیر مفید ته مرکب ناقص هم وائی.

سوال: جمله ولې په دوه قسمه شوه.

جواب: دا جمله به خالي نه وي یا به احتمال دصدق او کذب پکښې وي او یا به نه وي، که احتمال دصدق او کذب پکښې وو دا جمله خبریه شوه، او که نه وو دا جمله انشائیه شوه

فصل: بدانکه جمله خبریه آن است که قائلش را

دا فصل دې ،پوهه شه ای طالبه ، جمله خبریه هغه ده چه قائل دَ قول ددې

بصدق وکذب صفت توان کرد وآن بر دونوع است،

په صدق او کذب باندې صفت د هغې کیږي دا بیا په دوه قسمه ده

اول آنکه جزء اولش اسم باشد وآن را جمله اسمیه

اول هغه ده چه جزء اول ددې اسم وي ، هغې ته جمله اسمیه

گویند چون زَیْدٌ عَالِمٌ یعنی زید دانا است جزء اولش

وائی ، مثال لکه زید عالم ، معنی زید پوه دې ، جزء اول دَجملې

مسند الیه است وآن را مبتداء گویند وجزء دوم

مسند الیه دې چه دیته مبتداء وائی او جزء دویم ددې

مسند است وآن را خبر گویند دوم آنکه جزء اولش

مسند دي او دېته خبر وائي. دويم قسم هغه دي چه جزء اول دجملې

فعل باشد وآن را جمله فعلیه گویند چون ضَرَبَ زَیْدٌ

فعل وی او هغې ته جمله فعليه وايې مثال ضَرَبَ زَيْدٌ يعنى

بزد زید ، جزء اولش مسند است وآن را فعل گویند

وهل کړيدی زيد ، جزء اول ددې مسند دې او دېته فعل هم وائی

وجزء دوم مسند الیه است و آن را فاعل گویند

او جزء ثاني ددې مسند اليه دې او دېته فاعل هم وائی

بدانکه: مسندحکم است ومسندالیه آنچه براوحکم کنند

پوهه شه ای طالبه چه مسند حکم دي. او مسند اليه هغه دي چه په ده حکم کوی یا دېته

واسم مسندومسند الیه تواند وفعل مسند باشد ومسند

حکم کیږي، او اسم مسند او مسند اليه دواړه راتلي شي او فعل مسند راتلي شي او مسند

الیه نتواند بود وحرف نه مسند باشد و نه مسند الیه

اليه نشي راتلي او حرف نه مسند راتلي شي او نه مسند اليه راتلي شي.

صدق: صيغه دمصدر دباب نَصَرَ نه ده.

كذب: صيغه دمصدر دباب ضَرَبَ نه ده.

مسند: صيغه داسم مفعول دباب افعال داسناد نه ده داسناد معني نسبت ده.

دجمله خبريه تعريف: جمله خبريه هغې ته وئيلې شي چه

ویونکی ته ئی رشتونې او یا دروغژن ووئلې شی، یعنې کله چه دَ جملې ویونکې دچا حکایت بیانوی کچرې دا خبره په حقیقت کښې صحیح وی نو قائل ته به صادق وئیلې شی، او کچرته دَحقیقت نه خلاف وو نو قائل ته به کاذب وئیلې شی. مثلاً لکه چه چا ووئیل چه «زَیْدٌ عَالِمٌ» نو دا جمله خبریه ده. نو که په واقع کښې زید عالم وو نو قائل ته به یې صادق وئیلې شی، او که زید عالم نه وو بلکه جاهل وو، نوقائل ته به یې کاذب وئیلې شی.

جمله خبریه په دوه قسمه ده: ۱ ــ جمله اسمیه: هغې ته وائی چه اول جزء یې اسم وی، لکه: «زَیْدٌ عَالِمٌ» شو.

۲ ــ جمله فعلیه: هغې ته وائی چه اول جزء یې فعل وی. لکه: «ضَرَبَ زَیْدٌ» شو.

دمسند او مسند الیه تعریف: کوم څیز چه دیوبل څیز سره اولګولې شی دغه لګولې شوی څیز ته مسند اوحکم وائی، اوچه دچا سره چه یو څیز اولګولې شی یا چه په چا باندې د یوبل څیز حکم اوکړې شی، نوهغې ته مسند الیه اومحکوم وائی، مثلاً: «زَیْدٌ عَالِمٌ» دلته زید مسند الیه اوعالم مسند دې.

فائده: اسم مسند اومسند الیه واقع کیږی، فعل مسند واقع کیږی او مسند الیه نه واقع کیږی، اوحرف نه مسند واقع کیږی او نه مسند الیه واقع کیږی، بلکه صرف اوصرف دبل د ملګرتیا د وجهِ نه کار کوی.

سوالات

سوال: مصنف ووئيل چه جمله خبريه ديته وائى چه قائل ددې په صدق او كذب باندې متصف كيږى نو صدق او كذب په يو كلام كښې داغير معقول دى، ځكه چه دواړه ضدين دى. يابه صدق وى او يابه كذب وى.

۱- **جواب**: دلته واو په معنى د (او) سره دې، تقدير دعبارت داسې شو چه (قائلش را بصدق او كذب صفت توان كرد ـ الخ)

۲- **جواب**: جمله خبريه احتمال دصدق اوكذب دواړو لرى لكه يو سړې وائى چه ((زَيْدٌ عَالِمٌ)) نو دا احتماد قيام او عدم قيام دواړو لرى.

سوال: جمله خبريه په جمله انشائيه ولې مقدم شوه.

جواب: جمله خبريه اصل ده په نسبت سره جمله انشائيه ته او اصل مقدم وى په فرع باندې.

سوال: مصنف رحمه الله ووئيل چه اسم مسند او مسند اليه واقع كيږى اوفعل مسند واقع كيږى او مسند اليه نه واقع كيږى، زه به درته وښايم چه فعل به هم مسند اليه واقع شوې وى، لكه: ((اَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ)) ځكه چه (ان تصوموا) فعل دې اومسند اليه واقع شوې دې، ځكه چه مبتداء ده، دغه شان نور مثالونه هم شته دى.

جواب: دغه هم اسم دې حكمًا تاويلاً، يعنى (ان تصوموا) به معنى د (صيامكم) سره دې.

بدانکه: جمله انشائیه آنست که قائلش را بصدق
پوهه شه ای طالبه . چه جمله انشائیه هغه ده چه دهغې قائل په صدق

وکذب صفت نتوان کرد و آن بر چند قسم است ،
او په کذب سره صفت نه کیږی ، دغه جمله انشائیه په څو قسمه ده.

امر چون اِضْرِبْ و نهی چون لَاتَضْرِبْ
(۱) امر مثال (اضرب) یعنی وهل وکړه ته (۲) نهی ، مثال (لاتضرب) یعنی وهل مه کوه ته

واستفهام چون هَلْ ضَرَبَ زَیْدٌ و تمنی
(۳) استفهام ، مثال (هل ضرب زیدٌ) یعنی آیا وهل کړیدی زید (۴) تمنی .

چون لَیْتَ زَیْدًا حَاضِرٌ و ترجی چون
مثال (لیت زیدا حاضر) یعنی کاش یاارمان چه زید حاضر وي (۵) ترجی . مثال

لَعَلَّ عَمْرًا غَائِبٌ و عقود چون
(لعل عمراً غائبٌ) ، یعنی شاید چه عمر غائب وی (۶) و عقود ، مثال

بِعْتُ وَاشْتَرَیْتُ و نداء چون یا الله
(بعت واشتریت) یعنی خرڅ کړه ما . واخسته ما ، (۷) ونداء ، مثال (یا الله) شو

وعرض چون اَلَا تَنْزِلْ بِنَا فَتُصِبْ خَیْرًا
(۸) عرض ، مثال ((الاتنزل بنا فتصیب خیراً)) ، یعنی آیا ته مونږ ته نه راکوزیږي
چه ته به ورسیږې خیر ته

و قسم چون وَ اللهِ لَاَضْرِبَنَّ زَیْدًا
(۹) قسم ، مثال ((والله لاضربن زیداً)) ، یعنې خما دې په خدای باندې قسم وی

چه زه به خامخا زید وهم

و تعجب چون مَا اَحْسَنَهٗ واَحْسِنْ بِه

(۱۰) او تعجب، مثال «ما احسنه واحسن به»، یعنی څه شی ښائسته کړی دی زید لره او ښائسته شوی دی په دی سره

انشاء: په لغت کښې ایجاد د مالم یوجد ته وائی. یعنی پیدا کول دَهغه شی چه موجود نه وی. یعنی متکلم یې پیدا کوی، او معنی اصطلاحی یی په متن کښې ذکرشویده

جمله انشائیه بیا په لس قسمه ده: (۱) **امر**: په لغت کښې حکم کولو ته وائی، او په اصطلاح کښې: «هُوَصِیْغَةٌ یُطْلَبُ بِهَا الْفِعْلُ مِنَ الْفَاعِلِ الْمُخَاطَبِ» مثال لکه (اِضْرِبْ) شو، ضمیر پکښې مستتر دی چه تعبیر ترینه په انت سره کیږی هغه یې فاعل شو، فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه انشائیه شوه.

(۲) **نهی**: په لغت کښې منع کولو دکار ته وائی، او په اصطلاح کښې هغه فعل دی چه په هغې سره طلب دترک دفعل کولې شی دفاعل نه، لکه مثال: «لَاتَضْرِبْ» شو، ضمیر پکښې مستتردی چه تعبیر ترینه کیږی په (انت) سره هغه ورله فاعل شو. فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه انشائیه شوه

(۳) **استفهام**: لغوی معنی یې طلب دفهم دی، او په اصطلاح کښې: «هُوَ اِسْمٌ مُبْهَمٌ یُسْتَفْهَمُ بِهٖ عَنْ شَیْءٍ»، یعنی متکلم دمخاطب نه نامعلوم اشیاء معلومول غواړی، مثال:

(هل ضرب زیدٌ)، یعنی آیا زید وهل کړیدی؟، (هل) حرف استفهام غیرعامل دې (ضرب) فعل (زید) یې فاعل شو. فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه انشائیه استفهامیه شوه

(۴) **تمنی** په لغت کښ دخه شی آرزو او ارمان کولو ته وائی. او په اصطلاح کښ آرزوکول دیو کار دحصول دی په طریقې دمینې اومحبت سره. لکه مثال ((لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ))، یعنی کاش چه زید حاضر وې، (لیت) حرف دې دحروف مشبه بالفعل نه، اسم منصوب اوخبر مرفوع غواړی، نو (زید) ورله اسم شو او (حاضر) ورله خبر شو، نو لیت سره د اسم او خبر نه جمله اسمیه انشائیه تمنائیه شوه.

(۵) **تَرَجِّی** په لغت کښ امید کولوته وائی او په اصطلاح کښ امید کول دحصول دیو شی ممکن بعید الوقوع ته وایی، که په طریقه دمحبت سره وی اوکه نه وی، مثال لکه: (لَعَلَّ عَمْرًوا غَائِبٌ)، یعنی امید کوو چه هلته عمرو غائب دې، (لعل) حرف دې دحروف مشبه بالفعل نه، اسم منصوب اوخبر مرفوع غواړی، نو (عمرو) ورله اسم شو، او (غائب) ورله خبر شو، فعل سره د اسم او سره دخبر نه دا جمله اسمیه انشائیه ترجیه شوه

فائده په مابین دتمنی او ترجی کښ دوه فرقه دی:

۱- دتمنی استعمال صرف په محبوبو اشیاؤ کښ راځی، او ترجی عام ده، په محبوب اوغیرمحبوب دواړه قسمه

اشیاؤ کښې استعمالیږي
۲ـ دتمني استعمال په ممکناتو او غیرممکناتو دواړو کښې کیږي او دترجي استعمال صرف په ممکناتو کښې کیږي
(۶) **عقود** جمع دعقد ده او عقد په لغت کښې غوټه کولو ته وائي، او په اصطلاح کښې عقود هغه الفاظ دي چه زیات تر استعمال یې په تجارت کښې کیږي، لکه (بِعْتُ)،یعني ما خرڅ کړو (اِشْتَرَیْتُ)،یعني ما واخستلو، اګرچه دا دواړه الفاظ دماضي دي لیکن استعمال یې په مضارع کښې کیږي.
((**بِعْتُ**)) صیغه دواحد متکلم ماضي ده، ضمیر پکښې مستتردې چه تعبیر ترینه کیږي په (انا) سره هغه ورله فاعل شو، فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه معطوفه علیه شوه (واو) حرف عطف (اشتریت) صیغه دواحد متکلم فعل ماضي ضمیر پکښې مستتردې چه تعبیر ترینه کیږي په (انا) سره هغه ورته فاعل شو، فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه معطوفه شوه، معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله فعلیه انشائیه عقودیه شوه.
(۷) **نداء** په لغت کښې آواز کولوته وائي او په اصطلاح کښې هغه جمله ده چه په هغې سره طلب د توجه دمنادیٰ کولې شي خپل نفس ته، حروف نداء پنځهٔ دي ((یا، آیا، هیا، أی، همزه مفتوحه))، مثال لکه: ((یا الله))، (یا) حرف ندا، قائمقام د (ادعو) ادعو صیغه د واحد متکلم فعل مضارع ده ضمیر

پکښې مستتر دې چه تعبیر ترینه کیږي په (انا) سره هغه ورته فاعل شو . لفظ د (الله) يي منادی مفعول به. نو فعل سره دفاعل او سره دمفعول به نه جمله فعلیه انشائیه ندائیه شوه

(۸) **عرض** په لغت کښې پیش کولو ته وائی او په اصطلاح دنحاتو کښې هغې جملې ته وائی چه هغې سره طلب دحصول په نرمئ سره دَفعل دفاعل نه کولې شی. لکه مثال: ((اَلاَ تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِبْ خَيْرًا))، یعنې ته ولې ځمونږ نه میلمه کیږې چه خیر درته ورسی، یا خیر ته ورسې. (الاتنزبنا) جمله انشائیه ده، او (فتصب خیراً) خبریه ده، او عطف دجمله خبریه په جمله انشائیه باندې نه صحیح کیږی نو دا په تاویل د ((اَلاَ يَكُوْنُ نُزُوْلٌ مِنْكَ فَيَكُوْنَ اَصَابَةُ خَيْرٍمِنِّی)) سره ده.

(الا) حرف تنبیه (یکون) فعل دافعال ناقصه وونه اسم مرفوع او خبر منصوب غواړی، نزول ئی اسم شو (منك) جار او مجرور، جار سره دمجرور نه متعلق شو په ثابتٌ پورې، ثابتٌ صیغه د اسم فاعل ده ضمیر پکښې مستتر دې چه تعبیر ترینه کولې شی په (هو) سره هغه ورته فاعل شو، اسم فاعل سره دفاعل نه او سره دَ متعلق نه شبه جمله خبر دې دپاره د یکون. (یکون) سره داسم او سره دخبر نه جمله فعلیه خبریه معطوفه علیه (فا) حرف عطف (یکون) بیا فعل دې. (اصابة) مضاف (خیر) مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه اسم شو دیکون. په (مِنِّی) کښې (مِنْ) جار (ی) ضمیر دمتکلم

مجرور، جار سره د مجرور نه متعلق دې په ثابت پورې، (ثابت) صيغه د اسم فاعل ده ضمير پکښې مستتر دې چه (هو) دې هغه يې فاعل شو، اسم فاعل سره د خپل فاعل نه او سره د متعلق نه شبه جمله خبر شو د پاره دَيكون، (يكون) سره د اسم او سره د خبر نه جمله فعليه خبريه معطوف، معطوفة عليه سره د معطوف نه جمله فعليه خبريه معطوفه شوه.

(۹) **قسم**: په لغت کښې د کلام يو طرف په قسم باندې مضبوط کول او په اصطلاح کښې هغه جمله ده چه په هغې سره قسم کولې شي، مثال: ((وَاللهِ لَاَضْرِبَنَّ زَيْـدًا))، يعنې په خدائې قسم چه زه به زيد وهم.

(واو) حرف جاره قسميه، لفظ د (الله) ئې مجرور، جار سره د مجرور نه متعلق دې په (اقسم) پورې، (اقسم) صيغه د واحد متکلم مضارع، ضمير پکښې مستتر دې چه تعبير ترينه کولې شي په (انا)، سره هغه ورته فاعل شو، فعل سره دَ فاعل نه او سره د متعلق نه دا جمله فعليه قسميه شوه، (لاضربن) صيغه د واحد متکلم فعل مضارع ضمير پکښې مستتر دې چه تعبير ترينه کيږي په (انا)، سره هغه ورله فاعل شو، (زيد) يې مفعول به شو. نو فعل سره د فاعل نه او سره د مفعول به نه جمله فعليه جواب د قسم شو، نو فعل قسم سره د جواب قسم نه دا جمله فعليه انشائيه قسميه شوه

(۱۰) **تعجب** په لغت کښې يو کيفيت دې چه حاصليږي په

وخت د نا اشنا کار دلیدلو سره. او په اصطلاح کښې هغه جمله ده چه دهغې په ذریعه سره تعجب کولې شی په یو امر باندې.
مثال «مَا اَحْسَنَهُ وَاَحْسِنْ بِه» ددې جملې دوه ترکیبه دی
۱ ـ **عند السیبویه** (ما) موصوفه بمعنی اَیّ شیئ، په (شیئ) کښې تنوین دپاره د تعظیم دې ای اَیُّ شَیْئٍ عَظِیْمٍ، (شیئ) موصوف (عظیم) صفت مبتداء (احسن) صیغه دفعل ماضی ضمیر پکښې مستتر دې چه هغه یې فاعل دې (ه) ضمیر مفعول به شو، فعل سره دفاعل اوسره دمفعول به نه جمله فعلیه خبر دمبتداء، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه انشائیه شوه.
۲ ـ **عند الفراء**: (ما) استفهامیه (اَیُّ) بمعنی ایّ شیئ (اَیّ) مضاف (شیئ) مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه مبتداء شوه، (احسنه) ورلره خبر شو، مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه انشائیه شوه.

فصل: بدانکه مرکب غیر مفید آنست که چون قائل
دافصل دې، پوهه شه ای طالبه! چه مرکب غیر مفید هغې ته وائی چه قائل

بر آن سکوت کند سامع را خبری یا طلبی
په هغې باندې چپ شی، او اوریدونکی ته خبر کـه جمله خبریه وی یا طلب که جمله

حاصل نشود وآن برسه قسم است، اول مرکب
انشائیه وی، حاصل نه شی، دغه مرکب غیر مفید په درې قسمه دې، اول قسم مرکب

اضاف چون غلام زيد، جزء اول رامضاف گويندو جزء

اضافي دي. مثال لكه غلام زيد. يعني غلام د زيد. جزء اول ته مضاف وائي اوجزء

دوم را مضاف اليه، ومضاف اليه هميشه مجرور باشد.

دوم تــه مضاف اليه وائي. اومضاف اليه به هميشه مجرور وي

معلومه شوه چه مركب غير مفيد مركب تام نه دي بلكه ناقص دي، او سامع يې سوال كولو ته محتاج دي. مثال: واجد سوال وكړو چه (غلام زيد) نو دا خو واضحه شوه چه غلام د زيد دي نومركب مفيد ښنگه شو. مونږ جواب كوو چه دا خو معلومه شوه چه غلام د زيد دي ليكن كيفيت ئې معلوم نه دي چه ناست دي كه ولاړ دي. او كه روان دي او يا نه دي روان. نو ځكه مركب غير مفيد دي.

مركب او دمركب اقسام

مركب په دوه قسمه دي: يو تقييدي اوبل غير تقييدي.

مركب تقييدي: هغه ته وائي چه دويم جزء د اول دپاره قيد وي او غير تقييدي هغه ته وائي چه دويم جزء داول دپاره قيد نه وي، مركب تقييدي بياه په دوه قسمه دي:

(۱) **اضافي**: چه جوړ وي دمضاف او مضاف اليه نه. لكه غلام زيد شو. (۲) **توصيفي**: چه جوړ شوې وي دصفت او موصوف نه. لكه رجل عالمٌ شو.

اوغير تقييدي په درې قسمه دي: (۱) مركب بنائي (۲)

او مرکب منع صرف، ددې دواړو تعریفونه مصنف ذکر کړیدی.
(۳) **مرکب صوتی**: هغه ته وائی چه جزء ثانی یی اسم صوت وی، لکه (سیبویه) شو. ځکه چه دا په اصل کښ (سیب) او (ویه) وو، چه دعمربن عثمان شیرازی مشهور لقب دې.

دوم مرکب بنائی و او آنست که دو اسم را یکی

دویم قسمه مرکب بنائی دې. دا هغه دې چه ددوه اسمونونه یواسم

کرده باشد واسم دوم متضمن حرفی باشد چون اَحَدَ

جوړ کړې شی اودویم اسم ددې متضمن وی حرف لره لکه مثال، احد

عَشَرَ تا تِسْعَةَ عَـشَرَ که در اصل اَحَدٌ وَعَشَرٌ وَتِسْعَةٌ

عشر نه تر تسعة عشر پورې چه په اصل کښ اَحَدٌ وعَشَرٌ وو. تر تِسْعَةٌ

وَعَشَرٌبوده است، واوراحذف کرده هردو اسم رایکی

وعَشَرٌ پورې. واوحذف کړې شو نو د دواړو اسمونونه یو اسم جوړ

کردند وهردو جزء مبنی باشد برفتحه الاّ اِثْنَا عَشَرَ که

کړې شو. او دواړه جزؤنه به مبنی وی په فتحې سره مګر اثناعشر چه

جـزء اول مـعـرب اسـت.

چه جزء اول یی معرب دې ځکه نون ورنه ساقط شو.

دریم قسم مرکب بنائی دې، اومرکب بنائی دیته وائی چه دوه اسمونه سره یو کړې شی. اودویم اسم متضمن وی حرف لره. او دواړه جزئین مبنی دی. اول جزء خو ځکه مبنی دې چه په وسط کښ راغلې دې اوپه وسط کښ اعراب نشی جاری

کیدې، اودویم جزء ځکه مبنی دې چه محتاج دې حرف ته او احتیاج علامه د مبنی کیدلو ده، په دې ټولو کلمو کښې دویم اسم یعنې عشر متضمن دې حرف لره، نوچه کله ترینه مرکب بنائی جوړولې شي نو واو به د منځ نه لرې کړې شي، او ددواړو نه به یو اسم جوړ کړې شي، لکه (احد عشر).

سوال: (اثنا) ولې معرب دی.

جواب: ځکه نون ورنه ساقط شو، که دغه معرب نه وې بیا به نون په خپل حال باندې پاتې وې، مثال: (اثنا عشر) په اصل کښې (اثنان وعشر) وو، د اضافت دوجهې نه نون تثنیه وغورځیدلو، اثنا پاتې شو. (وعشر) دا مبنی دې ځکه چه دا محتاج دې حرف لره چه هغه واو دې.

سوال: دمرکب بنائی دواړه جزؤنه ولې په فتحې سره مبنی دی.

جواب: په ټولو حرکتونو کښې چونکه فتحه اخف الحرکات دې نوځکه په همدې سره مبنی شو، چه په اسانتیا سره اداء کیږی.

سوم مرکب منع صرف و او آنست که دو اسم را

دریم قسم مرکب منع صرف دې ، هغه ته وائی چه د دوه اسمونه

یکی کرده باشد واسم دوم متضمن حرفی باشد، چون

یو اسم جوړ کړې شي او اسم دوم متضمن حرف لره نه وی ، مثال لکه:

بَعْلَبَكُ وَحَضَرَ مَوْتُ که جزء اوّل مبنی باشد برفتحه

بعلبك ، اوحضر موت شو . جزء اول ددې مبنی په فتحه سره دې

بر مذهب اکثر علماء و جزء دوم معرب

په مذهب د اکثرو علماو باندې او جزء دوم یې معرب دې

بدانکه مرکب غیر مفید همیشه جزء جمله باشد چون

پوهه شه ای طالبه. مرکب غیر مفید همیشه جزء د جملې وی. مثال اول

غُلَامُ زَیْدٍ قَائِمٌ، وَعِنْدِ اَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا وَ جَاءَ بَعْلَبَكّ

غلام زید قائم. مثال دوم عندی احشد عشر درهمًا. مثال دریم. جاء بعلبك شو

((مرکب منع الصرف)) هغه ته وائی چه دذوه اسمونو نه یو اسم جوړ کړې شی خو دویم اسم متضمن نه وی حرف لره. یعنې احتیاج یې حرف ته نه وی، یعنې دهر یو جدا جدا معانی وی، خو صرف ترتیب ورکړې شوې وی په نوم یو سره. نو هغه جدا جدا معانی ختمې شی اوبله دریمه معنی جوړه شی. مثال: لکه (بعلبك) شو، (بعل) دبت نوم دې، او (بك) د بادشاه نوم وو دغه دواړه معانی ترینه ختمې شوې، بیا د یو ښار نوم شو. دغه شان (حضر موت)، (حضر) جدا نوم وو (موت) جدا نوم وو. بیا دغه دواړه جمع کړې شو او دیوې قبیلې نوم جوړ کړې شو.

دمرکب منع صرف اول جزء داکثرو علماؤ په نزد په فتحې سره مبنی دې اودویم جزء یې معرب دې خو غیر منصرف دې یعنې کسره او تنوین به پرې نه راځی. یا به پرې صرف فتحه راځی، یا ضمه لکه څنګه چه دغیرمنصرف اعراب وی.

فصل بدانكه، هيچ جمله كم تراز دو كلمه نباشد لفظاً

دافصل دی، پوهه شه ای طالبه. هيڅ یوه جمله به كمه د دوه كلمو نه نوی دغه لفظاً وی

چون ضَرَبَ زَيْدٌ وزَيْدٌ قَائِمٌ ، ياتقديراًچون اضْرِبْ كه انت

مثال ضرب زيد ، يازيد قائم ، يا به تقديراً وی لكه مثال ، اضرب شو . چه دی

دراومستتراست وازين بيشترباشد وبيشتر راحدّی نيست

كښ انت ضمیرمستتردې اوددې نه زيات وی او زياتو لره څه حد نشته دی

بدانكه : چون كلمات جمله بسيار باشد، اسم وفعل

پوهه شه ای طالبه. هركله چه كلمات دجملې زيات وی اسم وی . فعل وی

و حرف را با يكديگر تميزبايد كردن و نظر كردن كه

حرف وی. لازم ده چه دا د یوبل نه جدا كړې شی. او بیا نظر كول پكار دی چه

معرب است يا مبنی و عامل است يا معمول و بايد

دا كلمه معرب ده كه مبنی ده يا عامل ده كه معمول ده او پكار دی چه

دانستن كه تعلق كلمات با يكديگر چگونه است تا مسند

وپیژندل شی چه دتعلق دكلماتو ديوبل سره څه قسم دی. ددې دپاره چه مسند

ومسند اليه پيدا گردد ومعنی جمله بتحقيق معلوم شود

او مسند اليه پيدا شی او معنی دجملې په تحقيق سره معلومه شی.

اول مصنف دا خبره واضحه كړه چه مركب وائی ديته چه د دوه كلمونه به كم نه وی ځكه چه د دوه كلمونه كم وی هغه مركب نه دی، تعريف دمركب پرې نه صادقيږی اوجمله هم

مرکب ده نوجمله به هم ددوه کلمونه کمه نه وی، یوه کلمه به مسند وی او دویمه کلمه به مسند الیه وی. که په اعتبار د الفاظو سره حقیقةً وی اوکه تقدیراً وی، مثال داول (ضَرَبَ زَیْدٌ) ، (زَیْدٌ قَائِمٌ) او مثال دتقدیراً لکه (اِضْرِبْ) چه (انت) ضمیر پکښ مستتردې، اوجمله د دوه کلمونه زیاته هم راتلې شی، زیاتولره بیا هیڅ حد نشته دې.

په دویم بدانکه سره طالب العلم ته طریقه دپیژندلو د مسند او مسندالیه ښائی، یعنی په کلمو کښې فکر وکړه چه اسم دې اوکه فعل دې او که حرف دې، بیا ورته فکر وکړه چه مبنی دې اوکه معرب دې، بیا فکر وکړه چه عامل دې اوکه معمول دې، بیا فکر وکړه چه تعلق ددې کلمو دیوبل سره څنګه دې، ددې ټولو شیانو دفکر نه وروسته به درته ښکاره شی چه دا مسند دې او دا مسند الیه دې اومعنی به یې درته هم ښه معلومه شی.

فصل بدانکه علامت اسم آنست که الف ولام یاحرف

دافصل دې.پوهه شه ای طالبه.علامات داسم هغه دی چه(۱)الف لام یا(۲)حرف

جردراولش باشد، چون الحمد وبزَیْد، یاتنون درآخرش

جرپه اول کښې وی مثال لکه الحمد و بزید شو. (۳)یا تنوین په آخر کښې

باشـد، چون زیدٌ یا مسند الیه باشد، چون زید قائم،

وی مثال . لکه زیدٌ شو. (۴)یا مسند الیه وی . مثال لکه (زَیْدٌ قَائِمٌ) شو

یا مضاف باشد چون غلام زیدٍ یا مصغر باشد، چون

(۵) یا مضاف وی مثال لکه غلام زیدٍ، (۶) یا مصغر وی، لکه مثال،

قریش، یا منسوب باشد، چون بغدادیٌ یامثنی باشد چون

قریش، (۷) یا منسوب وی، مثال لکه، بغدادیٌ، (۸) مثنی وی، مثال لکه،

رجلان، یامجموع باشد چون رِجَالٌ، یاموصوف باشدچون

رجلان، (۹) یا مجموع وی، مثال لکه، رجال شو، (۱۰) یا موصوف وی لکه،

جَاءَ رَجُلٌ عَالِمٌ، یا تاء متحرکه بدو پیوندد چون ضَارِبَةٌ

جاء رجل عالمٌ (۱۱) یا تائی متحرکه په آخرکښې پیوسته شي لکه، ضاربۃٌ شو

مصنف رحمه الله اول بحث دعلاماتو څکه راوړو چه هرشی چه دبل شی نه جدا کوی نوهغه په ذریعه دعلامې سره کیږی، علامه په لغت کښې نښې ته وایی او په اصطلاح کښې ((مایوجد فیه ولایوجد فی غیره)) ته وائی، او دخاصې هم دغه تعریف دې.

علامې د اسم یوولس (۱۱) دی:

(۱) **الف لام**: په اول د اسم کښې به راځی، او دا څکه علامه ده اسم ده چه الف لام واضع وضع کړیدې دپاره د مستقلې معنی، او حرف لره معنی مستقله نشته اوفعل هم معنی مستقله مطابقی نلری بلکه معنی تضمنی مستقله لری. او اسم معنی مستقله لری نوځکه دا علامه داسم شوه.

(۲) **حرف جر**: جرپه لغت کښې رانښکلو ته وائی اودلته هم

جرا راکاګی معنی دفعل مدخول خپل ته، او مدخول ئی اسم دی، مثال ((مرت بزید)) حروف جاره۱۷ دی چه وروسته به یی په حروف عامله کښ تفصیل راشی

(۳) **تنوین**: په لغت کښ منون کړده شده ته وائی، او په اصطلاح کښ (نون ساکنة تتبع حركة آخر الكلمة) او تنوین په پنځه قسمه دي: ۱ــ **تنوین تمکن**، چه اعراب لره ځای ورکوی، مثال لکه: جائني زيدٌ، رأيت زيداً، مررت بزيدٍ شو ۲ــ **تنوین تنکیر**: داقسم تنوین فرق په مابین دنکرې او معرفې کښ راولی، ۳ــ **تنوین مقابله**: چه په آخر دَجمع مؤنث سالم کښ راغلې وی په مقابله دنون دَجمع مذکر سالم کښ. لکه: (مسلمات) په مقابله دنون د (مسلمون) کښ ۴ــ **تنوین عوضی**: چه په آخر دمضاف کښ عوض دمضاف الیه نه راغلې وی. لکه (یومئذٍ) دغه مذکوره څلور قسمه تنوین خاصه داسم ده. ۵ــ **تنوین ترنم**: چه په آخر د اشعارو کښ راځی دپاره دتحسین دصوت. داقسم تنوین په اسم، فعل اوحرف درې واړو کښ راځی مثالونه: مثال داسم (عِتَابَنْ)، مثال دفعل (اَصَابَنْ)، مثال دحرف (قَدْ)

(۴) **مسندالیه**: واضع فعل مسند وضع کړیدې که مسند الیه استعمال شی نو خلاف به راشی دواضع دوضعې نه، او حرف خو مستقل ندې نه مسند واقع کیږی او نه مسندالیه، نوځکه مسندالیه صرف خاصه داسم شوه، لکه، زيدعالم شو

(۵) **مضاف** ځکه چه دَ اضافت فائدې لکه تخفیف، تخصیص، تعریف دا په اسم پورې خاص دی نو مضاف هم په اسم پورې خاص شو. لکه (غلام زید) شو

(۶) **مصغر** ځکه علامه د اسم ده چه مقابل کښې یې مکبر دې هغه علامه د اسم وه نو دا هم علامه د اسم شوه. بیا تصغیر راځی لپاره دَ قلت، حقارت، محبت، عظمت، وغیره. لکه (قریش)

(۷) **منسوب** ځکه علامه د اسم ده چه منسوب دلالت کوی په منسوب الی شيئ باندې، دغه معنی په اسم کښې راځی. لکه (بغدادی)، ای منسوب الی البغداد.

(۸) **مثنی** لکه (رجلان) (۹) **مجموع** لکه (رجال) شو. تثنیه او جمع ځکه علامه د اسم دی چه دوئ دلالت کوی په تعداد باندې او دا معنی خاص په اسم کښې راځی

(۱۰) **موصوف** موصوف کیدل په قلت باندې دلالت کوی او قلت صرف په اسم کښې راځی نو موصوف ځکه علامه مختصه د اسم شوه.

(۱۱) **تائی متحرکه** داځکه علامه د اسم شوه چه دا راځی په مقابله دَ تاء ساکنه کښې او تاء ساکنه خاص ده په فعل پورې نو تاء متحرکه خاص شوه په اسم پورې

و علامت فعل آنست که قد در اولش باشد چون قد

او علامات دفعل هغه دادی. (۱) چه حرف قد په اول کښې وی. مثال لکه (قَدْ

ضرب یاسین باشد چون سَیَضْرِبُ یا سَوْفَ باشد چون

ضَرَبَ، ۲، یا سین وی مثال لکه. (سَیَضْرِبُ) ۳، یا سوف وی. مثال لکه

سَوْفَ یَضْرِبُ یاحرف جزم بود چون لَمْ یَضْرِبْ یا

(سوف یضرب) ۴، یاحرف جزم وی. مثال لکه. (لم یضرب) ۵، یا

ضمیر مرفوع متصل بدو پیوند چون ضربتُ یا (تاء)

ضمیر مرفوع متصل هغې سره پیوست شي. مثال لکه. (ضَرَبْتُ) ۶، یا (تاء)

ساکن چون چون ضَرَبَتْ یا امر باشد چون اِضْرِبْ

ساکنه هغې سره پیوست شي لکه (ضَرَبَتْ) ۷، یا امر وی مثال لکه. (اِضرب)

یا نهی باشد چون لاَ تَضْرِبْ، وعلامات حرف آنست

۸، یا نهی وی مثال لکه. (لا تضرب). او علامات د حرف هغه دی

که هیچ علامتی از علامات اسم وفعل دراو نبود.

چه هیڅ علامه د علاماتو د اسم او فعل پکښې نه وی

هرکله چه مصنف فارغ شو دَ علاماتو د اسم نه نو شروع یې وکړه په علاماتو دَ فعل کښې. نو علامات دفعل اته دی:

(۱) **قد**: دا داخلیږی په فعل باندې. چه په ماضی داخل شي نو په معنی کښې تحقیق پیدا کوی. اوکه په مضارع داخل شي نو په معنی کښې تقلیل پیدا کوی. مثال لکه (قدضرب).

(۲) **س**: لکه: (سَیَضْرِبُ).

(۳) **سوف**: لکه. (سَوْفَ یَضْرِبُ). سین او سوف په فعل مضارع باندې داخلیږی. دواړه معنې دمضارع استقبال ته

اړوی، خو فرق دادې چه (سین) دَ مستقبل قریب معنی ورکوی او (سوف) دَ مستقبل بعید معنی ورکوی

(۴) **حرف جزم**: حروف جازمه پنځه دی ۱ـ ان ، ۲ـ لم ، ۳ـ لمّا ، ۴ـ لام امر ، ۵ـ لام نهی ، حروف جازمه دخپل مدخول آخر له جزم ورکوی، خوپدې شرط چه آخرنې حرف یې، حرف علت نه وی، تفصیل یې وروسته راځی

(۵) **ضمیر مرفوع متصل**، لکه: (ضَرَبْتُ)، دا خکه دفعل علامه ده چه ضمیرمرفوع دَ فاعل وی او فاعل دَ فعل دپاره وی

(۶) **تاء ساکنه**: لکه، (ضَرَبَتْ) دا خکه علامه دفعل ده چه تاء ساکنه دلالت کوی په تانیث دَ فاعل باندې او فاعل دَ فعل دپاره وی

(۷) **امر**: لکه: (اِضْرِبْ) (۸) **نهی**: لکه: (لاَ تَضْرِبْ)، امر اونهی خکه علامه دفعل شوې چه امرپه طلب اونهی په ترک د طلبْ باندې دلالت کوی اودغه دواړه په فعل کښې راځی

علامات حرف: هغه دی چه د علاماتو داسم او فعل نه علاوه وی

سوال: دَ حرف خو بیا هیڅ فائده نشته.

جواب: فوائد یې ډیر دی. لکه: ربط بین الاسمین وبین الاسم والفعل وغیره وغیره

فصل ، بدانکه جمله کلمات عرب بر دو قسم است

دافصل دې، پوهه شه ای طالبه، چه ټول کلمات دَعربو په دوه قسمه سره دی.

معرب ومبنی ، مُعرب آنست که آخرش باختلاف
یو ته معرب وائی او بل ته مبنی وائی، معرب هغه دې چه دهغې آخر په اختلاف

عوامل مختلف شود ، چون زَیْدٌ در جَائَنِیْ زَیْدٌ و رَأَیْتُ
دعواملو سره مختلف کیږی، مثال لکه: (زید)شو، په دې کلام کښې (جائنی زید ورأیت

زَیْدًا وَمَرَرْتُ بِزَیْدٍ، جَاءَ عامل است وزیدٌ معرب است
زَیْدًا و مررت بزید)، اوس جاء عامل دې او زید معرب دې

وضمه اعراب است ودال محل اعراب است، ومبنی
او ضمه ورته اعراب دې، او (دال)محل د اعراب دې، او مبنی

آنست که آخرش باختلاف عوامل مختلف نه شود
هغه دې چه دهغې آخر په اختلاف دعواملو سره نه مختلف کیږی

چون هٰؤُلَآءِ که درحالت رفع ونصب وجریکسان است
مثال لکه، (هؤلاء) شو په حالت دَ رفع او نصب او جر کښې یو شان دې

سوال: مصنف یو وارې مخکښې کلمه په درې قسمه کړه اوس یې دویم وارې بیا په دوه قسمه کړه دا ولې.

جواب: دلته جهتونه جدا جدا دی، اول وار یې کلمه په درې قسمه کړه یعنی اسم ، فعل اوحرف، په اعتبار د ذات سره او دا دویم تقسیم یې په اعتبار د اوصافو سره دې، یعنی اعراب د کلمې داوصافونه دې.

تعریف المعرب: معرب هغه ته وائی چه آخر یې مختلف کیږی په اختلات د عواملو سره.

تعريف المبنى: مبنى هغه ته وائی چه آخر يې نه مختلف کيږی په اختلاف دعواملو سره.

مبنی آن باشد که باشد بر قرار معرب آن باشد که گردد بار بار.

مثال دمعرب: ((جائنی زيدٌ، رأيت زيدًا، مررت بزيدٍ))

مثال دمبنی: ((جائنی هٰؤلاء، رأيت هٰؤلاء، مررت بهٰؤلاء))

معرب: صيغه دواحد اسم مفعول ده يعنې اعراب ورکړې شوې، (اعراب) اظهار ته وائی، يا اعراب ايضاح ته وائی، يا اعراب ازاله دَ فساد ته وائی.

مبنی: صيغه دَ اسم مفعول ده معنی دَ برقرار پاتې کيده شوی سره، بيا مبنی په دوه قسمه ده، يو مطلق مبنی او بل اسم مبنی، مطلق مبنی هغې ته وائی چه ((لايکون حرکة آخره ولايختلف آخره لاجل العوامل))، او اسم مبنی هغه ته وائی چه: ((هوالاسم المرکب الذی شابه مبنی الاصل اووقع غير مرکب)).

فصل، بدانکه جمله حروف مبنی است واز افعال فعل

دافصل دې، پوهه شه ای طالبه، ټول حروف مبنی دی، او دافعالونه فعل

ماضی وامر حاضر معروف و فعل مضارع بانون هائ

ماضی معلومه وی او که مجهوله وی او امر حاضر معلوم او فعل مضارع چه نون د

جمع مؤنث وبانونهاى تاکيد نيز مبنی است

جمع مؤنث پکښې موجود وی، يا نون د تاکيد وی مبنی دې.

دَمعرب او مبنی اقسام په تفصیل سره بیان شو، حروف ټول، عامله وی او که غیرعامله وی مبنی دی، او په فعل کښې تفصیل داسې دې چه فعل ماضی د ټولو اقسامو سره مبنی ده، او په فعل امر کښې صرف امر حاضر معلوم مبنې دې، نو امر حاضر مجهول او امر غائب معلوم اومجهول ترینه خارج شو، او دفعل مضارع نه دوه صیغې، جمع مؤنث غائب اوجمع مؤنث حاضر مبنی دی، باقی دولس واړه صیغې معرب دی، او کله چه په مضارع پورې نون تاکید ثقیله یا خفیفه متصل شی نو بیا هم فعل مضارع مبنی ده۔

بدانکه، اسم غیرمتمکن مبنی است واما اسم متمکن

پوهه شه ای طالبه، اسم غیر متمکن مبنی دې او هغه اسم چه متمکن وی

معرب است بشرط آن که در ترکیب واقع شود وفعل

هغه معرب دې پدې شرط سره چه په ترکیب کښې واقع شی، او فعل

مضارع معرب است بشرط آنکه از نونهائ جمع مؤنث

مضارع معرب ده په دې شرط سره چه نون دَ جمع مؤنث

ونون تاکید خالی باشد، پس در کلام عرب بیش ازین

او نون دتاکید نه خالی وی، بس دَ عربو په کلام کښې دَ دې دوه قسمونو

دوقسم معرب نیست باقی همه مبنی است واسم غیرمتمکن

دمعرب نه، زیات معرب نشته، باقی ټول مبنی دی، او اسم غیرمتمکن

اسمیست که بامبنی اصل مشابهت دارد و مبنی اصل سه

هغه اسم دې چه مبنی اصل سره مشابهت لري او مبنی اصل درې

چیزاست، فعل ماضی وامر حاضر معروف وجمله حروف

شیان دي، فعل ماضي معلوم و مجهول، امر حاضر معلوم او جمله حروف

واسم متمکن اسمیست که با مبنی اصل مشابه نباشد

او اسم متمکن هغه اسم دې چه مبني اصل سره مشابهت نه لري

اسم متمکن او اسم غیر متمکن: اسم متمکن هغه اسم دې چه قدرت ورکوی اعرابونو ته، هغه معرب دې په دې شرط چه ترکیب کښې واقع شي، او اسم غیر متمکن هغه اسم دې چه قدرت نه ورکوی اعرابونو ته او دا مبني دې.

خلاصه دا شوه چه کلمه په درې قسمه ده: اسم، فعل، حرف، نو حروف ټول مبني دي، او فعل په خپل کور کښې په درې قسمه دې: فعل ماضي، امر حاضر، فعل مضارع، نو فعل ماضي او امر حاضر مبني دې او مبني اصل دې، او فعل مضارع په دوه قسمه ده یو هغه ده چه نون دَ جمع مؤنث او نون د تاکید په کښې وی نو دغه قسم مبني شوه، او بل قسم فعل مضارع هغه ده چه دَ جمع مؤنث او نون دَتاکید پکښې نه وی نو هغه معرب ده، بیا اسم په دوه قسمه شو، متمکن، غیر متمکن، نو اسم غیر متمکن مبني شو او متمکن بیا په دوه قسمه دې اول هغه دې چه ترکیب کښې واقع شوې وی

نو هغه معرب دي او بل قسم هغه دي چه په ترکيب کښ واقع شوي نه وي نو هغه مبني شو، نو خلاصه دا شوه چه معرب صرف او صرف دوه شيان شو، يو اسم متمکن چه ترکيب کښ واقع شي او دويم فعل مضارع چه دَ نوناتو نه خالي وي.

دمبني اقسام: ۱ ــ مبني اصل: هغه ته وائي چه بناء په کښ دَ اصل وضعي نه وي او دَ مشابهت دمبني اصل د وجهې نه نوي. ۲ ــ چه مشابه وي دمبني اصل سره، بيا مبني اصل درې شيان دي: (۱) ټول حروف، (۲) فعل ماضي، (۳) امر حاضر معلوم اومشابه دمبني اصل سره، د اسم غير متمکن اته اقسام دي لکه چه وروسته به راشي.

سوال: حروف ولې مبني دي.

جواب: ځکه چه اعراب دپاره علت پکښ معدوم دې.

سوال: فعل ماضي ولې مبني شوه.

جواب: ځکه چه علت دَ اعراب پکښ معدوم دې، بيا مبني خو په سکون سره وي حرکت ورله ورکړې شو دَ تخفيف دوجهې نه.

سوال: امر حاضر ولې مبني شو.

جواب: په هغه کښ هم دغه جواب دې، مبني نه فاعل واقع کيږي اونه مفعول واقع کيږي اونه مضاف اليه واقع کيږي، بيا فعل ماضي او امر حاضر معلوم مبني اصل دي.

سوال: فعل مضارع چه نونات ورسره وي ولې مبني شوه.

جواب: ځکه مبني شوه چه آخر دفعل مضارع په وسط کښې راځي او وسط کښې اعراب نه جاري کیږي.

فصل، بدانکه اسم غیر متمکن هشت قسم است اول

دافصل دې، پوهه شه چه اسم غیرمتمکن په اته قسمه دې، اول قسم

مضمرات چون (اَنَا)من مردوزن و(ضَرَبْتُ) زدم من و (اِیَّایَ)

ضمائر دي، مثال لکه (انا) شو، زه یوه سړی، زه یوه ښځه (ضربت) او وهلو ما یوسړی

خاص مرا و (ضَرَبَنِی) بزد مرا و (لِیْ) مرا

یا ما یوې ښځې (ایای) خاص ماله (ضربني) او وهلو ماله، (لي) ما له

چهارده ضمیر مرفوع متصل : ضَرَبْتُ،ضَرَبْنَا،ضَرَبْتَ،

خوارلس ضمائر دمرفوع متصل دپاره دي. لکه، ضربت، ضربنا، ضربت

ضَرَبْتُمَا، ضَرَبْتُمْ، ضَرَبْتِ، ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُنَّ، ضَرَبَ

ضربتما، ضربتم، ضربت، ضربتما، ضربتن، ضر

ضَرَبَا، ضَرَبُوْا ضَرَبَتْ، ضَرَبَتَا، ضَرَبْنَ.

ضربا، ضربوا، ضربت، ضربتا ضربن.

وچهارده مرفوع منفصل :اَنَا نَحْنُ، اَنْتَ، اَنْتُمَا، اَنْتُمْ،

اوخوارلس ضمائر دمرفوع منفصل دپاره دي، یعنی دخپل فعل نه به جدا وی لکه، انا

اَنْتِ، اَنْتُمَا، اَنْتُنَّ، هُوَ، هُمَا، هُمْ، هِیَ، هُمَا هُنَّ.

نحن، انت، انتما، انتم، انت، انتما، انتن، هو، هما، هم، هی، هما، هن

وچهارده منصوب متصل : ضَرَبَنِیْ، ضَرَبَنَا، ضَرَبَكَ،
اوڅوارلس ضمائر دَمنصوب متصل دپاره دی، لکه، ضربنی، ضربنا، ضربك

ضَرَبَكُمَا، ضَرَبَكُمْ، ضَرَبَكِ، ضَرَبَكُمَا، ضَرَبَكُنَّ، ضَرَبَهٗ،
ضربكما ، ضربكم ، ضربك ، ضربكما ، ضربكن ، ضربه

ضَرَبَهُمَا ، ضَرَبَهُمْ ، ضَرَبَهَا ، ضَرَبَهُمَا ، ضَرَبَهُنَّ.
ضربهما ، ضربهم ، ضربها ، ضربهما ، ضربهنَ

چهارده منصوب منفصل: اِیَّایَ، اِیَّانَا، اِیَّاكَ، اِیَّاكُمَا، اِیَّاكُمْ
څوارلس ضمائر دمنصوب منفصل دپاره دی، لکه : ایای، ایانا، اياك، اياكما

اِیَّاكِ، اِیَّاكُمَا،اِیَّاكُنَّ، اِیَّاهُ، اِیَّاهُمَا، اِیَّاهُمْ، اِیَّاهَا، اِیَّاهُمَا، اِیَّاهُنَّ.
اَیاکم، اَیاك، ایاکما، اياكن، اياه، اياهما، اياهم، اياها، اَياهما، اياهن

چهارده مجرور متصل : لِیْ، لَنَا، لَكَ، لَكُمَا، لَكُمْ، لَكِ
څوارلس ضمائر دَمجرور متصل دپاره دی، لکه: لی ، لنا، لك، لكما، لكم

لَكُمَا، لَكُنَّ، لَهٗ، لَهُمَا، لَهُمْ، لَهَا لَهُمَا، لَهُنَّ.
لك، لکما، لکن، له ، لهما ، لهم ، لها ، لهما ، لهن

اسماء غیرمتمکنه په اته اقسمه دی : (۱) **مضمرات** :

(**متمکن**) : صیغه د اسم فاعل باب تفعل نه ده معنی ئی ځای ورکول دی. (**مضمرات**) دَضمیرنه دي، معنی ئی پټول دی، داهم پټ وی، یا دَ ضمور نه دي، چه خوار او کمزوری ته وائی، داهم قلیل الحروف دي، اوپه اصطلاح کښې: ((مَاوُضِعَ

لِمُتَكَلِّمٍ اَوْمُخَاطَبٍ اَوْغَائِبٍ تَقَدَّمَ ذِكْرُهٗ لَفْظًا اَوْمَعْنًا اَوْ حُكْمًا».

ضمائر ټول په پنځه قسمه دي، د هر قسم دپاره، څوارلس، څوارلس ضمائر دي، نو ټول ضمائر اويا (۷۰) شو.

تفصيل ئې داسې دې: اول ضمائر په دوه قسمه دي:

(۱) **متصل**: هغه ضمير چه دخپل عامل سره يوځای وی.

(۲) **منفصل**: هغه ضمير چه دَخپل عامل نه جدا وی، بيا ضمير متصل په درې قسمه دې: ۱ ـ مرفوع متصل، ۲ ـ منصوب متصل، ۳ ـ مجرور متصل، او ضمير منفصل په دوه قسمه دې: ۱ ـ مرفوع منفصل، ۲ ـ منصوب منفصل. او د هر قسم دپاره څوارلس، څوارلس ضمائر دي نو دا ټول اويا شو. البته ضمير مجرور منفصل نشی کيدې ځکه چه هغه دَ خپل جار نه جدا نشی راتلې نو مثال يې هم نشته دې.

فوائد

۱ـ **فائده**: متصل مرفوع ضمير په دوه قسمه دې: ۱ ـ بارز، ۲ـ مستتر، يعنی ظاهر او پټ، مثال د اول خو ښکاره دې، او مثال ددويم قسم لکه (ضرب) چه هو پکښې پټ پروت دې.

۲. **فائده**: اهل صرف دغائب نه شروع کوی اونحويان دَ متکلم دَ صيغې نه شروع کوی، ځکه چه د اهل صرف غرض تصرف وی او تصرف په غائب کښې زيات وی، اوغرض د نحويانو تنکير اوتعريف دې نو اعرف په معارفو کښې متکلم دې، او اعرف مقدم وی په غير اعرف باندې، اگرچه بعضی

نحات دمذکر مخاطب نه شروع کوی او وائی چه: «خیر الامور اوسطها». باقی مثالونه ټول په تفصیل سره په کتاب کښې بیان شوی دی.

۳ـ **فائده**: او که چرته دَ جملې نه مخکښې دغائب ضمیر دَ مرجع نه بغیر واقع شی نو که ضمیردَ مذکروو، نو هغه ته ضمیر شان وئیلې شی او که دَ مؤنث ضمیروو نو هغه ته ضمیر قصه وئیلې شی، او دضمیر نه بعد جمله به ددغه ضمیر تفسیر کوی، لکه «اِنَّهُ زیدٌ قائم» دا مثال د اول قسم شو، یعنی په تحقیق سره شان دادې چه زید ولاړ دې، مثال د دویم ضمیر، لکه: «اِنّها زینب قائمةٌ» یعنی په تحقیق سره قصه داده چه زینب ولاړه ده.

دوم قسم اسماء اشارات: (ذَا) و (ذَانِ)

دریم قسم اسماء اشارات دی، مثال «ذا» دایو سړې «ذان دادوه سړی په حالت رفعی کښې

وذَیْنِ وتَا وتِیْ وتِهِ وذِهْ وذِهِیْ وتِهِیْ

«ذین» دادوه سړی په حالت نصبی کښې «تاوتی وته وذه وذهی وتهی دمفرد مؤنث دپاره.

و تَانِ و تَیْنِ و اُوْلَآءِ بمد و اُوْلٰی بقصر

«تان وتین» دپاره دمؤنث. په الف سره په حالت رفعی کښې. په یا سره په حالت نصبی کښې بل «اُولاء» په مد سره او «اُولی» په قصر سره

اسم اشاره دیته وائی چه اشاره اوکړې شی او چاته چه اشاره کیدې شی هغه ته مشار الیه وائی، بیا اسماء اشارات په درې قسمه دی. (۱) دنزدی لپاره اشاره، مثال: «ذا»، ذان،

ذین۔ الخ۔ (۲) درمیانه لپاره اشاره، مثال: ذاك. (۳) دبعید لپاره اشاره، مثال: ذالك.

(ذا) دواحد مذکر دپاره راځی (ذان، ذین) دَ تثنیه مذکر دپاره راځی، خو (ذان) په حالت رفعی کښ راځی او (ذین) په حالت نصبی کښ راځی. ((تا، وتی، وتِه، وذه، وذهی، وتهی)) دواحد مؤنث دپاره دا شپږ اسماء اشارات راځی. ((تان وتین)) دتثنیه مؤنث دپاره راځی ((اولاء و اولی)) دا دواړه دَ جمع دپاره راځی، (اولاء) په مدسره دَجمع مذکر دپاره راځی، او (اولی) په غیر دمدّ نه دَجمع مذکر اوجمع مؤنث دواړو دپاره راځی.

فائده: کله داسم اشارې په اول کښ (ها) دخبرداری دَ عامل دپاره راځی او په آخر کښ (ك) خطابی دَ دلالت دَ مخاطب دپاره راوړلې شی.

سوال: اسماء اشارات خو مبنی دی او مبنی کیدو دپاره خو د احتیاج ماده ضروری ده، نواوس اسماء اشارات چاته محتاج دی.

جواب: اسماء اشارات مشار الیه ته محتاج دی.

سوم اسماء موصوله: اَلَّذِیْ اَلَّذَانِ وَالَّذَیْنِ وَالَّذِیْنَ

دریم قسم اسماء موصوله دی، مثال: (الذی) هغه یو سړی، (الذان) حالت رفعی کښ (الذین) حالت نصبی، کښ هغه دوه سړی (الذینَ) هغه ډیر سړی،

وَ اَلَّتِیْ وَ اَللَّتَانِ وَ اَللَّتَیْنِ

هغه یوه ښځه، په حالت رفعی کښ، په حالت نصبی اوجری کښ هغه دوه ښځې

واَللاَّتِیْ واللَّوَاتِیْ . ما و من

هغه ډیري ښځي (ما) دغیر عقلمندو لپاره، او (من) دعقلمندو لپاره

وَاَیٌّ و اَیَّةٌ والف لام به معنی الّذِیْ

(اَیْ) کوم یو مذکر (اَیَّۃ) کومه یوه مؤنثه (الف لام) چه په معنی د الذی راځی

در اسم فاعل واسم مفعول چون الضارب والمضروب

هغه الف لام چه په صیغه د اسم فاعل یا اسم مفعول کښ وی، مثال لکه، الضارب، المضروب، هغه سړی وهونکي، هغه سړي چه وهلي شوي دي

و ذو بمعنی الذی در لغت بنی طی نحو جاءنی ذوضربك

اوبل ذو دي په معنی د الذی سره په لغت دبنی طی کښ، مثال جاءنی ذوضربك، یعنې راغلي وو ماته ((ذو په معنی دالّذی سره)) هغه سړي چه ته یي وهلي وي.

بدانکه : اَیٌّ و اَیَّةٌ معرب است.

پوهه شه ای طالبه، ایّ او ایّةُ په اصل کښ معرب دی.

موصول دَ وصل نه دي په معنی دَ یوځای کیدو سره، او موصول هم دَخپلي صلي سره یوځای وی، او دا هغه اسماء دی چه بغیر دصلي نه کامل جزء دجملي نشی واقع کیدي، او صِله هغې جملي ته وائی چه پس دَ موصول نه ذکر شی اوموصول هم پدغي صلي سره پوره کیږی، لکه جائنی الّذِ ضربك، اوصله په موصول باندي نه مقدم کیږی.

اسماء موصوله :

هغه اسماء موصوله چه دمذکرا ومؤنث لپاره جدا جدا راځی

«الذی» د مفرد مذکر لپاره «الذان، الذَین» دتثنیه مذکر لپاره «الذِینَ» دجمع مذکر لپاره، «التی» دمفرد مؤنث لپاره «اللَتَانِ، اللَتَینِ» دتثنیه مؤنث لپاره، «اللاتی، واللواتی» دجمع مؤنث لپاره

هغه اسماء موصوله چه دمؤنث اومذکرلپاره مشترک وی

لکه: «مَا ومَنْ» «ما» دغیر ذیعقل لپاره راځی «من» دَ ذی عقل لپاره راځی، «أيّ وأيّةٌ»، «ایّ» په معنی د الذی سره د مذکر دپاره راځی او «اَیّةٌ» په معنی د التی سره دَ مؤنث دپاره راځی، او «الف لام» چه په اسم فاعل او اسم مفعول باندې داخل شی نو هغه به په معنی دَ الذی سره وی لکه: «الضارب یا المضروب» ای الذی ضَرَبَ، والذی ضُرِبَ، او په محاوره د بنی طی قبیله کښ ذو په معنی د الذی سره راځی لکه: «ذو ضربك، ای الذی ضربك»

د اَیٌ او اَیّةٌ لپاره څلور حالات دی، په یو حالت کښ مبنی او په درې حالتونو کښ معرب وی.

حالات اربعه

	حالات اربعه	مضاف الیه	صدرصله	مثال	حکم
۱	اَیّ وَ اَیّةٌ	مذکور	مذکور	اَیُّهُمْ هُوَقَائِمٌ	معرب
۲	اَیّ وَ اَیّةٌ	محذوف	محذوف نسیاً منسیاً	اَیٌّ قَائِمٌ	معرب
۳	اَیّ وَ اَیّةٌ	محذوف	مذکور	اَیٌّ هُوَ قَائِمٌ	معرب

۴	اَیّ وَ اَیَّةٌ	مذکور	محذوف	اَیُّهُمْ قَائِمٌ	مبنی

او علت دبناء پکښې احتیاج دې صدر دصلې ته.

چهارم اسماء افعال وآن بر دونوع است اول بمعنی امر

خلورم قسم دَمبنیاتونه اسماء افعال دی، اودا په دوه قسمه دی، اول قسم په

حاضر چون رُوَیْدَ و بَلْهَ وَحَیَّهَلْ وهَلُمَّ

معنی دامرحاضر سره، لکه (رُوَیْدَ) په معنی د امهل سره (یعنی مهلت ورکړه د، ته، (بَلْهَ) په معنی د دع سره یعنی پرېږده، (وحیهل) په معنی د اِیتِ سره، یعنی راشه، او (هلمّ) هم په معنی د اِیتِ سره دې یعنی راشه ته.

دوم بمعنیٰ فعل ماضی چون هَیْهَاتَ و شَتَّانَ

او دویم قسم په معنی دفعل ماضی سره راځی، مثال لکه: (هیهات) شو، په معنی د بَعُدَ سره، یعنی لرې شوې دې هغه په زمانه تیره شوې کښې، (شتان) په معنی د اِفْتَرَقَ سره یعنی، یعنی جدا شوې دې.

اسماء افعال

اسم ورته په اعتبار داولې وضعې سره وائی او فعل ورته په اعتبار د وضع ثانی سره وائی، اسماء افعال دنحومیر مصنف په دوه قسمه سره بیان کړیدی چه یو قسم په معنی د ماضی سره دی اوبل قسم په معنی د امر سره دی، لیکن بعضې پکښې یوبل قسم هم بیان کړیدی اوهغه داچه په معنی دفعل مضارع سره هم راځی، لکه (اُف) په معنی د (اتزجّر) سره، یا (واها) په معنی د (اتعجب) سره، بیاهم بعضی نحاة د دینه

تعبیر په ماضی سره کوی، لکه (أُف) په معنی د (تزجرت) سره.

پنجم اسماء اصوات چون أُح، اُح، اُف، وبَخَ، نَخّ وَ غَاق

پنځم قسم اسماء اصوات دی. لکه (أح. أح) شو. دغه شان بخ او نخ او غاق شو.

اصوات جمعه دَصوت ده، صوت آواز ته وئیلې شی.

(۱) اسماء اصوات ځکه مبنی دی چه دوئ مفردات دی او که په ترکیب کښ هم واقع شی نوبیا هم مبنی دی ځکه واقع کیدل په ترکیب کښ په طریقه دَ نقل سره وی ذاتًا نه وی. او ځکه مبنی دی چه دوئ دوضع دواضع نه په دغه حرف سره لفظًا راغلی دی اوحروف خومبنی دی نودوئ هم مبنی شو.

۱ - (أح ، اُح) دغه آواز دټوخی په وخت کښ طبعًا خارجیږی،
۲ - (اُف) دَ درد یا دَ اظهار دکراهت په وخت کښ دخُلې نه صادریږی. ۳ - (بَخ) دَ اوښ دکینولو په وخت کښ دَ خُلې نه راوځی. ۴ - (نخ) دخوشحالئ په وخت کښ دَ خُلې نه دغه آواز راوځی. ۵ - (غاق) دکارغه دآواز نقل دې.

دغه یوځو آوازونه دعربو په محاوره کښ داسې دی ورنه بیا دَهرې ژبې خپل ، خپل آواز وی چه هغه مشهور وی.

ششم اسماء ظروف ، ظرف زمان چون

شپږم اسماء ظروف دی، اسماء ظروف دوه قسمه دی، یوقسم ظرف زمان. مثال لکه:

اذْ ، اذَا و مَتٰی وکَیْفَ و اَیَّانَ و اَمْسِ

(اذ واذا)، په معنی دهغه وخت سره. او (متی) په کوم وخت سره. او(کیف) په معنی دځرنګه سره، او (ایَّان) په معنی دکله سره. او (امس) په معنی دپرون سره.

و مُذ و مُنذ وقَط وعَوض وقَبل وبَعدُ

(مذ ومنذ) په معنی دَ اول وخت سره (قط وعوض) په معنی دَ هرگز سره او (قبل) په معنی دَ مخکښ سره (بعد) په معنی د وروستو سره

وقتیکه مضاف باشند ومضاف الیه محذوف منوی باشد

داهغه وخت مبنی وی چه مضاف وی او مضاف الیه یې محذوف اوپه نیت کښ وی

و ظرف مکان چون حیث وقدّامُ و تحت وفوق

دریم قسم ظرف مکان دې . مثال لکه . حیث . قدامُ . تحت . فوق شو.

وقتیکه مضاف باشد ومضاف الیه محذوف منوی باشد.

دا هغه وخت کښ مبنی وی چه مضاف وی او مضاف الیه یې محذوف اوپه نیت کښ وی

ظروف جمع دَظرف ده اوظرف لوښی ته وئیلې شی اومراد ترینه وخت دکار یا ځائ دکار دې. یوته ظرف زمان وائی او بل ته ظرف مکان وائی. ظرف زمان هغه شو چه په زمانه دَ وقوع دَ فعل باندې دلالت کوی او ظرف مکان هغه شو چه په ځائ دَ وقوع دَ فعل باندې دلالت کوی.

الفاظ د ظرف زمان

(اذ) په ماضی داخلیږی (اذا) په مستقبل داخلیږی. دواړه په معنی د وخت سره دی اودا ځکه مبنی دی چه (اذ) دَ حرف سره مشابه دې او په (اذا) کښ معنی دحرف شرط ده او (اذا) کله د استمرار اوکله دمفاجاة لپاره هم راځی. (متی) استفهام او شرط دپاره راځی، لکه: متی یوم العید . اومتی تذهب

اذهب، نو دَ استفهام اوشرط دَ اشتمال کیدو په وجه مبنی هم شو اوپه ماضی اومضارع باندې هم داخلیږی. (کیف) استفهام دپاره راځی، هم پدغه وجه مبنی هم دې، مثال: کیف انت ای فی ایّ حال انت (آیّان) دا هم دَ استفهام دپاره راځی، مثال: آیّانَ یوم الدین. آیّان په امورو عظیمه ؤ کښ استعمالیږی (اَمْسِ) په معنٰی دَ پرونۍ ورځ سره دَماضی دپاره راځی نو ځکه مبنی شو. (مُذ ومُنذُ) په معنٰی دَ اول وخت سره او دا ظرفی دی ځکه مبنی دی چه مشابه دی دَ مبنی الاصل سره چه هغه مذ اومنذ حرفی دی، مثال: متٰی مارأیت زیداً. جواب: ما رأیته مذیوم العید. (قط) دَ ماضی منفی د تاکید دپاره راځی، مثال: مَا اکَلَ زَیْدٌ خبز قط. په معنی د هرگز سره . او دا ځکه مبنی دې چه مشابه دې دَ حرف سره ځکه چه متضمن دې معنٰی د لام استغراقی لره اوهغه حرف دې نو ځمکه دا مبنی شو. (عوض) راځی دمستقبل منفی تاکید دپاره په معنٰی دَ هرگز سره ، مثال، لکه: لاَ اضرِبُه عوض، او ځکه مبنی دې چه دې هم متضمن دې لام استغراقی لره. (قبل) په معنٰی دمخکښ سره. (وبعد) په معنٰی دَ وروستو سره دَ دې دواړو دپاره درې حالته دی، یو حالت کښ مبنی دی او په دوه حالته کښ معرب دی. (۱) که مضاف الیه په لفظ کښ نه وی او په نیت کښ وی نو دغه صورت کښ مبنی دی ځکه چه مضاف الیه ته احتیاج راغلې دې، نو حرف سره یې

مشابهت راغلې په احتیاج کښې نو مبنی شو. مثال لکه: (لله الأمرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ) یعنی قبل کل شیئ وبعد کل شیئ. (٢) که مضاف الیه یې په لفظ کښې ذکر وو نو معرب دې لکه مثال: من قبلهم، من بعدهم. (٣) چه مضاف الیه نه په لفظ کښې وی او نه په نیت کښې وی نو هم معرب دې. مثال لکه رُبَ بَعْدٍ خَیْرٌ مِنْ قَبْلٍ.

ظرف مکان: هغه اسماء چه دکار کولو مقام او ځائ پکښې معلومیږی، مثالونه: ((حیث، قدام، تحت، فوق)). (حیث همیشه دپاره مضاف استعمالیږی او ځکه مبنی دې چه خپله معنی ښکاره کولو کښې مضاف الیه ته محتاج وی نو په احتیاج کښې یې د حرف سره مشابهت راغلې دې نو ځکه مبنی شو. مثال: اجلس حیث زید جالس. یعنی اجلس مقام جلوس زید. (قدام) مخکښې (تحت) لاندې (فوق) پورته. دوئ درې واړه به خالی نه وی یا به مضاف الیه په لفظ کښې نه وی او په نیت کښې به وی نو په دې حالت کښې مبنی شو ځکه احتیاج پکښې راغلې دې. او که مضاف الیه ورسره هم نه وی په نیت کښې نو بیا معرب دی او که مضاف الیه ورسره په لفظ کښې ذکر وی بیا هم معرب دی.

هفتم اسماء کنایات چون کَمْ و کَذَا کنایت از عدد

اووم قسم اسماء کنایات دی. مثال لکه کم شو او کذا شو. دا کنایات دعدد مبهم نه دی

و کَیْتَ و ذَیْتَ کنایت از حدیث

اوبل کیت او ذیت شو. دا کنایات دَ خبرونه دی

کنایه په معنی دپټولو سره راځی او کنایات په دوه قسمه سره راځی: (۱) کنایه دَعدد نه (۲) کنایه دَ خبرونه.

دکنایه عدد دپاره کم او کذا راځی او دکناه دحدیث دپاره کیت او ذیت راځی، مثال دَ اول لکه چه یو سړې اووائی بِکَمْ اشْتَرَیْتَ هٰذَا، نوجواب کښې ورته هغه بل سړې اووائی اشْتَرَیْتُ بِکَذَا یعنی دکم معنی ده څومره او دکذا معنی ده دومره

مثال دَ دویم: (قَالَ فُلَانٌ کَیْتَ وَکَیْتَ)، دَ دریم مثال (قُلْتُ لَهُ ذَیْتَ وَذَیْتَ).

اقسام دکم: که په دوه قسمه دې: (۱) استفهامی (۲) کم خبری، په استفهامی سره تپوس کیدې شی د عدد مبهم نه او په کم خبری سره خبر ورکولې شی دَ عدد مبهم نه. مثال دَ اول: (کَمْ دِرْهَمًا عِنْدَكَ) مثال دَ دویم (کَمْ رَجُلٌ عِنْدِی) یعنی ډیر سړی زما په نزد باندې دی.

دمبنی کیدو وجه: کم استفهامی خو ځکه مبنی دې چه متضمن دې حرف استفهام لره او حروف خو ټول مبنی دی. او کم خبری هم مبنی دې ځکه چه دا اصل دې په کم استفهامی باندی. او (کذا) ځکه مبنی دې چه مرکب دې دَ کاف تشبیهی او د (ذا) اسم اشارې نه او هغه دواړه مبنی دی نو کذا هم مبنی شو، او (کیت وذیت) ځکه مبنی دی چه دا کنایه دَ جملې نه دی او جمله دَبعض نحویانو په نزد په مبنیاتو کښې داخله ده.

هشـــتم مـــرکب بنائی چون اَحَدَ عَشَرَ

اتم قسم مرکب بنائی دې، مثال لکه (احد عشر) یوولس شو.

مصنف په خپله دمرکب بنائی تعریف مخکښې کړې وو، چه دوه اسمونه یوځای کړې شی او دویم اسم متضمن وی حرف لره، مثال لکه : (احد عشر) تر (تسعة عشر) پورې، چه په اصل کښې (احدٌ وعشر ـ الخ) وو، بیا واو حذف شو، ثانی متضمن شو حرف لره نو مبنی برفتح شو، او اول جزء هم مبنی بر فتحه شو، ځکه چه وسط کښې راغلې دې او اعراب په وسط باندې نه جاری کیږی، مگر (اثنا عشر) چه دهغې تحقیق مونږه مخکښې ذکر کړیدې. هذا، (ای خذ هذا).

فصل بدانکه اسم بردو ضرب اســـت، معرفه و نکره

دافصل دې، پوهه شه ای طالبه، چه اسم په دوه قسمه دې یومعرفه اوبل نکره

معرفه آنست که موضوع باشد برای چیزی معین و آن

معرفه هغه اسم دې چـه دیـوخاص شـی دنوم دپاره وضع شوې وی او دا بیا

بر هفت نوع است : اول مضمران، دوم اعلام، چون

په اوه ۷ قسـمـه سره ده (۱) مضمرات مثـال لکه (هو) شو، (۲) اعلام، لکه

زَیْدٌ وعَمْرٌ، سوم اسماء اشارات ، چهارم اسماء موصوله

زید، عمر شو. (۳) اسماء اشـارات دی لکه (هـذا) شو (۴) اسماء موصوله دی

و این دو قسم را مبهمات گویند، پنجم معرفه

دغه دوه قسمونو یعنی اسماء اشارات او اسماء موصوله ته مبهمات هم وائی (۵) معرفه

به نداء چون یارجل، ششم معرفه بالف ولام چون الرّجل

په نداء سره لکه (یارجل) شو. (۶) معرفه په الف لام سره لکه (الرجل) شو.

هفتم مضاف به یکی از اینها، چون غلامه ، وغلام زید

(۷) هغه دې چه مضاف وی دغه مذکور اقسامونه یو قسم ته. لکه غلامه. ضمیرته یې اضافت شویدې (غلام زید) اسم ته یې اضافت شویدې

، وغلام هٰذا ، و غلام الذی عندی ، وغلام الرجل

او (غلام هٰذا) اسم اشارې ته یې اضافت شویدې، او (غلام الذی عندی) اسم موصوله ته یې اضافت شویدې . او (غلام الرجل) کښې اضافت معرف باللام ته شوې دې.

و نکره آنست که موضوع باشد برای چیزی

اونکره هغه اسم دې چه دَ یو خاص او معین شی دپاره وضع نه وی بلکه دغیر

غیر معین چون رجل و فرس

معین شی دپاره وضع وی . لکه (رجل) سړې ، (فرس) آس شو.

معرفه : پیژندلو ته وائی او تعریف یې مصنف ذکر کړیدې بیامعرفه په خپل کور کښې په اوه قسمه ده :

(۱) **ضمائر** : سره معرفه ددې ټول تفصیل تیر شویدې ، مثالونه یې هم واضح دی.

(۲) **اعلام** : جمع دَ علم ده، په لغت کښې دَ غر څوکې ته وائی، او په اصطلاح کښې هغه لفظ ته وائی چه وضع شوې

وی دَ یوشی معین لپاره. یعنې خاص خاص نومونه. لکه زید. بکر. خالد. واجد وغیره.

(۳) **اسماء اشارات**: یعنی چه چاته پرې اشاره وی اگرچه هغه نکره وی لیکن داشارې کیدوپه وجه معرفه شی، لکه (هذا الرجل) اوتفصیل د اسماء اشاراتو هم بیان شوې دی.

(۴) **اسماء موصولات**: تفصیل ئې مخکښې تیر شویدې.

البته دوئ دواړو (یعنې اسماء اشارات او اسماء موصولات) ته مبهمات هم وائی، ځکه چه اسماء اشارات بغیر د مشار الیه نه مبهم وی او موصولات بغیر دَ صلې نه مبهم وی، ځکه ورته دَ صلې نه لابدی شوه.

(۵) **معرفه په حرف نداء سره**: لکه: (یارجل) شو. اگرچه رجل نکره دې لیکن دَ یا حرف نداء دَ وجهې نه معرفه شوه ځکه چه متکلم تعیین دیوسړی وکړو.

(۶) **معرفه په الف لام سره**: که اسم مخکښې نکره وی. الف لام ورباندې داخل شی نو معرفه شی، لکه (رجل) نکره دې، بیا الف لام سره معرفه کیږی، لکه (الرجل) شو. ځکه چه مراد اوس خاص رجل شو. قرآن کریم کښې هم ددې مثالونه شته دې. لکه (وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا). دلته رسول نکره دې لیکن دالف لام دوجهې نه معرفه شو.

(۷) **اوم قسم معرفه**: هغه نکره ده چه مضاف شی دمعرفې ددغه تیرو قسمونو نه یو قسم ته. مثال لکه د (غلامه) دضمیر

مثال شو ، (غلام زید) دَ علَم مثال شو ، (غلام هذا) دَ اسم اشاره مثال شو ، (غلام الذی عندی) د اسم موصول مثال شو ، (غلام الرجل) دمعرف باللام مثال شو.

نکره : هغه اسم ته وائی چه دَ غیرمعلوم شی دپاره وضع شوئ وی، ځکه تنکیر هم په لغت کښ نامعلومه شی ته وئیلې شی، لکه مثال : (رجل) سړې (فرس) آس ، یعنې سړې هر قسم چه وی او آس هم هرنسل والا چه وی، معلومه نده.

بدانکه اسم بردوصنف است، مذکر ومؤنث ، مذکر

پوهه شه ای طالبه ! چه اسم په دوه قسمه سره دې، مذکراو مؤنث ، مذکر

آنست که دروعلامت تانیث نه باشدچون رجل ومؤنث

هغې ته وائی چه په هغې کښ علامه دَ تانیث نه وی، لکه : (رجل) شو ، اومؤنث

آنست که دراوعلامت تانیث باشدچون امرأة وعلامت

هغې ته وائی چه په هغې کښ علامه دَ تانیث وی، لکه، (امرأة) شو اوعلامات

تانیث چهاراست(تا) چون طلحة والف مقصوره چون

دتانیث څلور دی (۱) تا ده لکه طلحة (۲) الف مقصوره دې ، مثال لکه ،

حبلی والف ممدودة چون حمراء وتاء مقدره چون ارض

حبلی شو (۳) الف ممدوده دې ، مثال لکه، حمراء شو (۴) تاء مقدره ده لکه، ارض شو.

که در اصل ارضة بوده است بدلیل اُریضة زیرا که

چه په اصل کښ ارضة ده ، دلیل یې دادې چه اسم تصغیر ددې اُرَیضةٌ راځی ځکه چه

تصغیراسماء رابه اصل خود برد واین رامؤنث سماعی گویند

اسم تصغیر خو اسماء خپل اصل ته واپس کوی اودیته مؤنث سماعي وائي.

مذکر: صیغه داسم مفعول باب تفعیل ده چه نسبت ئې نارینه ته وشي او علامه دتانیث پکښې نه وي لکه، زید، خالد، واجد.

مؤنث: صیغه دَ اسم مفعول باب تفعیل ده چه نسبت يې ښځې ته وشي اوعلامه د تانیث پکښې موجود وي.

په اعتبار دمذکر اومؤنث سره اسم په دوه قسمه دي چه تعریفونه يې مخکښې بیان شو، مصنف رحمه الله تعیین دعلامې وکړو دپاره دَ دې چه فرق ظاهر شي په مابین دَ مذکر او مؤنث کښې نو وې وئیل چه دَمؤنث دپاره څلور علامې دی، بیا که علامه په لفظ کښې راغلې وه نوهغې ته مؤنث قیاسی وائي اوکه علامه په لفظ کښې نه وه بلکه پټه وه نوهغې ته مؤنث سماعي وائي.

دمؤنث علامې: (۱) (تا) لکه، طلحة شو.

سوال: طلحة خو دَ یو صحابی نوم وو، او تاسو دمؤنث دپاره په مثال کښې ذکر کړو دا ولې؟

جواب: مراد زمونږ په طلحة سره مسمّی نده بلکه زمونږ دلته صرف لفظ مراد دې اودا لفظ دمؤنث دې.

(۲) **الف مقصوره**: لکه، حبلی شو.

سوال: زه به درته وښایم چه الف مقصوره به پکښې راغلې وی بیابه هم مذکر وی اومؤنث به نه وی، لکه، عیسٰی، موسٰی، مصطفٰی شو.

جواب: ددې جواب دادې چه دغه علامې ټولې زائدې دی، داخو اصل دې ځکه چه په مقابل دلام کلمه کښې راغلې دې.

(۳) **الف ممدوده**: لکه حمراء شو.

سوال: زه به درته وښایم چه الف ممدوده به پکښې راغلې وی بیا به هم مذکر وی لکه جمع مذکر (ضُرباء) شو.

جواب: زمونږه مراد علامه د تانیث ده په لفظ کښې نه په مسمّٰی کښې او علامه دَ تانیث ده الف ممدوده.

(۴) (تا) چه په لفظ کښې نه وی بلکه مقدر وی، لکه دا په مؤنث سماعی کښې راځی. او هغه درې مذکوره علامې په مؤنث قیاسی کښې راځی، مثال لکه، (ارض) شو، چه په اصل کښې (ارضة) وو، نو په اصل کښې یې (تا) شته دې. او دَ دغه (تا) ثبوت دادې چه دَ ارضة اسم تصغیر (اُریضة) دې، او په اسم تصغیر کښې چه کوم حروف وی نو هغه اصل وی، نو (تا) هلته راغلې ده نو معلومه شوه چه دا په اصل کښې وه، دغه شان بل مثال دَ مؤنث سماعی لکه (شمس) شو، چه اسم تصغیر ددې (شمیسة) راځی.

وبدانکه مؤنث بر دو قسم است حقیقی ولفظی

پوهه شه ای طالبه، چه مؤنث په دوه قسمه دې (۱) حقیقی (۲) لفظی

حقیقی آنست که بازای او حیوانی مذکر باشد،

مؤنث حقیقی هغې ته وائی چه دَ هغې په مقابله کښې نارینه حیوان موجود وی

چون امرأةٌ که بازای او رجل است وناقة که بازای او

مثال لکه. امرأة شودې په مقابله کښې مذکر رجل شته دې بل مثال ناقه شوچه په مقابله

جمل است ولفظی آنست که بازای او حیـــوانی مذکر

کښې یې جمل موجود دې، اولفظی هغه ته وائی چه دَ هغې په مقابله کښې نارینه حیوان

نباشـــد چون ظلـــمـــة وقـــوة

موجودنه وی لکه ظلمة اوقوة شو، ظلمة تیارې ته وائی او قوة طاقت ته وائی

خلاصه دا شوه چه مؤنث په خپل کور کښې په دوه قسمه شو، (۱) حقیقی (۲) لفظی، مؤنث خقیقی هغې ته وائی چه په مقابله کښې یې حیوان مذکر الله تعالی پیدا کړې وی لکه: (امرأة) شو، چه معنی یې ښځه ده، چه په مقابله کښې یې حیوان مذکر رجل یعنې سړې الله تعالی پیدا کړیدې، یا دویم مثال لکه، (ناقة) چه معنی یې اوښه ده، چه په مقابله کښې یې الله تعالی حیوان مذکر (اوښ) پیدا کړیدې.

اومؤنث لفظی هغې ته وائی چه د تانیث علامه خو پکښې وی لیکن په مقابله کښې یی الله تعالی حیوان مذکر نه وی پیدا کړې لکه. ظلمة شو، چه تیارې ته وائی، یا قوة شو چه طاقت ته وائی.

بدانکه اسم برسه صنف است: واحد ومثنٰی و مجموع

پوه شه چه اسم په درې قسمه دې، (۱) واحد، (۲) تثنیه، (۳) مجموع

واحد آنست که دلالت کند بریکی چون رجلٌ ومثنٰی

واحدهغې ته وائی چه دلالت کوی په یو باندې، لکه رجل شومعنی سړې اوتثنیه

آنست که دلالت کند بر دو بسبب آنکه الف یا یاء

اوتثنیه هغې ته وائي چه دلالت کوي په دوه باندې په دې سبب سره چه الف وي یا یا،

ماقبل مفتوح و نون مکسوره بآخرش پیوندد چون

وي او ماقبل مفتوح وي اونون نه مکسوره ددې په آخرکښې راشي مثال لکه.

رجلان ورجلین، مجموع آنست که دلالت کند بربیش

رجلان او رجلین شو .معنی دوه سړي، جمع هغې ته وائي چه دلالت کوي ددوه

از دوبسبب آنکه تغییری در واحدش کرده باشد لفظاً

نه په زیات بوباندې په دې سبب سره چه تغییرېې په واحد کښې شوې وي په واسط دلفظ

چون رجال یا تقدیراً چون فلك که واحدش نیز فلك

سره لکه مثال. رجال شو .معنی ډیر سړي. یابه تقدیراً وي لکه. فلك چه واحدیې هم فلك

است بروزن قفلٌ وجمعش هم فلك بروزن اُسُدٌ.

دې. په وزن دَ قفل سره او جمع ددې هم فلكَ دې په وزن دَ أُسدَ سره

(واحد) یوته وائي او (تثنیه) دوه ته وائي (مثنی) صیغه دَ

اسم مفعول دَ باب تفعیل نه ده (مجموع) هم صیغه دَ اسم

مفعول ده په معنی دجمع کړې شوي سره.

واحد هغه شو چه په یوذات دلالت کوي. اوتثنیه هغه شوه

چه په دوه دلالت کوي او جمع هغه شوه چه دَ دوه نه په زیاتو

باندې دلالت کوي. تثنیه به دواحد نه داسې جوړوې چه دَ

مفرد په آخر کښې الف یا (ی) چه ماقبل ترینه مفتوح وي اوپه

آخرکښې نون مکسور وي راوړې لکه (رجلان) شو . دا مثال د

حالت رفعي دې، او (رجلين) دامثال دحالت نصبي اوجري شو
هرچه جمع ده نو دَ جمع طريقه داده چه دَ مفرد په صيغه کښې
به تبديل راورلې شي برابره خبره ده که دغه تبديل او تغير لفظًا
وي اوكه تقديرًا وي، دتغيير لفظي مثال لکه رجال شوچه مفرد
يې رجل دې، اوالف پکښې زيات شويدې، نو دا تغيير لفظي
شو، او دتقديري تغيير مثال لکه (فلك) شو، نو که دا په وزن د
قفل واخلې نو قفل مفرد دې نو فلك به هم مفرد وي، اوكه په
وزن دأُسد سره يې واخلې نو اسد جمع ده نو فلك به هم جمع
وي، نو په دغه فلك کښې لفظي تغيير نشته دې، ځکه چه مفرد
اوجمع دواړه يوشان دی، ليكن تقديري تغير پکښې شته دې

بدانكه جمع باعتبار لفظ بر دو قسم است جمع تكسير
پوهه شه اي طالبه، چه جمع په اعتبار دَلفظ سره په دوه قسمه ده (۱) جمع تکسير

و جمع تصحيح جمع تكسير آنست كه بناءِ واحد دراو
(۲) جمع تصحيح، جمع تکسير هغې ته وائی چه بناء دواحد په هغې کښې

سلامت نباشد چون رجال ومساجد وابنيه جمع تكسير
سلامت (روغه) نه وي پاتې، لکه رجال او مساجد شو. او اوزان دجمع تکسير

بسماع تعلق دارد و قياس را در او مجالي نيست اما در
په اوريدو پورې تعلق لرى او قياس لره په دې کښې دخل نشته او هرچه

رباعي وخماسي بروزن فعالُـل آيد چون جعفر وجعافر
رباعی او خماسی دې نو په وزن دَ فعالَل سره راځي. مثال لکه جعفر وجعافر

وجحمرش وجحامر بحذف حرف خامس وجمع تصحیح

وجحمرش وجحامر شو. په حذف د حرف خامس سره او جمع تصحیح

آنست که بنائ واحد دراوسلامت ماند وآن بردو قسم

هغې ته وایی چه بنا دواحد په هغې کښ سلامت «روغه» وي او هغه په دوه قسمه

است جمع مذکروجمع مؤنث، جمع مذکر آنست که واوی

ده. یو جمع مذکر او بل جمع مؤنث. جمع مذکر هغې ته وایی چه واو وي او

ماقبل مضموم یا یائ ماقبل مکسور و نونی مفتوح در

ماقبل دَ هغه نه مضموم وي، یا یاء وي او ماقبل دَهغې نه مکسور وي اونون مفتوح

آخرش پیوند چون مسلمون، و مسلمین، و جمع مؤنث

په آخر دې کښې پیوسته شوي وي. مثال لکه. مسلمون ومسلمین. اوجمع مؤنث

آنست که الفی با تائ به آخرش پیوندچون مسلمات

هغې ته وایی چه الف سره د تاء نه په اخیر ددې کښې پیوست شي لکه. مسلمات شو

جمع په اعتبار دلفظ سره په دوه قسمه ده (۱) جمع تکسیر (۲) جمع تصحیح، جمع تکسیر هغې ته وائی چه بناء دَ واحد پکښې ماته شوې وی. اوجمع مکسره ورته هم وائی. لکه مثال: (رجال) شو، چه واحد یې (رجل) دې، نو په جمع مذکوره کښې د (رجل) وزن روغ نه دې پاتې شوې، بلکه دجیم او لام درمیان کښې الف زیات شویدې. اوزان دَجمع مکسرې ټول سماعی دی قیاسی اوزان ورله نشته دی. البته در باعی اوخماسی نه به جمع تکسیره دفعاللُ په وزن سره راځی. لکه

مثال: (جعفر) درباعي مثال شو. (جعافر) په وزن دفعالل راځي او دخماسي مثال لکه: (جحمرش) جحامر راځي چه آخري حرف يې دتخفيف دوجهې نه حذف شويدې

جمع تصحيح: هغې ته وائي چه بنا دَ واحد پکښې روغه اوسلامته وي؛ اودَ کلمې په آخرکښې به زيادت راځي، چه دواحد په وزن کښې هيڅ فرق نه راځي، بيا جمع تصحيح په خپل کور کښې په دوه قسمه ده، يوجمع تصحيح مذکر او بل جمع تصحيح مؤنث، که واحد يې مذکر وو نو جمع به يې هم مذکر وي اوکه واحد يې مؤنث وو نوجمع به يې هم مؤنث وي، بيا جمع مذکر هغې ته وايي چه پ آخرکښې يې واو ماقبل ضمه وي او يا (ی) ماقبل کسره وي او دَ واو او ياء نه وروستو نون مفتوح وي. لکه مثال، (مسلمون) واحد يې (مسلم) دې، او دواحد وزن په جمع کښې مکمل سلامت دې، دا مثال دحالت رفعي دې، اوبل مثال لکه: (مسلمين) دا مثال دحالت نصبي اوجري دې، او جمع مؤنث هغې ته وايي چه په آخرکښې يې صرف الف او تاء زيات شي لکه مثال، (مسلمات) شو (فاحفظ هذا).

و بدانکه جمع باعتبار معنی بردو نوع است جمع قلت

اوپوهه شه اى طالبه جمع په اعتبار دَمعنى سره په دوه قسمه ده يوجمع قلت

و جمع کسرت جمع قلت آنست که برکم از ده اطلاق

اوبل جمع كثرت ده، جمع قلت هغې ته وائي چه په کمو د لسو نه اطلاق

کنند و آنرا چهار بناء اســـت اَفْعُل مثل اَکْلُب و اَفْعَال

کیږی. او ددې جمع قلت دپاره څلور اوزان دی. (۱) أفعل. لکه اکلب (۲) افعال

چون اَقْوَال و اَفْعِلَةٌ مثل اَعْوِنَةٌ و فِعْلَةٌ چون غِلْمَةٌ و دو جمع

مثال لکه، اقوال (۳) افعلة مثال لکه أعونة (۴) فعلة مثال لکه. غلمة. او دوه

تصحیح بی الف و لام یعنی مسلمون و مسلمات و جمع

جمع تصحیح دی بغیر د الف او لام نه. مثال لکه مسلمون او مسلمات شو او جمع

کثرت آنســـت که بر ده و بیشتر از ده اطلاق کنند

کثرت هغه ته وایی چه پـه لـسو او زیاتو دَ لــونه دلالت کوی

وابنیه آن هرچه غیر از این شش بناســـت

او اوزان دَ جمع کثرت هغه دی چه غیر دی دَ دې شپږو بناگانو نه

اوس جمع په اعتبار دَ معنٰی سره په دوه قسمه ده (۱) جمع قلت (۲) جمع کثرت. جمع قلت هغې ته وائی چه د درې نه تر لسو پورې په عدد باندې دلالت کوی. او څوك دا هم وائی چه لس پکښې داخل دی. بیا دَجمع قلت دپاره څلور اوزان دی (۱) افعل، (۲) افعال، (۳) فعلة (۴) افعلة. مثال د اول (افعل) لکه (اکلب) شو. جمع د کلب ده. یعنی سپې. نو تر نهو پورې سپی ترینه مراد کیدې شی. دویم مثال (افعال) لکه (اقوال) شو. جمع دَ قول ده معنی ډیرې خبرې چه تر نهو پورې وی. دَ دریم مثال لکه (افعلة) لکه (اعونة) شو. جمع دَ عون ده سپاهی ته وئیلې شی ترنهو پورې سپاهیان ترینه مراد دی. دڅلورم

مثال لکه (غلمة) شو، جمع دَ غلام ده نو تر نهو پورې غلامان
ترینه مراد دی. ددغه مذکوره څلورو اوزانونه علاوه دوه
وزنونه نورهم دی (۱) جمع مذکر سالم (۲) جمع مؤنث سالم. خو
پدې شرط چه بغیر دالف لام نه وی لکه، مسلمون او مسلمات
شو، او که الف لام پکښې وی بیابه دَ لسونه په زیاتو دلالت
کوی، نو خلاصه دا شوه چه دَ جمع قلت تول شپږ اوزان شو.
جمع کثرت هغې ته وائی چه دَ لسو یا دَ لسونه په زیاتو
باندې دلالت کوی، بیا دَجمع کثرت اوزان دَ دغه مذکوره
شپږو نه علاوه تول دی، لکه چه بعضی یې دادی:

وزن	مثال	وزن	مثال
فعَال	عبَاد	فُعل	رُسُل
فُعَلاء	علماء	فعلان	غلمان
افعلاء	انبیاء	فُعّال	خدام

سوال: أفعل کښې یې مثل لفظ ذکر کړو او په افعال کښې
یې چون ذکر کړو دغه شان یې په افعلة کښې مثل ذکر کړو
او په فعلة کښې یې چون ذکر کړو دا ولې.

جواب: دا ځکه چه عربی او فارسی ژبې دواړه یو بل ته
نژدې دی نو معناګانې یې هم یو بل ته نژدې دی.

فصل، بدانکه اعراب اسم سه است رفع ونصب وجر

دا فصل دې، پوهه شه ای طالبه. اعراب د اسم درې دی، رفع، نصب، جر دی.

اسم متمکن باعتبار وجوه اعراب بر شانزده قسم است

اسم متمکن په اعتبار د وجوه د اعراب سره په شپاړس قسمه دي.

اول مفرد منصرف صحیح چون زید دوم مفرد منصرف

اول قسم مفرد منصرف صحیح دي، مثال لکه. زید شو. دویم قسم مفرد منصرف

جاری مجرای صحیح چون دلو،سوم جمع مکسر منصرف

جاري مجرای دَصحیح یعني قائمقام دصحیح مثال لکه دلو شو .دریم قسم جمع مکسر

چون رجال، رفع شان بضمه باشد ونصب بفتحه وجر

منصرف لکه. رجال شو . رفع ددې په ضمې سره وی او نصب ددې په فتحې سره وی او جر

بکسره، چون جَائَنِی زَیْدٌ ودَلْوٌ وَرِجَالٌ ورأَیْتُ زَیْدًا ودلوًا

ددې به په کسرې سره وی. لکه مثال جائنی زید ودلو ورجال. ورأیت زیداً ودلواً

ورِجَالاً ومَرَرْتُ بِزَیْدٍ ودَلْوٍ ورِجَالٍ، چهارم جمع مؤنث

ورِجالاً ومررت بزیدٍ ودلوٍ ورجال شو. څلورم قسم جمع مؤنث

سالم رفعش بضمه باشد ونصب وجر بکسره چون هن

سالمه ده. رفع ددې په ضمې سره ده او نصب او جر ددې په کسرې سره دی لکه

مسلمات ورأیت مسلمات ومررت بمسلمات

مثال هن مسلمات. ورأیت مسلمات ومررت بمسلمات شو.

متمکن دَ تمکن نه دي قدرت ورکولو ته وائی، ځکه ورته متمکن وائی چه اعراب سره قدرت وَرکوی په دخلو دَ محل باندې. بیا اسم متمکن په اعتبار دوجوه د اعراب سره په

شپارس قسمه دي . بیا دغه اعراب به یا لفظي وی او یا به تقدیری وی. بیا دولس قسمه اعراب لفظي دي او څلور قسمه تقدیری دي، بیا په لفظي اعراب کښ پنځه قسمه اعراب بالحرکت دي او اوه قسمه اعراب بالحروف دي.

اول قسم مفرد منصرف صحیح: لکه مثال زیدٌ شو. مفرد سره یې احتراز وکړو د تثنیه او جمع نه. منصرف سره يې احتراز وکړو دَ غیر منصرف نه او د منصرف او غیر منصرف تعریفونه وروسته را روان دی. د (صحیح) تعریف په نزد دنحویانو هغه اسم دي چه په آخر کښ یې حرف علت نه وی او صرفیان صحیح هغه ته وایی چه دهغه د حروف اصلیه په مقابل کښ حرف علت ، همزه او تضعیف نه وی لکه ضرب شو

دویم قسم مفرد منصرف جاری مجرای صحیح: مثال لکه (دلو) شو. نو جاری مجرای صحیح هغه ته وائی چه واو او یا (ی) وی په آخر کښ او ماقبل ترینه ساکن وی لکه دلو او ظبی شو

دریم قسم جمع مکسر منصرف: جمع مکسر سره یې احتراز وکړو د جمع سالم نه . او منصرف سره یې احتراز وکړو دَ غیرمنصرف نه. مثال لکه رِجال شو

په دغه مذکوره دريِ وارو کښ به حالت رفعی په ضمې سره وی او حالت نصبی به په فتحې سره وی او حالت جری به په کسرې سره وی.

مثالونه جائني زيدٌ ودلوٌ ورجالٌ . ورأيت زيداً ودلواً و

رجالاً ، ومررت بزیدٍ ودلوٍ ورجالٍ

څلورم قسم جمع مؤنث سالم لکه مثال مسلمات شو. چه حالت رفعی یې په ضمې سره دې او حالت نصبی او جری دواړه یې په کسرې سره دی، یعنی حالت نصبی یې تابع د حالت جری دې، ځکه چه جمع مذکر سالمه اصل ده او جمع مؤنث سالمه فرع ده، او اصل کښې حالت نصبی د حالت جری تابع وی نو په فرع کښې هم تابع شو چه اصل د فرع سره برابر شی. **مثال:** «هُنَّ مسلماتٌ شو» «هنّ» مبتداء ده «مسلمات» ورته خبر دې او خبر مرفوع وی «رأیتُ مُسلماتٍ» حالت نصبی تابع د جر شو. نو کسره پرې راغله «مررت بمسلماتٍ» د حالت جری شو

پنجم غیر منصرف وآن اسمیست که دو سبب از اسباب

پنځم قسم غیر منصرف دې او دا هغه اسم دې چه په هغې کښې دوه سببه وی د

منع صرف دراو باشد و اسباب منع صرف نه است

اسبابو د منع صرف نه او اسباب د منع صرف ټول نهه (۹) دی

عدل، وصف ، وتانیث، ومعرفه، و عجمه ، وجمع ،

(۱) عدل (۲) وصف (۳) تانیث (۴) معرفه (۵) عجمه (۶) جمع

وترکیب، و وزن فعل، والف ونون زائدتان، چون عمر

(۷) ترکیب (۸) وزن فعل (۹) الف و نون زائدتان. مثالونه لکه عمر

واحمر، وطلحة، وزینب، وابراهیم، ومساجد، ومعدیکرب

او احمر. او طلحة او زینب او ابراهیم او مساجد او معدیکرب

واحد وعمران، رفعش بضمه باشد ونصب وجر بفتحه

او احمد او عمران شو رفع به یې په ضمې سره وی او نصب او جر به یې په

چون جاء عمر ورأیت عمر ومررت بعمر

فتحې سره وی مثال لکه . جاء عمر ورأیت عمر ومررت بعمر

منصرف: مشتق دې دصرف نه او صرف خالی والی ته وائی داهم خالی دې دَ اسبابو دمنع صرف نه. نو اسم منصرف هغه ته وائی چه هغې کښې دوه اسبابه دَ منع صرف او یا یو سبب چه قائمقام دَ دوه سببونو وی په هغې کښې نه وی. په منصرف باندې دواړه حرکتونه هم راتلې شی او تنوین هم راځی.

غیرمنصرف: هغه اسم معرب دې چه دوه سببونه دَ اسبابو دَ منع صرف نه هغې کښې موجود وی حقیقةً یاحکمًا او یا یو سبب وی چه قائمقام دَ دوه سببونو وی لکه الف مقصوره یا الف ممدوده یا صیغه دَمنتهی الجموع شوه. اوغیر منصرف کښې کسره اوتنوین نه راځی صرف ضمه اوفتحه به پرې راځی. نو حالت رفعی به په ضمې سره وی اوحالت نصبی اوجری به یې په فتحې سره وی یعنی جر تابع دنصب شو.

اسباب دمنع صرف نهه دی

(۱) **عدل**: معنی اوړیدل ویقال اسم معدول ای مصروف، او په اصطلاح داهل نحوې کښې عدل دیته وائی چه دَ یو اسم خپل اصلی شکل اوحالت نه بل شکل اوحالت ته بدل کړې شی

او ماده باقي وي، بیا دغه عدل په دوه قسمه دي یو عدل تحقیقي او بل عدل تقدیري ١ـ **عدل تحقیقي** دیته وائي چه په هغې کښې د خپل اصل نه دګرځیدو څه ثبوت او دلیل موجود وي لکه ثلاث او مثلث شو چه د ثلاثة، ثلاثة نه وتلی دی، او په دوئ کښې عدل تحقیقي دي ځکه چه دثلث او مثلث په معنی کښې تکرار دي، او تکرار د معنی دلالت کوي په تکرار د لفظ باندې نو معلومه شوه چه ثلاث مأخوذ دي د ثلاثة ثلاثة نه او دغه شان مثلث هم د دغه نه مأخوذ دي، نو دا غیر منصرف شو چه یو سبب پکښې عدل تحقیقي شو او بل سبب پکښې وصف شو.

٢ـ **عدل تقدیري**: دا هغه اسم دي چه د بل لفظ نه دګرځیدو څه ثبوت پکښې نه وي صرف تصور او فرض کړې شي که عمرُ او زفرُ شو، نو هر کله چه دوئ په کلام دعربو کښې غیر منصرف ومونددلې شو او غیر منصرف کښې دوه اسباب د منع صرف ضروري وي، او یا یو سبب قائمقام د دوه سببونو نو دوئ کښې یو سبب موجود وو چه علمیت دي، او دویم سبب پکښې نه وو، نو نحویانو پکښې بل سبب عدل فرض کړو چه عمرُ معدول دي دعامر نه او زفر معدول دي د زافرنه، نو بل دلیل نه وو خو صرف فرض کړې شو.

(٢) **وصف**: بل سبب وصف دي، چه کله په اصل کښې د وصفي معنی دپاره استعمال شي اګرچه وروسته د چا دپاره

علم شي خو دغه وصف کیدل به دَ غیر منصرف دَ کیدو کار کوی، لکه مثالٗ (ارقم) شو یا (احمر) شو، اول په معنی د برګوالي او دویم په معنی د سوروالی، یو یو سبب پکښ وصف شو اوبل سبب پکښ وزن فعل شو.

(۳) **تانیث** : بل سبب تانیث دې، بیا تانیث په دوه قسمه دې یو لفظی اوبل معنوی، که علامه دتانیث پکښ موجوده وه اګرچه هغه مؤنث نه وی لکه طلحة شو یا مؤنث وی لکه فاطمة شو، نو دغه تانیث لفظی شو، اوتانیث معنوی هغه ته وائی چه لفظًا هغې کښ علامه دتانیث نه وی،لکه زینب شو، په طلحة اوزینب کښ یوشرط تانیث اوبل شرط علمیت شو.

فائده : البته دَ تانیث معنوی دَ سببیت دپاره یو شرط علمیت دې اوبل شرط یو دَ دریو شیانوته خوبه یوپکښ ضروری وی (۱) دری حروفونه به زائد وی، لکه زینب شو (۲) متحرك الاوسط به وی لکه سَقَرُ شو (۳) اویابه عجمی وی.

فائده : اوکه تانیث په الف ممدوده یا الف مقصوره سره وی نو بیا دویم سبب ته ضرورت نشته دې ځکه چه دغه مذکوره قائم مقام دَ دوه سببونو دې، مثال لکه (حمرا) شو یا دَ دویم مثال لکه (حبلی) شو او دوئ سره هیڅ شرط نشته دې په سبب کښ.

(۴) **معرفه** : څلورم سبب معرفه ده، خو معرفه په خپل کور کښ په اوه قسمه ده لکه چه تفصیل یې تیرشوې دې، دلته

صرف یو قسم (علم) مراد دې، نو شرط دمعرفې دغیر منصرف کېدلو دادې چه معرفه موجوده شي خاص په علم کښې نه په نورو اقسامو کښې، مثال لکه. زینب شو چه یو سبب پکښې علمیت دې او بل سبب پکښې تانیث دی. او هغه باقي اقسام دمعرب دحکم نه خارج دی په مبنیاتو کښې شما ردی.

(۵) **عُجمه**: بل سبب عُجمه ده. عجمه هغه لفظ دې چه عربي نوی وضع کړې، بیا عجمه چه غیر منصرف کېږي دَهغې دپاره دوه شرطونه دی (۱) چه علم به وی دغه عجمه په عجمي ژبه کښې لکه ابراهیم شو. (۲) دویم شرط دادې چه متحرك الاوسط به وی لکه شُتَرُ شو چه نوم دقلم دې، نو نوح منصرف شو ځکه متحرك الاوسط نه دې، یابه زائد په درې حروفو وی لکه ابراهیم شو، نو هر یو کښې یو سبب علمیت او بل سبب عجمه شو.

(۶) **جمع**: بل سبب جمع ده: خود جمع نه مراد صیغه دمنتهی الجموع ده. یعني هغه جمع چه انتهاء ته رسیدلې وی او دوباره په جمع تکسیرې سره نه جمع کېږي بلکه انتهاء دجمع تکسیرې پرې راغلې وی. نو ځکه دا قائمقام ددوه سببونو ده. لکه: مساجد او مصابیح شو.

(۷) **ترکیب**: بل سبب ترکیب دې: یعنې چه دوه کلمې جدا جدا نومونه لری او بیا دواړه یو ځای شي او د دریم شي دپاره نوم شي. لکه معدیکرب شو. معدی یو نوم دې او کرب بل

نوم جوړ شي دپاره نوم جوړ نوم دي، بیا پکښې ترکیب وشو او د دریم شي دپاره نوم جوړ نوم دي، بیا پکښې ترکیب وشو او بل سبب معرفه شوه.
شو نو یو سبب ترکیب شو او بل سبب معرفه شوه.

(۸) **وزن فعل**: بل سبب وزن فعل دي: یعني اسم چه په وزن دَ فعل راشي او دَ فعل نه اسم ته نقل شي، لکه احمد شو، چه په وزن د افعل دي، نو سبب پکښې وزن فعل شو، اوبل سبب پکښې علمیت شو.

(۹) **الف اونون زائدتان**: بل سبب یعني آخري سبب الف او نون زائدتان دی، یعني الف اونون چه اصلي نه وي بلکه زائد وي او په آخر دَ اسم کښې راشي، او که په آخر دَصفت کښې راشي نو مؤنث به یې دفعلانة په وزن نه راځي. لکه سکران شو. او مؤنث یې سکرئ راځي. اوندمان منصرف شو ځکه مؤنث یې ندمانة راځي. مثال لکه عمران شو. نویو سبب پکښې علمیت دي اوبل سبب پکښې الف اونون زائدتان دی ځکه چه داپه اصل کښې (عمر) وو. الف اونون پکښې زائد دی

ششم اسماء سته مکبره وقتیکه مضاف باشد بغیر یائ

شپږم قسم اسماء سته مکبره دی. هغه وخت کښې چه مضاف وی خوبغیر دیاء

متکلم چون اَبٌ واَخٌ وحَمٌ وهَنٌ وفَمٌ وذومالٍ رفع شان

دمتکلم نه. مثال لکه اَبٌ او اَخٌ او حَمٌ او هَنٌ او فَمٌ او ذومال شو. حالت رفعی

بواو باشد و نصب بالف وجر بیاء

به یې په واو سره وی او حالت نصبی به په الف سره وی او حالت جری به یې په

چون جاء أبوك ورأيتُ اباك ومررتُ بابيك

یاء سره وی مثال لکه، جاء ابوك ورأیتُ اباك ومررت بابیك

مکبر: صیغه د اسم مفعول باب تفعیل ده، مکبر مقابل د مصغر دې او په مصغرکښې کموالې وی، یعنی هغه اسماء سته چه مکبره وی اومصغره به نه وی، مضاف به وی او یاء د متکلم ته به مضاف وی نو ددوئ اعراب به اعراب بالحرف وی.

الفاظ	معانی	الفاظ	معانی
حم	لیوردښځې	ذومال	مالدار
هن	شرمگاه	اخ	رور
فم	خوله	اب	پلار

خودغه شپږو واړه اسماء سته مکبره معرب کولې شی په اعراب بالحرف سره، حالت رفعی به یې په واو سره وی او حالت نصبی به یې په الف سره وی اوحالت جری به یې په یا سره وی، او مثالونه یې په متن کښې ذکر شو.

هفتم مثنٰی چون رجلان هشتم کلا وکلتا مضاف بمضمر

اوم قسم مثنٰی ده لکه مثال، رجُلان شو، اتم قسم کلا وکلتا دې چه مضاف وی ضمیرته

نهم اثنان واثنتان رفع شان بالف باشد ونصب وجر بیائ

نهم قسم اثنان اواثنتان دې، رفعه به یې په الف سره وی، نصب اوجربه یې په

ماقبل مفتوح چون جاءَ رَجُلَانِ وَكِلَاهُمَا وَاثْنَانِ وَرَأَيْتُ

یاء سره وی چه ماقبل به ترینه مفتوح وی مثال لکه جاء رجلان وکلاهما واثنان شو

رَجُلَیْنِ وَکِلَیْھِمَا وَاثْنَیْنِ وَمَرَرْتُ بِرَجُلَیْنِ وَکِلَیْھِمَا وَاثْنَیْنِ

اورأیت رجلین وکلیهما واثنین شو ، او مررت برجلین وکلیهما واثنین شو.

اووم قسم د اسم متمکن تثنیه ده او اتم قسم کلا وکلتا دی. خو چه مضاف وی ضمیرته ، اونهم قسم اثنان او اثنتان دی، ددغه مذکوره درې وارو حالت رفعی به په الف سره اوحالت نصبی اوجری به په یا سره وی چه ماقبل دَ هغې نه مفتوح وی، او مثالونه یې په متن کښې ذکر شویدی، البته د متن په مثال کښې اثنان او اثنتان نه دی ذکر خو اصل یې ذکر دی چه کلا او اثنان دی ، صرف دمؤنث سره دَ فرق دپاره پکښې تا زیاته شویده.

دهم جمع مذکرسالم چون مسلمون، یازدهم اُوْلُوْ دوازدهم

لسم قسم جمع مذکر سالم الکه مثال مسلمون، یوولسم قسم اولو دې دولسم قسم

عشرون تا تسعون رفع شان بواو ماقبل مضموم باشد

عشرون دې تر تسعون پورې، حالت رفعی یې په واو سره دې چه ماقبل به مضموم وی

ونصب وجر بیای ماقبل مکسور چون جَاءَ مُسْلِمُوْنَ

او حالت نصبی اوجری به په یا سره وی چه ماقبل به مکسور وی، لکه. جاء مسلمون

وَاُوْلُوْمَالٍ وَعِشْرُوْنَ رجلاً وَ رَاَیْتُ مُسْلِمِیْنَ وَاُوْلِیْ مَالٍ

و أولومال وعشرون رجلاً شو. او رأیت مسلمین و أولی مال

وَعِشْرِیْنَ رجلاًوَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِیْنَ وَاُوْلِیْ مال وَعِشْرِیْنَ رَجُلاً

وعشرین رجلاً شو. او مررت بمسلمین و أولی مال وعشرین رجلاً شو.

لسم قسم جمع مذکر سالمه ده چه تعریف یې مخکښې تیر شوې دې، مثال لکه: (مسلمون) شو، یوولسم لفظ د (اولو) دې او دولسم (عشرون) نه تر (تسعون) پورې دې، ددغه مذکوره درې وارو حالت رفعي به په واو سره وی چه ماقبل به یې مضموم وی، اوحالت نصبي اوجری به یې په یاء سره وی چه ماقبل په ترینه مکسور وی، لکه مثالونه یې چه په متن کښې ذکر شو.

معنی یې داده، **حالت رفعي**: (جاء مسلمون۔ الخ) راغلل مسلمانان اوخاوندان دمال او شل ۲۰ سړی.

حالت نصبي: (رأیت مسلمین۔ الخ) ما ولیدل مسلمانان او خاوندان دمال او شل سړی.

حالت جری: (مررت بمسلمین۔ الخ) تیرشوم په مسلمانانو او په خاوندانو دَ مال او شل سړو باندې.

فائده: اول قسم ته جمع حقیقي وائی، دویم ته چه (اولو) دې جمع د (ذو) ده ملحق بالجمع وایی، او دریم قسم ته مشابه بالجمع وائی، دیته عقود ثمانیه وائی چه په حکم د جمع کښې دی.

سیزدهم اسم مقصور وآن اسمی است که در آخرش الف

دیارلسم قسم اسم مقصوره دې، او دا هغه اسم دې چه په آخر کښې یې الف

مقصوره باشد چون موسیٰ ، چهاردهم غیرجمع مذکرسالم

مقصوره وی، لکه مثال موسیٰ، څوارلسم هغه اسم دې چه غیروی دَ جمع مذکرسالم نه

مضاف بیای متکلم چون غلامی، رفع شان بتقدیر ضمه باشد

اومضاف وی یاء دمتکلم ته لکه مثال غلامی شو . حالت رفعی یې په ضمه تقدیری سره

و نصب بتقدیر فتحه وجر بتقدیر کسره

دئ اوحالت نصبی یې په تقدیر دَ فتحې سره دي او جری یې په تقدیر دکسرې سره دي

ودرلفظ همیشه یکسان باشد، چون جَاءَ مُوْسٰی وَغُلَامِیْ

اوپه لفظ کښې به همیشه ظاهراً یو شان وی، لکه مثال جاء موسٰی وغلامی شو

وَرَأَیْتُ مُوْسٰی وَغُلَامِیْ وَمَرَرْتُ بِمُوْسٰی وَغُلَامِیْ

او رأیت موسٰی وغلامی شو او مررت بموسٰی وغلامی شو.

دیارلسم قسم اسم مقصوره دې چه په آخر کښې یې الف مقصوره وی، لکه مثال موسٰی یا عیسٰی شو، څوارلسم قسم هغه اسم دې چه دَ جمع مذکر سالم نه غیروی او مضاف وی یا دَ متکلم ته لکه غلامی شو، ددغه مذکوره دواړه قسمونو اعراب تقدیری وی، یعنی حالت رفعی به یې په تقدیر دَ ضمې سره وی اوحالت نصبی به یې په تقدیر دَ فتحې سره وی او حالت جری به یې په تقدیر د کسرې سره وی، لکه مثال د اول او دویم: (جاء موسٰی وغلامی ... الخ).

سوال: په اسم مقصوره باندې اعراب لفظی ولې نه راځی.

جواب: ځکه چه په آخر دَ اسم مقصوره کښې الف دې او (الف آن باشد که اداء میشود) یعنې چه په اسانئ سره اداء کیږی او دهمیشه لپاره ساکن وی نو که اعراب پرې راشی نو

بیا به ترینه همزه جوړه شي.

سوال: کوم اسم چه غیروی د جمع مذکر سالم نه او مضاف وی یاء د متکلم ته نو په هغې اعراب ولې تقدیری وی

جواب: ځکه چه اضافت دَ یو اسم (یاء) د متکلم ته وشی نو دَ اضافت د وجهې نه په مضاف پاندې اعراب نشی راتلې.

پانزدهم اسم منقوص و آن اسمیست که در آخرش یاء

پنځلسم قسم اسم منقوص دې او دا هغه اسم دې چه په آخر دهغې کښې یاء

ماقبل مکسور باشد چون قاضی رفعش بتقدیر ضمه باشد

او ماقبل دهغې نه مکسور وی. مثال قاضی شو. حالت رفعی په تقدیر دضمې سره دې

ونصبش بفتحه لفظی و جرش بتقدیر کسره چون جَاءَ

او نصب یې په فتحه لفظی سره دې او جریې په تقدیر د کسرې سره دې لکه مثال

الْقَاضِیْ ورَأَیْتُ الْقَاضِیَ وَمَرَرْتُ بِالْقَاضِیْ، شانزدهم

جاء القاضی و رأیت القاضی و مررت بالقاضی شو. شپاړسم قسم

جمع مذکرسالم مضاف بیاء متکلم چون مُسْلِمِیَّ رفعش

جمع مذکر سالمه ده چه مضاف وی یاء د متکلم ته لکه مسلمیّ شو حالت رفعی

بتقدیر واو باشد و نصب وجرش بیاء ماقبل مکسور

به یې په تقدیر دَ واو سره وی او حالت نصبی او جری به یې په یاء سره وی چه ماقبل یې

چون هٰؤُلَآءِ مُسْلِمِیَّ که در اصل مُسْلِمُوْنَ بود، نون

مکسور وی مثال لکه. هؤلاء مسلمیّ. چه په اصل کښې مسلمون وو. نون دَ وجهې

باضافت ساقط شد، واو ویاء جمع شده بودند و سابق

د اضافت نه ساقط شو. بیا واو او یاء جمع شوی وو او سابق ساکن وو

ساکن بود واو را بیا بدل کردند و یا را در یاء ادغام

بیا واو په یاء سره بدل کړو. او یاء یې په یاء کښې مدغمه کړه

کردند مُسْلِمِيَّ شد، ضمه میم را بکسره بدل کردند

نو مسلميّ شو. بیا یې ضمه دمیم په کسرې سره بدله کړه نو مسلميّ شو دواو په حالت

ورأیت بمُسلمِيَّ ومَررْتُ بمُسْلِمِيَّ

رفعي کښې. مثال دحالت نصبی رأیت مسلمي ومررت بمسلمي شو

پنځسلم قسم اسم منقوص دې : اسم منقوص هغه اسم ته وئیلې شی چه په آخر کښې یې (یاء) وی او ماقبل ترې مکسور وی لکه قاضی شو. د اعراب په لحاظ سره به ددې حالت رفعي او حالت جری تقدیری وی، ځکه چه په حالت رفعي کښې ضمه وی او حالت جری کښې کسره وی او ضمه او کسره دواړه ثقیل دی په یا باندې او په حالت نصبی کښې به فتحه وی ځکه فتحه اخف الحرکات ده نو په (یاء) راتلې شی. مثال یې په کتاب کښې ذکر شوې دې هلته دې وکتل شی

شپاړسم قسم. جمع مذکر سالمه ده چه کله یې اضافت (یاء) دمتکلم ته شوې وی لکه مسلميّ شو. اعراب ددې په حالت رفعي کښې واو مقدر وی او په حالت نصبی او حالت جری کښې (یاء) وی چه ماقبل ترینه مکسور وی. حالت رفعي

ځکه تقدیري شو چه په حالت رفعي کښې اعلال شویدي، واو
بدل شویدي په (یاء) سره. بیا (یاء) په (یاء) کښې مدغمه شویده
. نو داعلال دَ وجهې نه واو باقي پاتې نه شو. ځکه واو مقدر
وي. او په حالت نصبي او جري کښې صرف ادغام شویدي او
ادغام یو شی نه ختموي بلکه تلفظ پرې کیدې شی. مثال یې
په کتاب کښې په تفصیل سره ذکر دي (خذ هذا).

فصل بدانکه اعراب مضارع سه است رفع ونصب وجزم

دافصل دې. پوهه شه ای طالبه چه اعراب دمضارع درې دي. رفع. نصب. جزم

فعل مضارع باعتبار وجوه اعراب بر چهار قسم است

فعل مضارع په اعتبار د وجوه دَ اعراب سره څلور قسمه ده

اول صحیح مجرد ازضمیر بارز مرفوع برای تثنیه وجمع

(۱) اول قسم صحیح مجرد دې دَضمیر بارزه مرفوعه نه چه هغه وي دپاره دتثنیه او د جمع

مذکر وبرای واحد مؤنث مخاطبه رفعش بضمه باشد و

مذکرې او واحده مؤنثه مخاطبه دپاره وي. رفعه به یې په ضمې سره وي او نصب به

نصب بفتحه وجزم بسکون چون هویَضْرِبُ ولَنْ یَضْرِبَ

یې په فتحې سره وي او جزم به یې په سکون سره وي. لکه هو یضرب شو اولن یضرب شو

ولَمْ یَضْرِبْ، دوم مفرد معتل واوی چون یَغْزُوْ ویائی

اولم یضرب شو (۲) دویم قسم مفرد معتل واوي دې. لکه یغزو اوبل یائی دي

چون یَرْمِیْ رفعش بتقدیر ضمه باشدونصب بفتحه لفظی

لکه یرمی شو. رفع د دې په تقدیر دضمې سره ده او نصب یې په فتحه لفظي سره

وجزم بحذف لام چــون هُوَ یَغْزُوْ و یَرْمِیْ وَ لَنْ یَغْزُوْ

اوجزم ددې په حذف دلام سره دې. مثال. هویغزو ویرمی شو او لن یغزوشو

وَلَنْ یَرْمِیْ وَ لَمْ یَغْزُوْ وَ لَمْ یَرْمِ ، سوم مفرد معتل الفیْ

ولن یرمی شو او لم یغزو او لم یرم شو . (۳) دریم قسم مفرد معتل الفی دې.

چون یرضٰی رفعش بتقدیر ضمه باشدونصب بتقدیر فتحه

لکه یرضٰی شو. رفع ددې په تقدیرد ضمې سره ده اونصب یې په تقدیر دفتحې سره دې

وجزم بحذف لام چون هو یرضٰی ولَنْ یَرْضٰی ولَمْ یَرْضَ

اوجزم ددې په حذف دلام سره دې . لکه هویرضٰی اولن یرضٰی اولم یرضَ شو

هر کله چه مصنف فارغ شو دبیان د اسم متمکن نه. نو شروع یې وکړه په فعل مضارع کښ. دفعل مضارع څوارلس صیغې دی. جمع مؤنث غائبه او جمع مؤنث مخاطبه مبنی دی او باقی دولس صیغې معرب دی چه کله دنون تاکید نه خالی وی. نو دفعل مضارع اعراب هم درې دی. ضمه. فتحه. سکون. حالت رفعی یې په ضمې سره دې او حالت نصبی یې په فتحې سره دې اوحالت جری یې په سکون سره دې. او فعل مضارع په اعتبار دوجوه دَاعراب سره په څلور قسمه ده.

اول قسم: صحیح مجرد از ضمیر بارزمرفوع یعنی اول قسم چه صحیح به وی او خالی به وی دښکاره ضمیر دَ عامل نه چه هغه راځی دپاره دَ تثنیه اوجمع مذکر او واحد مؤنث حاضر دپاره. یعنی ضمیردَ فاعل به پکښ پټ وی. چه هغه پنځه

صيغې لاندې ذکر دی، نو حالت رفعی به يې په ضمې سره وی اوحالت نصبی به يې په فتحې سره وی اوحالت جزمی به يې په جزم سره وی، يعنې په درې واړه احوالو کښې به يې اعراب لفظی وی، لکه چه مثالونه يې په کتاب کښې واضح دی.

دويم قسم معتل واوی: چه مجرد وی دَ ضمير بارز دَ فاعل نه، اعراب به يې حالت رفعی په ضمې تقديری سره وی اوحالت نصبی به په فتحې سره وی لفظًا او په حالت جزمی به يې په حذف د واو او ياء سره وی، يعنې لام کلمه به غورځيږی دحرف علت کيدو دَ وجهې نه.

دريم قسم: **معتل الفی**: چه مجرد وی دضمير بارز مرفوع نه، اعراب به يې په حالت رفعی کښې په ضمه تقديری سره وی اوپه حالت نصبی کښې به په فتحې تقديری سره وی او په حالت جزمی کښې به په حذف دالف سره وی، ځکه چه جازم حرکت غورځوی، اومناسب دَ حرکت هم غورځوی، خو دا په فعل مضارع کښې په پنځه صيغو کښې راځی، يعنې دا درې مذکوره قسمونه (۱) واحد مذکرغائب (۲) واحده مؤنثه غائبه (۳) واحد مذکر مخاطب (۴) واحد متکلم (۵) جمع متکلم

چهارم صحيح يا معتل باضمائر و نونهاىٔ مذکوره

خلورم قسم صحيح يامعتل دې چه سره دَ ضمائرو اونوناتو دې چه مذکور دې په متن کښې

رفع شان باثبات نون باشدچنانکه درتثنيه گوئی هُمَا يَضْرِبَانِ

حالت رفعی ددې په اثبات دنون سره وی لکه چه ته به وائې په تثنيه کښې هما يضربان

وَيَغْزُوَانِ وَيَرْمِيَانِ وَ يَرْضَيَانِ و درجمع مذکر گوئی هُمْ

و یغزوان و یرمیان و یرضیان او په جمع مذکر کښې به داسې وایې هم

يَضْرِبُوْنَ وَيَغْزُوْنَ وَيَرْمُوْنَ وَيَرْضَوْنَ ودرمفردمؤنث حاضر

یضربون ویغزون ویرمون ویرضون او په مفرد مؤنث حاضر کښې به داسې

گوئی اَنْتِ تَضْرِبِيْنَ وَتَغْزِيْنَ وَتَرْمِيْنَ وَتَرْضَيْنَ ونصب

وائی ، انت تضربین و تغزین و ترمین و ترضین او نصب

وجزم بحذف نون چنانکه در تثنیه گوئی لَنْ يَّضْرِبَا وَلَنْ

اوجزم به په حذف دنون سره وی لکه چه په تثنیه کښې به وائی لن یضربا ولن

يَغْزُوَا وَلَنْ يَّرْمِيَا وَلَنْ يَّرْضَيَا وَلَمْ يَضْرِبَا وَلَمْ يَغْزُوَا وَلَمْ

یغزوا ، ولن یرمیا ولن یرضیا ولم یضربا ولم یغزوا ولم

يَرْمِيَا وَلَمْ يَرْضَيَا و درجمع مذکر گوئی لَنْ يَّضْرِبُوْا وَلَنْ

یرمیا ولم یرضیا شو او په جمع مذکر کښې به داسې وایې لن یضربوا ولن

يَّغْزُوْا وَلَنْ يَّرْمُوْا وَلَنْ يَّرْضَوْا وَلَمْ يَضْرِبُوْا وَلَمْ يَغْزُوْا وَ

یغزوا ولن یرموا ولن یرضوا ولم یضربوا ولم یغزوا و

لَمْ يَرْمُوْا وَلَمْ يَرْضَوْا و در واحد مؤنث حاضر گوئی

لم یرموا ولم یرضوا شو . اوپه واحد مؤنث حاضر کښې به داسې وایې

لَنْ تَضْرِبِيْ وَلَنْ تَغْزِيْ وَلَنْ تَرْمِيْ وَلَنْ تَرْضَيْ وَلَمْ تَضْرِبِيْ

لن تضربی ولن تغزی ولن ترمی ولن ترضی ولم تضربی شو ،

وَلَمْ تَغْزِيْ وَلَمْ تَرْمِيْ وَلَمْ تَرْضِيْ.

اودغه شان ولم تغزی ولم ترمی ولم ترضی شو.

خلاصه دا شوه چه فعل مضارع دَ پنځو صیغو بیان مخکښې تیر شو، په هغې درې قسمونو کښې اوس دې څلورم قسم کښې اعراب دَ باقي اوو صیغو بیانوی، (۱) جمع مذکر غائب (۲) جمع مذکر حاضر (۳) واحد مؤنث حاضر (۴) تثنیه مذکر غائبه (۵) تثنیه مذکر حاضر (۶) تثنیه مؤنث غائبه. (۷) تثنیه مؤنثه حاضره.

دغه مذکوره صیغې که صحیح وی اوکه معتل وی، واوی وی اوکه یائی وی اوکه الفی وی دَ ټولو اعراب یوشان دې، حالت رفعی کښې په ټولو صیغو کښې نون اعرابی باقی وی. او په حالت نصبی اوجزمی کښې نون اعرابی غورځیږی، په حالت نصبی کښې چه نون غورځیږی دا ځکه چه حالت نصبی تابع دې دَ حالت جزمی لکه چه دا مقوله ده «لانّ الجزم فی الافعال کالجرّ فی الاسماء» نو جزم مشابهت ورکړو دجر سره او په اسماء کښې نصب تابع دجر راغلې دې، نوپه افعالو کښې هم دغه شان شو، او په حالت جزمی کښې خو نون ځکه غورځیږی چه حرف جازم حرکت غورځوی، نوځوك چه قائمقام دحرکت وی هغه به هم غورځوی، لکه نون شو، چه په ځای دحرکت راغلې دې.

فصل ، بدانكه عوامل اعراب بر دوقسم است لفظی و
دافصل دي. پوهه شه ای طالبه عوامل داعراب په دوه قسمه دی يولفظي دی او

معنوی ، لفظي برسه قسم است حروف وافعال واسماء
بل معنوي دی ، لفظي په دري قسمه سره دی (۱) حروف (۲) افعال (۳) اسماء

واين را در سه باب ياد كنيم ان شاء الله تعالى
دغه دري واړه مونږ په دري بابونو کښې ذکر کوو ان شاء الله تعالى

باب اول در حروف عامله ودر او دو فصل است
اول باب په بيان دَ حروف عامله ؤكښې دي او په هغې کښې دوه فصله دی

فصل اول: درحروف عامله دراسم وآن پنج قسم است
(۱) اول فصل. په حروف عامله داسم كښې دي او هغه بيا په پنځه قسمه دی

اول حروف جروآن هفده(۱۷) است باومن والى وحتى
اول قسم په حروف جاره کښې دي. اوهغه اوولس حروف دی (۱) با (۲) من (۳) الی (۴) حتی

وفى ولام ورُبّ وواوقسم وتاء قسم وعن وعلى و كاف
(۵) فی (۶) لام (۷) ربّ (۸) واو قسم (۹) تاء قسم (۱۰) عن (۱۱) علی (۱۲) کاف

تشبيه ومذ ومنذ وحاشا و خلا وعدا اين حروف در
تشبيه (۱۳) مذ (۱۴) منذ (۱۵) حاشا (۱۶) خلا (۱۷) عدا . دغه مذكوره حروف

اسم روند و آخرش را بجر كنند چون المال لزيد
په اسم باندي داخليږي اوآخر داسم لره جر وركوى لكه مثال. المال لزيد شو.

(۱) عوامل جمع دَ عامل ده ، اودعامل تعريف دادي چه : ((ما

اوجب كون آخر الكلمة على وجه مخصوص من رفع او نصب اوجزم» ، بيا په اسم معرب او مضارع معربه كښې چه عمل كوي يعنى اعراب پيدا كوي نو هغه دوه قسمه دى : (۱) عوامل لفظيه (۲) عوامل معنويه.

عامل لفظى هغې ته وائى چه : «مايعرف بالقلب ويتلفظ باللسان» اوعامل معنوى هغې ته وائى چه «مايعرف بالقلب ولايتلفظ به اللسان». بيا دغه عوامل لفظيه په درې قسمه دى : ۱ ـ حروف عامله ، ۲ ـ افعال عامله ، ۳ ـ اسماء عامله.

اول باب په بيان دحروف عامله كښې دې او په دې كښې دوه فصله دى : اول فصل په بيان دَ هغه حروفو كښې دې چه په اسم كښې عمل كوى اوفعل كښې عمل نه كوى ، اوپه دويم فصل كښې هغه حروف بيانوى چه په فعل مضارع كښې عمل كوى او په اسم كښې عمل نه كوى.

كوم حروف چه په اسم داخليږى هغه پنځه قسمه دى : اول قسم په هغوئ كښې حروف جاره دى اوحروف جاره ورته ځكه وائى چه خپل مدخول ته جر وركوى، بيا دغه حروف جاره مجموعه اولس دى، مثال لكه : المال لزيدٍ شو ، نو پدې مثال كښې لام حرف جر دې او اسم ته چه (زيدٍ)دې جريې وركړيدې، دغه شان په نوروتولو كښې ته په خپله مثالونه جوړكړه. **شعر**

بـاوتــاوكـاف لام واو مــنـذ ومـذ خـلا

رب حاشا من عدا فى عن على حتى الى

دوم حروف مشبه بالفعل و آن شش است اِنَّ و اَنَّ و کَاَنَّ

دویم قسم حروف مشبه بالفعل دی او هغه شپږ دی (۱) اِنَّ (۲) اَنَّ (۳) کَاَنَّ

و لٰکِنَّ و لَیْتَ و لَعَلَّ این حروف را اسمی باید منصوب و

(۴) لٰکِنَّ (۵) لیت (۶) لعل. دغه مذکوره حروف اسم ته نصب ورکوی او

خبری مرفوع چون اِنَّ زَیْدًا قَائِمٌ، زیدٌ را اسم اِنَّ گویند

خبر ته رفع ورکوی، لکه مثال، اِنَّ زیدًا قائمٌ. زید ته اسم د اِنَّ وائی

و قائمٌ را خبر اِنَّ

او قائمٌ ته خبر دَ اِنَّ وائی

دریم قسمه: (مشبّه) صیغه د اسم مفعول باب تفعیل نه ده، او تشبیه معنی یوشی دبل شی سره یوشان کول، نو دوئ ته څکه حروف مشبه بالفعل وائی چه دوئ مشابه کړی شوی دی دَ فعل سره لفظًا او معنًی یعنی څرنګه چه فعل ثلاثی، رباعی او خماسی راځی دغه شان دا حروف هم راځی، دغه شان څرنګه چه فعل پورې کاف خطاب پیوست کیږی همدا شان په دغه حروفو پورې هم کاف خطاب پیوست کیږی لکه (ضربتك) شو، او (انك) شو او په اعتبار دَ معنٰی سره هم مشابهت لری، لکه (اِنَّ او اَنَّ ویل کیږی (حَقَّقْتُ) ته او حققت صیغه دفعل ماضی ده، دغه شان نور حروف هم دروا خله.

دغه حروف مشبه بالفعل به اسم ته نصب ورکوی او خبر ته به رفع ورکوی لکه مثال: (اِنَّ زَیْدًا قائمٌ) شو، چه زید یې اسم

دې هغه ته یې نصب ورکړې او قائم یې خبر دې هغه ته یې رفع ورکړیده ، نو زید مبتداء شو او قائم خبر شو. همدارنګه دا نور باقي هم ددې په شان دی هغه هم پرې قیاس کړه.

بدانکه انَّ واَنَّ حروف تحقیقْ اسْت وکَاَنَّ حرف تشبیه

پوهه شه ای طالب، اِنّ او اَنّ دا حروف تحقیق دی او کَاَنّ حرف تشبیه دی

ولکنّ حرف استدراك ولیْتَ حرف تمنی ولعلّ حرف ترجّیْ

اولکِنّ حرف استدراك دې اولیت حرف تمنی دې او لعلّ حرف ترجّی دې

«اِنّ او اَنّ» دواړه حروف تحقیق دی، خو فرق دادې چه «اِنّ مکسورالهمزه دې او «اَنّ» مفتوح الهمزه دې او «کاَنّ» حرف تشبیه دې ، یو شی کښې څه شې کم وی او بل شی کښې هغه شی زیات وی نو خلق دا کم شی په دغه شی کښې دَهغه زیات شی سره مشابه کوی لکه مثال «کاَنّ زید اسداً» شو ، ښاهره خبره ده چه زمری کښې شجاعت زیات وی، اوزید کښې کـ وی خو دزید مشابهت یی ورکړیدې دَ زمری سره، یعنی د. اړه بهادران دی نو زید مشبه شو او اسد مشبه به شو.

«لکنّ» دَ استدراك دپاره راځی، یعنی وهم لری کول یعنی څوك یو خبره وکړی بل چاته وهم پیدا شی نو دَهغه دَ دفع کولو دپاره لکنّ راځی، لکه مثال خالد قول وکړی چه واجد راغلې نو بل طرفته امجد خیال راغې چه واجد خو یوازې نه ګرځی دهغه خپل ملګرې بکر به هم ورسره وی نو خالد

سمدستي قول وكړي چه (جاء واجد ولكنّ بكر ماجاء) نو هغه خيال او وهم د امجد ختم شي.

(ليت) : دَ تمنا دپاره راځي، برابره خبره ده كه تمنى دَ ممكن وي او كه د ناممكن وي، لكه مثال يو سړي قول وكړي چه (ليت زيداً عالم) دَ دويم مثال لكه، يو كمزوري بوډا قول وكړي چه (ليت الشباب يعود) يعني ځواني وريادہ شي بيا. قول وكړي چه كاش بيا ځواني راشي.

(لعلّ) دَ ترجي دپاره راځي، يعنى دَ يو ممكن شي دَ توقع دپاره راځي، لكه (لعل السلطان يكرمنى) يعني كيدي شي توقع ده چه بادشاه زما عزت وكړي، او دا ممكنه هم ده چه په خپل ځان كښ داسي كمالات پيدا كړي.

سوم ما ولا المُشَبَّــهَتَان بِلَــيْسَ وآن عمل ليس كنند

اودريم قسم ما اولا دي چه مشابه وي دَ ليس سره، دغه ما اولا عمل دليس كوي

چنانكه گوئي مازيدٌ قائمًا، زيداسم ما است وقائمًاخبر او

لكه چه ته به وائي (مازيدٌ قائمًا) زيد اسم د ما دي او قائمًا خبر دَ ما دي.

دريم قسم ما او لا دي چه مشابه وي دَ ليس سره ، او عمل دَ ليس كوي او مشبهتان ورته ځكه وائې چه دوئ مشابه دي دَ ليس سره په نفي كښ او دويم په دخول كښ په مبتداء او خبر باندي، يعني څرنگه چه ليس راځي دَ نفي دپاره نو دغه شان ما اولا هم راځي. دغه شان څرنگه چه ليس په مبتداء او خبر داخليږي دغه شان ما اولا هم په مبتداء اوخبر داخليږي

اوس فرق په مابين دَ ما او لا کښې دادې چه (ما) داخليږي په
معرفه اونکره باندې، او (لا) صرف په نکره داخليږي.
نوعمل دَليس خودادې چه رفع ورکوي اسم ته اونصب
ورکوي خبر ته دغه شان ما اولا هم رفع ورکوي اسم ته او
نصب ورکوي خبرته، مثال لکه، (مَا زَيْدٌ قَائِمًا) شو.

چهارم لائ نفي جنس اسم این لا اکثر مضاف باشد

څلورم قسم لائ نفي جنس دې، اسم ددې لا اکثر نکره مضاف وي

منصوب وخبرش مرفوع چون لاَ غُلاَمَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ فِي

اومنصوب وي اوخبر ددې لا مرفوع وي لکه مثال، لاغلام رجل ظريف في

الدَّارِ، واگر نکره مفرد باشد مبنی باشد بر فتحه چون

الدارشو، اوکه چيرې اسم دَلانکره مفرد وو نو بيابه مبني وي په فتحې سره لکه مثال

لاَ رَجُلَ فِي الدَّارِ، واگر بعد او معرفه باشد تکرار لا با

لارجل فی الدارشو، اوکچرې پس دَلانه اسم معرفه وو، نوبيا تکرارد لا سره د

معرفه ديگر لازم باشد ولاملغي باشد يعني عمل نکندو

معرفې بلې نه لازم دې اولا به دعمل نه لغووي يعني عمل به نه کوي او

آن معرفه مرفوع باشد بابتداء، چون لاَزَيْدٌ عِنْدِي وَلاَعَمْرٌ

اوهغه اسم معرفه په مرفوع وي بنابر ابتدائيت، لکه، لازيدٌ عندي ولا عمر

واگربعد آن لانکره مفرد باشد مکرر بانکره ديگر درو

اوکچرې ورروسته دَلا نه نکره مفرده وي چه مکرر وي سره دنکرې بلې نه نو په

پنج وجه رواست چون، لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ وَلَاحَوْلَ هغې کښې پنځه وجهې جائزې دی، لکه : (۱) لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّابِاللهِ (۲) وَلَاحَوْلَ
وَلَا قُوَّةً اِلَّا بِاللهِ وَلَا حَوْلَ وَلَاقُوَّةُ اِلَّا بِاللهِ وَلَاحَوْلٌ وَلَا وَلَا قُوَّةً اِلَّا بِاللهِ (۳) وَلَاحَـوْلَ وَ لَاقُوَّةُ اِلَّا بِاللهِ (۴) وَلَا حَوْلٌ وَ لَا
قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ وَلَاحُوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ. قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ (۵) وَ لَاحَوْلُ وَ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ.

څلورم قسم لائ نفی جنس ده، اولا نفی جنس ورته ځکه وائی چه دا کله راځی دنفی دَ جنس دپاره اوکله دَ نفی دَ صفت دپاره هم راځی، مثال دجنس لکه : (لارجل فی الدار) شو، دا په مبتداء او خبر داخلیږی، مبتداء ته اسم دَ لا وائی او خبر ته خبر دَلا وائی، خو قانون پکښې دادې چه اسم ددې لا په اکثرو وختونو کښې مضاف وی او منصوب وی، او خبر ددې مرفوع وی او اسم ددې به معرب وی په اعراب دَ نصب سره، او که اسم دَ لا نکره وو اومفرد وو نو پدغه صورت کښې به مبنی برفتحه وی، لکه مثال یو شخص سوال وکړی چه : (هل من رجل فی الدار) جواب وشو چه (لارجل فی الدار)

اوکه اسم د لا معرفه وو، نو پدغه صورت کښې به دغه اسم مرفوع وی، بنا برابتدائیت اوتکرار دَلا به ضروری وی دَ بل معرفه سره، او لا به لغوه وی دَعمل نه، لکه : (لازیدٌ عندی ولاعمرٌ) شو، زید مبتداء شو او عندی ورته خبر شو

او که دَ لانفی جنس نه بعد اسم نکره مفرده وی او دهغې نه بعد دَحرف عطف په ذریعه سره بل لا او اسم نکره هم وی نو پدغه صورت کښې پنځه وجهې روا دی.

۱	لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ	دواړو کښې فتحه ده	دواړو کښې لا دَ نفی جنس دې اودهغه اسم نکره مفرد مبنی برفتحه دې
۲	لَاحَــوْلٌ وَلَاقُوَّةٌ	دواړو کښې رفعه ده	دواړو کښې لا بمعنی لیس، یعنی لا زائد شـو، عمل لغـوه شـو مرفوع بنا بر ابتدائیت شو.
۳	لَاحَــوْلَ وَلَاقُوَّةٌ	فتحـه اول، رفـع ثانی	اول کښې لا دَ نفی جنس او دویم کښې لا بمعنی لیس دې
۴	لَاحَــوْلٌ وَلَاقُوَّةَ	رفع اول فتحه ثانی	اول کښې لا په معنی دَلیس، او دویم کښې لا دَ نفی دَجنس
۵	لَاحَــوْلَ وَلَاقُوَّةً	فتحـه اول، نـصب ثانی	اول کښې لا دَ نفی دَجنس او دویم کښې لازائد دې،

یعنی (لا) به زائد شی او دنفی دَ تاکید دپاره به وی او دده اسم به محلاً منصوب وی یعنی دَ اول لا پـه محل باندې عطف شو او هغه منصوب دې نو دې هم منصوب شو

پنجم حروف نداو آن پنج است: یَا و اَیَا وَای و همزه مفتوحه

پنځم قسم حروف نداء دی اودغه پنځه دی (۱ یا، ۲ ایا، ۳ هیا، ۴ ای، ۵، همزه مفتوحه اودغه

واین حروف منادای مضاف رابنصب کند چون یا عبدالله

حروف چه په منادی داخل شی هغه منادی چه مضاف وی هغې ته نصب ورکوی، لکه یاعبدالله

ومشابه مضاف راچون یا طالعًا جبلاً ونکره غیر معیّن را

او چه مشابه وی دَ مضاف سره هغې ته هم نصب ورکوی لکه یا طالعًا جبلاً او نکره غیر

چنانکه اعمٰی گوید یا رجلاً خُذْ بِیَدِیْ ومنادیٰ مفرد

معین ته هم نصب ورکوی لکه یو روند سړی وائی یا رجلاً خذ بیدی او منادی چه مفرده

معرفه مبنی باشد برعلامت رفع چون یَازَیْدُ ویَازَیْدَانِ

معرفه وی نو مبنی په فتحې سره وی په علامه دَ رفعې سره لکه ، یازید او یا زیدانَ

ویَا مُسْلِمُوْنَ و یَا مُوْسٰی ویا قَاضِیْ ، بدانکه اَیْ وهمزه

او یا مسلمون او یا موسٰی او یا قاضی شو . پوهه شه ای طالبه چه أیْ او همزه

برای نزدیك است واَیَا وهَیَا برای دور و یا عام است

مفتوحه دَ نزدی دپاره وی او ایا او هیا دلرې دپاره وی او یا عامه ده

پنځم قسم حروف نداء دی : ندا په لغت کښې مطلق آواز ته وائی، ندا صیغه دَ مصدر ده او منادیٰ صیغه دَ اسم مفعول ده معنی آواز کړې شوې، بیا حروف نداء پنځه دی، بیا په عمل کولو ددغه حروف مذکوره کښې تفصیل دې، په درې صورتونو کښې نصب ورکوی منادیٰ ته (۱) چه منادی مضاف وی (۲) یا منادیٰ شبه مضاف وی (۳) یا نکره غیر معینه وی، مثال د اول لکه یا عبدالله شو . نو عبد منادیٰ ده او مضاف ده او لفظ دَ الله مضاف الیه دې، ددویم مثال لکه . یا طالعًا جبلاً شو ، نو طالعًا منادی او مضاف سره مشابه ده، یعنی دَ مضاف په شان ده، یعنی دَمضاف پشان معنی د مضاف الیه

نه په غیر نه پوره کیږي. نو دغه شان د طالعًا معنی هم بغیر دَ جبلاً نه پوره کیدې نشي، دَ دریم قسم مثال لکه ، ړوند سړې قول وکړي چه یا رجلاً خُذ بیدی، ای سړیه خما لاس ونیسه نو نامعلوم سړي ته یې آواز وکړو ، نو رجلاً نکره غیر معینه ده، نو منصوبه ده، (۴) که منادی مفرده معرفه وي نو بیا به منادیٰ مبنی علی ضمه وي لکه یازیدُ شو ، نو زید منادیٰ مفرد معرفه اومبنی علی ضمه ده، دغه شان یا زیدان داهم مبنی ده په علامه دَ رفع سره چه الف دې، ځکه تثنیه کښې حالت رفعي په الف سره وي.

سوال : زیدان خو مفرد ندې بلکه تثنیه ده.

جواب : مفرد کله دَ تثنیه اوجمع په مقابله کښې وي اوکله مفر دَ مرکب په مقابله کښې وي، اوکله دَ جمع په مقابله کښې وي اوکله دَ مضاف اوشبه مضاف په مقابله کښې وي او دلته هم دا آخري قسم مراد دې، یعنی چه نه مضاف وي اونه شبه مضاف.

دغه شان نور مثالونه لکه : یا مسلمون شو ، نو مسلمون منادی مفرد معرفه مبنی علی الواو ده، یا لکه : موسیٰ او یا قاضی شو ، دلته هم منادیٰ مبنی علی الضمه ده خو رفع تقدیري ده.

سوال : مثال خو یو کافي وو نو زیاتو مثالونه ته څه ضرورت وو.

جواب: ځکه چه دَ ټولو مثالونو نه په غیر وضاحت نه کیده

دَ پنځو حروفو داستعمال طریقه : همزه دپاره دَقریب راځی ځکه چه همزه کښې حروف قلیل دی چه هغه صرف یو حرف دې او قلت دحروف دلالت کوی په قلت دمسافت باندې او (ای) هم نزدې دپاره راځی لیکن دَ همزې نه پکښې یو حرف زیات دې نو دَ وسط دپاره استعمال کښې راځی، او (آیا، هیا) دَ بعید دپاره راځی ځکه چه دوئ کښې کثرت دَ حروفو دې او کثرت دَ حروفو په کثرت دمسافت دلالت کوی، او (یا) عامه ده ځکه اصل ده په ندا کښې اوتعمیم ورسره مناسب دې.

دویم فصل

دویم فصل دې

درحروف عامله درفعل مضارع وآن بر دو قسم است

په بیان دَهغه حروفو کښې چه عمل کوی په فعل مضارع کښې اوهغه بیا په دوه

قسم اول حروفیکه فعل مضارع را بنصب کنند وآن

قسمه دی اول قسم هغه حروف دی چه فعل مضارع لره نصب ورکوی اوهغه

چهار است اول اَنْ چون اُرِيْدُ اَنْ تَقُوْمَ واَنْ بافعل بمعنی

څلور حروف دی (۱) اَن دې لکه أُرید أن تقومَ دغه ان مع الفعل چه تقدم دې په معنی

مصدرباشد یعنی اُرِيْدُ قِيَامَكَ وبدین سبب اورا مصدریه

دَ مصدرگرځی یعنی داسې وئیل کیږی أُرید قیامك اوپه همدې وجه دیته ان

گویند، ۲- م لَنْ چون لَنْ يَّخْرُجَ زَيْدٌ و لن برای تاکید نفی

مصدریه وائی (۲) لن دې . مثال لکه لن یخرج زیدٌ شو . اولن دنفی دتاکید

است، سوم كَیْ چون اَسْلَمْتُ كَیْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ چهارم اِذَنْ

دپاره دي ، (۳) كَیْ دي ، لكه مثال اسلمت كی ادخل الجنة شو ، (۴) اِذَنْ دي

چون اِذَنْ اُكْرِمُكَ در جواب كسيكه گويد اَنَا آتِيْكَ غَدًا

لكه مثال اِذَنْ اكرمك ، دهغه سړی په جواب كښې چه وائی زه تاته صبا راځم.

دریم فصل دې په بیان دهغه حروفو كښې چه فعل مضارع كښې عمل كوی نو فعل مضارع كښې چه كوم حروف عمل كوی هغه په دوه قسمه دی (۱) حروف ناصبه (۲) حروف جازمه ،

كوم حروف چه فعل مضارع ته نصب وركوی هغه څلور حروف دی لكه چه پدې شعر كښې چه ذكر دی :

اَنْ ولَنْ پس كَیْ اِذَنْ این چار حرف معتبر

نصب مستقبل كند این جمله دائم اقتضاء

دغه مذكوره څلور حروف فعل مضارع كښې پنځه صيغو ته نصب وركوی او د اوو صيغو نه نون اعرابی غورځوی

څلور حروف

(۱) اَنْ : څكه نصب وركوی چه مشابهت لری د اَنَّ سره هغه خپل مدخول ته نصب وركوی نو دې هم نصب وركوی

(۲) دویم لن دې : لكه مثال لن يخرج زيد شو ،

(۳) دریم كَیْ دې : مثال لكه ، اسلمت كَیْ ادخل الجنة يعنی اسلام مې راوړو دَ دی دپاره چه داخل شم جنت ته.

(۴) څلورم اِذَنْ دې : لكه مثال اِذَنْ اُكْرِمُكَ شو ، دا په

جواب دَ هغه چا کښې چه وائی انا آتیك غداً، نو ته ورته په جواب کښې وائی چه اِذَنْ اُکْرِمُكَ، یعنی که ته راغلې نو دغه وخت کښې زه به ستا عزت وکړم

وبدانکه اَنْ بعدازشش حروف مقدرباشدوفعل مضارع

اوپوهه شه ای طالبه، اَنْ وروسته دشپږو حررفونه مقدر کیږی اوفعل مضارع

را بنصب کند حتّی نحو مرَرْتُ حتّی اَدْخُلَ الْبَلَدَ

ته نصب ورکوی (۱) حتی دې، چه حتی نه وروسته اَنْ مقدر کیږی لکه مثال، مررت حتی ادخل البلد ای حتی اَنْ ادخُلَ

ولام جحد نحو مَاکَانَ اللّٰهُ لِیُعَذِّبَهُمْ

(۲) لام جحد دې چه دَ لام جحدنه وروسته مقدر کیږی اَنْ. لکه، ماکان الله لیعذبهم ای ماکان الله ان یعذبهم

و(او) بمعنی اِلیٰ اَنْ اوالاّ اَنْ نحولاَ لْزَمَنَّكَ اَوْ تُعْطِیْنِیْ حَقِّیْ

(۳) او دې، هغه (او) چه په معنی د الی ان او الاّ ان سره وی. لکه لالزمنك اوتعطینی حقی، ای ان تعطینی حقی،

وواوالصرف ولام کی وفاکه درجواب شش چیزاست

(۴) واو الصرف) دې (۵) لام کی دې (۶) هغه فاء ده چه په جواب ددې شپږو څیزنو کښې

امرونهی ونفی واستفهام وتمنی وعرض واَمْثلتها مشهورة

وی، امر، نهی، نفی، استفهام او تمنی اوعرض، اومثالونه یې مشهور دی

هرکله چه مصنف رحمه الله فارغ شو د عواملو ناصبه وونه ظاهراً اوس یې شروع وکړه په هغه ځای کښې چه په هغې کښې

آنْ مقدر وی او فعل مضارع ته نصب ورکوی.

(۱) وروسته دَ حتّی نه آنْ مقدر وی لکه مثال: (مررتُ حتّی ادخل البلد) دلته ادخلَ منصوب دې او دَ نصب دپاره ښکاره وجه نشته دې نو معلومه شوه چه دلته آنْ مقدر دې، نو تقدیر دعبارت داسې شو چه (حتی ان ادخل البلد).

(۲) وروسته د لام جحد نه آنْ مقدر وی، جحد انکار ته وائی او لام جحد هغه لام ته وائی چه دَ تاکید دپاره راځی، لکه مثال: (مَاكَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ) دلته آنْ وروسته د لام جحد نه مقدر دې چه (یعذبهم) ته یې نصب ورکړیدې، نو تقدیر د عبارت داسې شو چه: (ماکان الله لان یعذبهم وانت فیهم).

(۳) وروسته د (أوْ) نه ان مقدر وی: هغه (او) چه په معنی دَ (إلی آنْ) یا (الاّ آنْ) سره وی، لکه مثال (لالزمنّك او تعطینی حقّی) ای الاّ ان تعطینی حقی، نو دلته وروسته د أوْ نه ان مقدر دې، یا (إلی ان تعطینی حقی).

(۴) وروسته دواو صرف نه آنْ مقدر وی: او واو صرف هغه واو ته وائی چه دَ هغه نه ماقبل فعل دَ مابعد فعل سره نه شی یوځای کیدې، لکه مثال: (لاَ تَنْهَ عَنْ خُلُقٍ وَتَأْتِيَ مِثْلَهُ)، (عَارٌ عَلَيْكَ اِنْ فَعَلْتَ عَظِيْمٌ) نو دلته (تأتی) معطوف دې او (تنه عن خلق) معطوف علیه دې، او دمعطوف علیه نه اول لاء نهی راغلې ده، نو د (لاء وتأتی) نه مخکښ نه شی راتلې چه معطوف دې، او که راشی نو معنی کښ به یې فساد راشی.

(۵) وروسته دَ لام کَیْ نه آنْ مقدر کیږی، یعنی لام چه په معنی دکَیْ سره وی لکه مثال: (اسلمت کی ادخل الجنة) ای کی ان ادخل الجنة.

(۶) وروسته دَ هغه (فا) نه ان مقدر کیږی چه دَ شپږو ځیزونو نه دَ یو ځیز په جواب کښ راشی: (۱) امر (۲) نهی (۳) نفی (۴) استفهام (۵) تمنی (۶) عرض، ددغه مذکوره شپږو ځیزونو نه وروسته چه (فا) راشي نو دهغې په جواب کښ به آنْ مقدر کیږی.

امثال: (۱) (زرنی فاکرمك) ای فَاَنْ اکرمك، مثال دامردې.

(۲) دنهی مثال: (لاتشمتنی فاضربك) ای فَاَنْ اضربك.

(۳) دَ نفی مثال: (ماتأتینا فتحدثنا) ای فَاَنْ تحدثنا.

(۴) داستفهام مثال: (هل عندکم ماء فأشربه) ای فان اشربه.

(۵) دتمنی مثال: (لیت لی مال فأنفقه) ای فَاَن انفقه.

(۶) دعرض مثال: (الا تنزل بنا فتصیب خیراً) ای فَاَنْ تصیب خیراً.

قسم دوم حروفیکه فعل مضارع را بجزم کنند وآن پنج

دویم قسم هغه حروف دی چه فعل مضارع لره جزم ورکوی اودغه حروف پنځه

است: لَمْ ولَمَّاولام امر ولاءِ نهی، وَاِنْ شرطیه، چون لم

دی: لم ، ولما ، ولام امر ، ولاءِ نهی ، ان شرطیه ، لکه مثال: لم

یَنصُرْ ولَمَّا یَنصُرْ و لِیَنصُرْ ولاَ تَنصُرْ و اِنْ تَنصُرْ اَنْصُرْ

ینصر ، ولماینصر ، و لینصر و لاتنصر و ان تنصر انصر شو.

بدانکه اِنْ در دو جمله رود چون اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ جمله

پوهه شه ای طالبه چه اِن په دوه جملو باندې داخلیږي لکه: ان تضرب اضرب شو

اول راشرط گویند وجمله دوم را جزاء واِنْ برائ مستقبل

اولې جملې ته شرط وائي او دویمې جملې ته جزاء وائي او (اِن) راځي دپارد

است اگرچه در ماضی رود ، چون اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ

مستقبل ، اگرچه په ماضي داخل شي لکه ، اِنْ ضَرَبْتَ ، ضَرَبْتُ شو.

واینجاجزم تقدیری بود زیراکه ماضی معرب نیست

اودلته جزم تقدیري دې ځکه چه ماضي معرب نه ده

وبدانکه چون جزائ شرط جمله اسمیه باشدیا امریانهی

اوپوهه شه ای طالبه، هرکله چه جزاء دشرط جمله اسمیه وي یا امر وي یانهي وي

یا دُعاء (فا) در جزاء آوردن لازم بود چنانکه گوئی اِنْ

یا دُعاء وي نو (فا) به په جزاء کښې راوړل لازمي وي لکه چه ته به وائي: که ته

تَاْتِیْنِیْ فَاَنْتَ مُکْرَمٌ و اِنْ رَأیتَ زَیْدًا فَاَکْرِمْهُ و اِنْ اَتَاكَ

ماته راغلې نو ته به عزتمند شې اوکه تا زید ولیدو نوعزت یې وکړه اوکه تاته عمرو

عَمروٌ فَلاَ تُهِنْهُ و اِنْ اَکْرَمْتَنِیْ فَجَزَاكَ اللّٰهُ خَیْرًا.

راغلې نو اهانت یې مه کوه اوکه تا خما عزت وکړو نو خدای پاک دې تالره بدله درکړي.

دویم قسم هغه حروف دي چه فعل مضارع ته جزم ورکوي اوهغه پنځه دي: (۱) لم (۲) لما (۳) لام امر (۴) لائ نهي (۵) اِن شرطیه، دوئ فعل مضارع ته جزم ورکوي اوکه په آخر کښې حرف

علت وی نو حرف علت غورځوی، اونون اعرابی هم غورځوی

(ان) په ان کښ تفصیل دې، چه ان داخلیږی په دوه جملو باندې په فعل مضارع باند هم داخلیږی اوفعل ماضی باندې هم داخلیږی خو دمستقبل په معنی گرځی. کله چه په دوه جملو داخل شی اولې جملې ته شرط وائی او دویمې جملې ته جزاء وائی، اوهر کله چه په ماضی باندې داخل شی نو معنی به یې مستقبل ته گرځوی، اوجزم به یې تقدیری وی ځکه چه دا مبنی دې، لکه: (اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ) شو.

دویمه خبره داده چه هر کله جزاء دشرط جمله اسمیه وی یا امر وی یا نهی وی یا دعاء وی نو دَ جمله جزائیه په اول کښ فا راوړل لازمی دی.

(۱) جزاء اوشرط جمله اسمیه وی، مثال، ان تأتینی فانت مکرم. پدې مثال کښ انت مکرم جزاء ده او جمله اسمیه ده نو فاء په اول کښ راغلې ده.

(۲) جزاء د شرط امر وی مثال لکه ، ان رأیت زید فاکرمه، اکرم صیغه دامر ده نو ځکه په اول کښ (فا) راغلې ده.

(۳) جزاء دَ شرط نهی وی، مثال لکه، ان اتاك عمرو فلاتهنه، (لاتهنه) نهی ده اوجزاء ده نو اول کښ (فا) راغلې ده.

(۴) جزاء دشرط جمله دعائیه وی مثال لکه، ان اکرمتنی فجزاك الله خیراً ، دلته (جزاك الله خیراً) جمله دعائیه ده اوجزاء ده نو ځکه یې په اول کښ (فا) راغلې ده .

باب دوم در عمل افعال

دویم باب دَ افعالو دَعمل په بیان کښې دې

بدانکه هیچ فعل غیرعامل نیست وافعال دراعمال بر

پوهه شه ای طالبه، هیڅ یوفعل غیرعامل نشته. بیا افعال په عمل کښې په

دوگونه است، قسم اول معروف، بدانکه فعل معروف

دوه قسمه سره دی، اول قسم معلوم افعال دی، پوهه شه ای طالبه چه فعل معلوم

خواه لازم باشد خواه متعدی فاعل را برفع کند چون

که لازمی وی او که متعدی وی فاعل ته رفع ورکوی، لکه مثال

قَامَ زَيْدٌ وَضَرَبَ عَمْرٌ وشش اسم را به نصب کند،اول

قام زيدٌ وضرب عمرٌ شو، اوشپږو اسمونوته نصب ورکوی، اول

مفعول مطلق راچون قَامَ زَيْدٌ قِيَامًا وَ ضَرَبَ زَيْدٌ ضَرْبًا

مفعول مطلق لره نصب ورکوی. لکه مثال قام زيدٌ قياماً. وضرب زيدٌ ضرباً شو

دوم مفعول فیه را چون صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَ جَلَسْتُ

دویم مفعول فیه ته نصب ورکوی لکه مثال، صمت یوم الجمعة وجلست

فَوْقَكَ، سوم مفعول معه را چون جاء البرد وَ الْجُبَاتُ

فوقك شو. دریم مفعول معه ته نصب ورکوی. لکه مثال جاء البرد والجبات

ای مع الجبات،چهارم مفعول له راچون قُمْتُ اكرَامًا لَزَيْدٍ

ای مع الجبات شو. څلورم مفعول له لره نصب ورکوی. لکه قمت اکراماً لزيد

وَضَرَبْتُهٗ تَادِيْبًا ، پنجم حال را چون جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا،
وضربته تادیبًاشو، پنځم حال ته نصب ورکوی لکه مثال، جاء زید راکبًاشو

ششم تمیز را وقتیکه درنسبت فعل بفاعل ابهامی باشد،
شپږم تمیزته نصب ورکوی هغه وخت کښ چه په نسبت دفعل کښ فاعل ته ابهام وی

چون طاب زَيْدٌ نَفْسًا، اما فعل متعدی مفعول به را بنصب
لکه مثال، طاب زید نفسًاشو، اوهرچه فعل متعدی مفعول به ته نصب ورکوی

کندچون ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا واین عمل فعل لازم را نباشد
لکه مثال، ضرب زیدٌ عمرواً شو، دا عمل په فعل لازمی کښ نه وی.

هرکله چه مصنف رحمه الله فارغ شو دَبحث دَ حروفونه نو شروع یې وکړه په بحث دَ افعالو کښ نو وې وئیل چه هیڅ فعل نشته چه هغه عمل نکوی، که معلوم وی اوکه مجهول وی او که لازمی وی اوکه متعدی وی، نومعلومه شوه چه فعل په اعتبار دَ فاعل سره په دوه قسمه دې(۱) فعل معروف، چه نسبت یې شوې وی فاعل ظاهر یاخفی ته (۲) فعل مجهول چه فاعل یې معلوم نه وی، دغه شان فعل په اعتبار دَ معنٰی سره هم په دوه قسمه دې: ۱ ــ فعل لازمی: هغه ته وائی چه فاعل باندې تمامیږی مفعول ته یې حاجت نه وی، ۲ ــ فعل متعدی هغه ته وائی چه یوازې فاعل باندې نه پوره کیږی بلکه مفعول ته یې هم احتیاج وی.

اوس دغه فعل لازمی شپږو اسماؤ ته نصب ورکوی: (۱)

مفعول مطلق (۲) مفعول فیه (۳) مفعول معه (۴) مفعول له (۵)حال (۶) تمیز.

(۱) **مفعول مطلق**: هغه مصدر ته وائی چه دَ فعل مذکور په معنٰی وی او مفعول مطلق دهمیشه لپاره منصوب وی لکه چه مثالونه يې په متن دکتاب کښ مصنف ذکر کړيدی.

(۲) **مفعول فیه**: چه په کوم وخت یا کوم مکان کښ فعل دَ فاعل واقع وی یعنی حقیقت کښ ظرف ته وائی، نو اول مثال دَ ظرف زمان دې اودویم مثال په کتاب کښ دَ ظرف مکان دې

(۳) **مفعول معه**: هغه واو دې چه په معنٰی دَ مع سره وی یعنی مفعول معه همیشه په واو سره وی، مثال يې کتاب کښ ذکرشوې دې تکرار ته يې حاجت نشته.

(۴) **مفعول له**: هغه ته وائی چه دَ هغې په وجه سره فعل صادر شی، مثال يې په کتاب کښ ذکر شوې دې

(۵) **حال**: هغه ته وائی چه حالت دَ فاعل یا دَمفعول با دَ دواړو واضح کړی، لکه راکبًا چه په مثال کښ واقع شوې دې اوحال دَ فاعل يې بیان کړیدې

(۶) **تمیز**: هغه اسم ته وائی چه د اول اسم نه ابهام پورته کوی، لکه مثال، طاب زید ووئیلې شو، یعنی ښه دې زید نو وهم پیدا شو چه زید په کوم اعتبار سره ښه دې، نو دَ وهم دَ لرې کولو دپاره ووئیل شو چه (نفسًا) یعنې دَجهت د نفس نه ښه دې، یعنی دذات په اعتبار سره زید ښه دې.

البته فعل لازم په فاعل باندې پوره کیږي او فعل متعدي مفعول به ته هم نصب ورکوي، نو دفعل لازم شپږ منصوبات شو او دفعل متعدي زیات شو چه دغه مذکوره ته هم نصب ورکوي، اوفاعل نه وروسته مفعول به ته هم نصب ورکوي.

فصل،بدانکه فاعل اسمیست که پیش• ازوی فعلي باشدمسند

دا فصل دې،پوهه شه ای طالبه،فاعل یو اسم دې چه مخکښ ددینه فعل وي مسند

بدان اسم برطریق قیام فعل بدان اسم چون زیدٌدرضَرَبَ زَیْدٌ

دغه اسم ته په دې طریقې چه فعل قائم وي ددغه اسم سره لکه زید شو په ضرب زیدٌ کښ

اسم فاعل نوم دَ کار کونکی دې دچانه چه صدور دکار کیږي نوپه همدې وجه ورته اسم فاعل وائی یعنی دکار کوونکی نوم، اوتعریف یې دقاعدې موافق دادې چه دَ هغه نه مخکښ فعل یا شبه فعل وي او نسبت دَ دغه فعل یا شبه فعل دغه اسم ته شوې وي او په ده پورې قائم وي،مثال دفعل لکه ضرب زیدٌ شو، زید اسم دې مخکښ ترینه فعل ذکر دې او نسبت یې زید ته شویدې، او مثال دَ شبه فعل، لکه زیدٌ قائم ابوه شو، نودلته قائم اسم فاعل دې شبه فعل دې او ابوه ورله فاعل دې نو اسم فاعل سره دَ فاعل نه خبر شو دَ زید دپاره نوزید سره دَ خپل خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه. بیا شبه فعل کښ اسم فاعل هم راځي او صفت مشبه، مصدر اسم فاعل اسم تفضیل اوظرف هم راځي او شبه فعل ته شبه فعل ځکه وائی چه په عمل کښ دَ فعل په شان دې، یعنی

ځنګه چه فعل لره فاعل وی نو دوئ لره هم فاعل وی.

ومفعول مطلق مصدریست که واقع شود بعد از فعلی وآن
او مفعول مطلق هغه مصدر دې چه واقع شی پس د یو فعل نه او دغه

مصدر بمعنی آن فعل باشد چون ضربًا در ضربتُ ضربًا
مصدر په معنی د فعل وی ، لکه مثال ضربًا شو په ضربت ضربًا کښ

وقیامًا درقُمتُ قیامًا ومفعول فیه اسمیست که فعل مذکور
او قیامًا شو په قمت قیامًا کښ ، او مفعول فیه هغه اسم دې چه فعل مذکور

درو واقع شودواورا ظرف گویند وظرف بردو گونه است
په دې کښ واقع کیږی او دیته بیا ظرف وائی او ظرف په دوه قسمه دې

ظرف زمان چون یَوْمَ درصُمْتُ یَوْمَ الْجُمُعَةِ وظرف مکان
یو ظرف زمان لکه مثال یوم شو په صمتُ یوم الجمعة کښ ،او بل ظرف مکان دې

چون عند در جلست عندك ومفعول معه اسمیست که
لکه عند شو په جلستُ عندك کښ ، او مفعول معه هغه اسم دې چه

مذکور باشد بعد ازواو بمعنٰی مع چون والجبات درجاء
مذکور وی پس د واو نه هغه واو چه په معنٰی د مع سره وی لکه والجبات په

الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتُ ای مع الجبات ومفعول له اسمیست که
جاء البرد والجباتُ کښ ای مع الجبات ، او مفعول له هغه اسم دې چه

دلالت کند برچیزی که سبب فعل مذکور باشد چون
دلالت کوی په یو شی باندې چه سبب د فعل مذکور وی ، مثال لکه .

اکرامًا درقُمْتُ اکْرَامًا لّزَیْد.

اکرامًا شو په قمتَ اکرامًا لزیدٍ.

ددغه شلورواړو منصوباتو: مفعول مطلق، مفعول فیه، مفعول معه اومفعول له، تعریفونه مخکښ بیان شول، بیا دوباره تفصیل ته ضرورت نشته دي، البته دمفعول مطلق استعمال دتاکید لپاره وی اوقسم واضح کوی اوتعداد ظاهروی، اومفعول فیه په دوه قسمه دي ظرف زمان او ظرف مکان.

وحال اسمیست نکره که دلالت کندبرهیأت فاعل چون

اوحال هغه اسم نکره دي چه دلالت کوی په هیئت دَ فاعل باندې، مثال لکه. رَاکبًا شو

راکبًادرجاءَ زَیْدٌ رَاکِبًا یا برهیأت مفعول چون مشدودًا

په جاء زید راکبًا کښ، یادغه حال دلالت کوی په هیئت دَ مفعول باندې لکه مشدودًا

درضَرَبْتُ زَیْدً مَشْدُوْدًا یا بر هیأت هردو چون راکبین

په ضربت زیداً مشدوداً کښ، یا حال دلالت کوی په هیأت دواړو باندې لکه، راکبین

درلَقِیْتُ زَیْدًارَاکِبَیْنِ وفاعل ومفعول را ذوالحال گویند

په لقیت زیداً راکبین کښ، او فاعل او مفعول ته ذو الحال وائی

وآن غالبًا معرفه باشد واگرنکره باشد حال را مقدّم

اوهغه اکثر معرفه وی، او که چیرې نکره وی نو حال به مقدم وی په ذو الحال باندې

دارند چون جاءنِی رَاکِبًا رَجُلٌ و حال جمله نیز باشد

مثال لکه، جاءنی راکبًا رجل، اوحال جمله هم وی

چنانچه رَاَیْتُ الاَمِیْرَ وَ هُوْ رَاکِبٌ

لکه په دې مثال کښې: راَیت الامیر وهو راکب شو

حال دیته وائی چه فاعل په کوم شان کار کوی په ولاړه ، ناسته، روانه هغه شان بیان کړی، اودغه شان حالت دَ مفعول واضح کړی، دغه ته حال وائی او دغه شان چه حالت دَ فاعل او مفعول دواړو ظاهر کړی دیته حال وائی، مثال دَ اول لکه جاء زید راکبًا شو، زید فاعل دې او راتلل یې ظاهر شو چه سور رغلې، اوزید ته ذو الحال وائی، دَ دویم مثال لکه ضربت زیداً مشدوداً شو، یعنی ما زید اوهلو په داسې حالت کښې چه تړلې شوې وو، نو دلته مشدوداً حال دې او زید مفعول او ذوالحال دې اومعرفه ده، نو حال دمفعول ظاهر شو په وخت دَ وهلو کښې، مثال دَ دویم، لکه لقیت زیداً راکبین شو، یعنی ملاقات ما اوکړو دَ زید سره په داسې حالت کښې چه مونږه دواړه سواره وو، نو دلته لقیت فعل فاعل شو، او زید مفعول شو، او راکبین حال شو دَ فاعل اومفعول دَ دواړو نه یعنې دَ دواړو شان ظاهر شو په وخت دَ ملاقات کښې چه سواره وو.

حال چه دَ چال حال بیانه وی که فاعل وی اوکه مفعول وی اوکه دواړه وی نو هغې ته ذوالحال وائی، اوذوالحال عام طور سره معرفه وی، اوحال عام طور سره نکره وی، اوکه چرته ذوالحال نکره وو نودغه صورت کښې به حال په ذوالحال باندې مقدم کولې شی، لکه مثال جائنی راکبًا رجلٌ شو، نو

رجل نکره ده او ذوالحال دې او راکبًا حال دې نو حال مقدم دې په ذو الحال باندې.

بله خبره داده چه حال څرنګه مفرد واقع کیږی دغه شان جمله خبریه هم واقع کیږی څکه چه جملې سره هم مقصود یعنې بیان دَ ذوالحال کیږی لکه مثال رأیت الامیر وهو راکب شو، یعنی ما ولیده امیر لره په داسې حالت کښې چه هغه سور وو، نو الامیر ذوالحال شو اوهو راکب حال شو.

وتمیز اسمیست که رفع ابهام کند از عدد چون عندی احد

اوتمیز هغه اسم دې چه رفع دَ ابهام کوی د عدد نه لکه مثال، عندی احد

عشر درهمًا یا از وزن چون عندی رطل زیتًا یا از کیل

عشر درهمًا شو، یادوزن نه رفع د ابهام کوی ، لکه، عندی رطل زیتًا شو یا دکیل نه رفع دابهام

چون عندی قفیزان بُرًّا یا ازمساحت چون مافی السماء

کوی لکه عندی قفیزان بُرًّا شو، یادغه تمیز رفع د ابهام کوی دمساحت لکه ما فی السماء

قدر راحة سحابًا مفعول به اسمیست که فعل فاعل براو

قدر راحة سحابًا شو، مفعول به هغه اسم دې چه دَ فاعل فعل په هغه

واقع شود چون ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا، بدانکه این همه

واقع کیږی لکه، ضرب زیدٌ عمرًا شو، پوهه شه ای طالبه داخه چه وویل شو دا

منصوبات بعد از تمام جمله باشند وجمله بفعل وفاعل تمام

ټول منصوبات دَجملې دپوره کیدونه بعد راځی. اوجمله په فعل اوفاعل پوره

شو بدين سبب گويند كه اَلْمَنْصُوْبُ فُضْلَةٌ

کیږي په همدې سبب علماء وايي چه: «المنصوب فضلة».

هر کله چه په یو شي کښې خفاء یا ابهام وي او هغه خفاء او ابهام چه لرې کړي هغه ته تمیز وئیلې شي، نو بعضې وخت کښې دغه خفاء په عدد او شمار کښې وي لکه مثال عندی احد عشر نو مخاطب ته معلومات نه وو چه یولس څه دي نو سمدستي متکلم ووئیل چه درهمًا، نو درهمًا تمیز شو، او کله خفاء په وزن کښې وي لکه مثال: عندی رطل، یعنې زما سره یو رطل دې «رطل یو قسم پیمانې ته وائی» نو مخاطب ته خفاء وه، هرکله چه متکلم ووئیل چه زیتًا نو خفاء ختمه شوه، او زیتًا تمیز شو، او کله دغه خفاء په ناپ او پیمانه کښې وي لکه مثال، عندی قفیزان، یعنې څما سره دوه پیمانې دي، نو معلومه نه وه چه څه شې دي، نو متکلم ووئیل چه برًا یعنې غنم دي، نو خفاء ختمه شوه او بُر تمیز شو.
او کله دغه خفاء په پیمائیش کښې وي لکه مثال: مافی السماء قدر راحة، یعنې نشته په آسمان کښې په قدر د یو ورغوی، خو دلته خفاء پیدا شوه چه څه شې مراد دې، هر کله چه متکلم «سحابًا» ووئیل یعنې وریځ نو خفاء ختمه شوه او سحابًا تمیز شو، او د چا نه چه تمیز واقع کیږي هغه ته ممیز وائی.
او مفعول به هغه اسم ته وئیلې شي چه فعل د فاعل په هغه واقع وي لکه: ضرب زیدٌ عمرًا، نو دَ زید وهل په عمرو واقع

دی نو عمر مفعول به شو، یله خبره داده چه جمله په فعل او فاعل باندې پوره کیږی او دا باقی نور ټول منصوبات او فضله دی، ځکه عالمانو دنحوی ویلی دی چه: المنصوب فضلة

فصل، بدانکه فاعل بر دو قسم است مظهر چون ضَرَبَ

دا فصل دې، پوهه شه ای طالبه، چه فاعل په دوه قسمه دې، یو اسم ظاهر لکه، ضرب

زَیْدٌ، ومضمر بارز چون ضربتُ ومستتر یعنی پوشیده چون

زیدٌ شو، دویم ضمیر چه بارز وی لکه ضربت شو، او بل ضمیر چه پټ وی مثال لکه

زَیْدٌ ضَرَبَ که فاعل ضرب هو اســـت در ضرب مستتر

زید ضرب شو، چه فاعل دضرب هو دې چه هغه په ضرب کښې پټ دې

بدانکه چون فاعل مؤنث حقیقی باشد یا ضمیر مؤنث

پوهه شه ای طالبه، هر کله چه فاعل مؤنث حقیقی وی یا ضمیر دمؤنث وی

علامت تانیث در فعل لازم باشد چون قَامَتْ هِنْدٌ وَهِنْدٌ

نو علامه د تانیث راوړل یې په فعل کښې بیا لازم وی. لکه، قامت هند، او هند

قَامَتْ ای هی و در مظهر مؤنث غیر حقیقی ودر مظهر

قامت، یعنی (هی) شو، او په هغه فاعل کښې چه اسم ظاهر وی او مؤنث غیر حقیقی

جمع مکسر دو وجه روا باشـــد چون طلع الشمس و

وی یا هغه اسم ظاهر چه فاعل دَ جمع تکسیر وی نو ده طریقی پکښې جائزې دی لکه

طلعت الشمس وقال الرجال وقالت الرجال

طلع الشمس او طلعت الشمس، او قال الرجال او قالت الرجال

هر کله چه مصنف فارغ شو دنفس فاعل نه نو شروع يې وکړه په اقسامو دفاعل کښ ، نو وې وئيل چه فاعل په دوه قسمه دې (۱) مظهر (۲) مضمر بارز او مضمر مستتر، د اول قسم چه فاعل اسم ظاهري وی دهغه مثال لکه ضربت زيدٌ شو زيد دلته اسم ظاهر دې اوفاعل دې، اوکه فاعل ضمير وی نو بيا به خالي نه وی يا به ضمير ظاهر وی يا به ضمير پټ وی داول مثال لکه په ضربتُ کښ (ت) ضمير دَ فاعل دې او ظاهر دې ، دَ دويم مثال لکه : زيد ضرب شو ، دلته زيد مبتداء ده او ضرب فعل دې ضمير پکښې پټ دې چه هو دې اوهغه فاعل دې او راجع دې زيد ته ، نو حاصل دا شو چه فاعل پـه درې قسمه شو ، (۱) فاعل ښکاره (۲) هغه فاعل چه ضمير ظاهر وی (۳) هغه فاعل چه ضمير پټ وی.

((**بدانکه چون فاعل مؤنث حقيقي باشد**)) : هر کله چه فاعل دَ فعل مؤنث حقيقي وی برابره خبره ده که اسم ظاهر وی يا ضمير وی نو علامه د تانيث په فعل کښ راوړل لازمي ده ، لکه مثال : قامت هندٌ شو ، يعني ودريده هنده ، نو هندٌ مؤنث حقيقي دې او په قامت فعل کښ (ت) ساکنه علامه ده ، د دويم مثال لکه . هندٌ قامت شو ، دا مثال دَ ضمير شو چه (هی) دې اوراجع دې هندٌ ته.

او په هغه صورت کښ چه فاعل اسم ظاهر مؤنث غير حقيقي وی يا فاعل اسم ظاهر دَ جمع مکسرې وی تو په دغه

دوارو صورتونو کښې دوه طريقې روا دي يعنې فعل مذكر اومؤنث په دوارو طريقو سره راوړلې شي، لکه مثال: طلع الشمس او طلعت الشمس دواړه وئيلې شي اوشمس مؤنث غير حقيقي دې، دغه مذكوره مثال کښې فاعل اسم ظاهر مؤنث غير حقيقي دې نو فعل مذكر اومؤنث دواړه وئيلې شي بل مثال دَجمع مكسرې لکه قال الرجال او قالت الرجال شو، نو فاعل اسم ظاهر جمع مكسره ده او فعل ورته مؤنث او مذكر دواړه وئيلې شي.

قسم دوم مجهول، بدانکه مجهول بجاۓ فاعل مفعول به

دويم قسم دَ مجهول دې، پوهه شه اى طالبه فعل مجهول په ځاى دفاعل باندې

را برفع کند وباقی را به نصب چون ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ

مفعول به ته رفع ورکوى او مابقيه مفعولونو لره نصب ورکوى. لکه، ضرب

الْجُمُعَةِ اَمَامَ الاَمِيْرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا فِيْ دَارِهٖ تَادِيْبًا وَالْخَشَبَةَ

زيدٌ يوم الجمعة امام الامير ضربًا شديدًا فى داره تاديبًا والخشبة

وفعل مجهول را فعل ما لم يُسَمَّ فاعله گويند ومرفوعش

اوفعل مجهول ته فعل مالم يُسم فاعله وائى او چاته چه رفع ورکوى

را مفعول ما لم يُسمّ فاعله گويند

هغه ته مفعول مالم يُسم فاعله وائى

هركله چه مصنف رحمه الله فارغ شو دَ بيان دَ فعل معلوم نه نو اوس يې شروع وکړه په فعل مجهول باندې، مجهول

صيغه د اسم مفعول ده او مجهول هغې ته وائى چه فاعل يې معلوم نه وى او مفعول دَ فاعل په ځاى باندې راغلې وى، نو دغه مفعول به اوس مرفوع وى څنګه چه فاعل مرفوع وو، او مابقيه نور مفعولات به منصوب راځى، لكه ضُرِبَ زَيْدٌ شو، ضُرِبَ فعل مجهول دې او زيدٌ نائب فاعل دې ځكه چه اصل فاعل خو پټ دې، نو دې فعل مجهول ته فعل ما لم يسم فاعله وائى، يعنى هغه فعل چه دَ هغه فاعل نه وى ذكر شوې، اودغه زيد چه نائب فاعل دې دې ته مفعول مالم يُسم فاعله وائى يعنى مفعول دَ هغه فعل چه فاعل يې نوى ذكر شوې، اومثالونه په متن كښې په تفصيل سره ذكر شويدى.

ضُرِبَ زَيْدٌ (ضُرِبَ) فعل مجهول (زَيْدٌ) مفعول به مرفوع، (يوم الجمعة) ظرف زمان (امام الامير) ظرف مكان (ضرباً شديداً) موصوف سره دصفت نه مفعول مطلق شو (فى داره) جار اومجرور متعلق په ضرب پورې (تاديبًا) مفعول له (والخشبة) مفعول معه.

فصل،بدانكه فعل متعدى برچهارقسم است اول متعدى

دا فصل دې، پوهه شه اى طالبه، فعل متعدى په څلورقسمه دې اول قسم هغه فعل

بيك مفعول چون ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا ، دوم مفعول بدو

متعدى دې چه متعدى وى يو مفعول ته لكه، ضرب زيدٌعمرواً شو، دويم قسم هغه دې

مفعول كه اقتصار بريك مفعول روا باشدچون اعطى ر

چه متعدى وى دوه مفعولونو ته او اختصار په يو باندې جائز وى لكه مثال اعطى

آنچه در معنی او باشد چون اَعْطَيْتُ زَيْدًا دِرْهَمًا

او هغه الفاظ چه ددې په معنی کښ وی لکه مثال. اعطیت زیدًا درهمًا شو.

واینجا اَعْطَيْتُ زَيْدًا نیز جائز است

او دلته اعطیتُ زیدًا هم جائز دی

مصنف رحمه الله شروع وکړه په بحث دَ فعل متعدی کښ او فعل متعدی په څلور قسمه دې (۱) هغه فعل متعدی چه یو مفعول ته متعدی وی، لکه مثال (ضرب زیدٌ عمروًا) شو. یعنی ووهلو زید عمرو لره، (ضرب) فعل (زیدٌ) فاعل او (عمروًا) مفعول شو. نو بل مفعول ته یې ضرورت نشته دې.

(۲) دویم قسم هغه فعل متعدی دې چه متعدی وی دوه مفعولونو ته او که مفعول یوذکرشی نوهم جائز دې، لکه مثال : (اعطیت زیدًا درهمًا) شو. یعنی ما ورکړې زید ته روپئ . نو (اعطیت) فعل او فاعل شو او (زیدًا) مفعول اول شو او (درهمًا) مفعول ثانی شو. داسې هم جائز دی چه (اعطیت زیدًا) ووائی یعنی اکتفا په یومفعول باندې وکړی. یا داسې ووائی چه (اعطیت درهمًا) داقسم د نورو افعالو نه هم راځی چه په معنی د اعطیتُ باندې وی

سوم متعدی بدومفعول که اقتصار بریك مفعول روا

دریم قسم هغه فعل متعدی دې چه متعدی وی دوه مفعولونو ته چه اختصار ددې په یو

نباشد و این در افعال قلوب است چون عَلِمْتُ وَحَسِبْتُ
مفعول جائز نه وی او دغه په افعال قلوبو کښې وی، لکه مثال علمتَ اوظننت او حسبت

وَخِلْتُ وَزَعَمْتُ وَرَأَيْتُ و وَجَدْتُ چون عَلِمْتُ زَيْدًا
او خلت او زعمتُ او رأیت او وجدت شو. لکه مثال، علمتُ زیداً

فَاضِلاً وَظَنَنْتُ زَيْدًا عَالِمًا
فاضلاً او ظننت زیداً عالماً شو.

دریم قسم هغه فعل متعدی چه متعدی وی دوه مفعولونو ته لیکن اکتفاء په یو مفعول باندې جائز نه وی. اودغه افعالو ته افعال قلوب وائی، لکه مصنف رحمه الله چه ذکر کړیدی علمتَ وغیره وغیره، لکه مثال: (علمت زیداً فاضلاً) او (ظننت زیداً عالماً) شو، علمت او ظننت فعل او فاعل شو او زیداً په دواړو کښې مفعول اول شو او فاضلاً او عالماً مفعول ثانی شو. په ظاهره کښې دوه دوه مفعوله شو لیکن په حقیقت کښې دواړه یو مفعول دي. او افعال قلوبو ته افعال قلوب ځکه وائی چه دَ زړه سره تعلق لری.

چهارم متعدی بسه مفعول چون اَعْلَمُ وَاَرىٰ وَاَنْبَأَ وَاَخْبَرَ
څلورم قسم هغه متعدی دي چه متعدی وی دریو مفعولو ته لکه اعلم او اری او انبأ او

و خَبَّرَ وَنَبَّأَ و حَدَّثَ چون اَعْلَمَ اللّٰهُ زَيْدًا عَمْرًا فَاضِلاً
اخبر او خبر او نبأ او حدث شو. مثال لکه. اعلم الله زیداً عمرواً فاضلاً شو.

بدانکه این همه مفعولات مفعول به اندو مفعول دوم در

پوهه شه ای طالبه ، دا ټول مفعولات مفعول به دی، او دویم مفعول د

باب عَلِمْتُ و مفعول سوم در باب اَعْلَمْتُ و مفعول له

باب علمتُ یا دریم مفعول دباب اعلمتُ او مفعول له او مفعول معه به

و مفعول معه رابجای فاعل نتواند نهاد و دیگرها را شاید

ځای دَ فاعل طاقت نه لري یعني دَ فاعل نائب نشي کیدي او نور مفاعل کیدی شي

و در باب اَعْطَیْتُ مفعول اول بمفعول مالم یسم فاعله

چه نائب د فاعل شی، او په باب د اعطیت کښ مفعول اول د مفعول مالم یسم فاعله

لائــق تر باشــد از مفعول دوم

کیدو کښ زیات مناسبت لري د دویم مفعول نه

څلورم قسم هغه فعل متعدی دي چه متعدی وی دري مفعولونو ته لکه اعلم وغیره شو، دا اعلم وغیره دري مفعوله غواړي لکه مثال : (اعلم الله زیداً عمرواً فاضلاً) شو یعنی پوهه کړو الله تعالی زید لره په عمرو باندي، (اعلم) فعل (الله) فاعل شو، (زیداً) معفول اول (عمرواً) مفعول ثانی (فاضلاً) مفعول ثالث شو. فعل سره دَ فاعل نه او سره دَټولو مفاعلیونه جمله خبریه شوه

کوم مفاعیل چه ټولو اقسامو کښ بیان شو دا ټول مفعول به دی، بیا هم مفعول ثانی دَ باب علمت او مفعول ثالث دَ باب اعلمت نائب فاعل نشی کیدي او مفعول له او مفعول

معه هم نائب فاعل نشی کیدې او باقی مفاعیل لکه مفعول به، مفعول مطلق، مفعول فیه، مفعول له وغیره وغیره نائب فاعل کیدې شی.

(۱) مفعول ثانی دَ باب علمت ځکه نائب فاعل نشی کیدې چه دې اول مفعول ته مسندوی ځکه دې خبر وی او مفعول اول مبتداء وی او خبر مسند وی مبتداء ته نو که نائب فاعل شی نو فعل به ده ته مسند شی نو یو وخت کښ به مسند او مسند الیه شی دغه مفعول او داجائز ندی.

(۲) مفعول ثالث دباب دَ اعلمت ځکه نائب فاعل نشی کیدې چه دې مسند وی مفعول ثانی ته نو که نائب فاعل شی نو مسند الیه به شی نو یو وخت کښ به مسند او مسند الیه شی.

(۳) مفعول هم نائب فاعل نشی کید. ځکه چه دَ مفعول له نصب دلالت کوی په سببیت باندې نو که نائب فاعل شی و مرفوع به شی نو دسببیت دَ معنی نه به دلالت فوت شی. البته که مفعول له کښ لام ذکر وی نو بیا نائب فاعل کیدی شی. ځکه چه لام په سببیت باندې دلالت کوی. لکه ضُرِبَ للتادیب شو.

(۴) مفعول معه نائب فاعل نشی کیدې. ځکه چه ده سره واو دې هغه واو چه په معنی دَ مع سره دې. نو که دواو سره دې نائب فاعل شی نو واو فاصل به ئی په منځ کښ اجنبیت راولی او دا ناجائز دی. ځکه په فعل اونائب فاعل کښ اتصال وی. او که واو حذف کړی بیا به مفعول معه په څه شی

دلالت وکړی

فصل، بدانکه افعال ناقصه هفده اند: کَانَ وصَارَ وظَلَّ

دافصل دي. پوهه شه ای طالبه. چه افعال ناقصه اولس دی. (۱) کان، (۲) صار، (۳) ظل

بَاتَ واَصْبَحَ واَضْحٰی، واَمْسٰی وَعَادَ واٰضَ وَغَدَا ورَاحَ

(۴) بات (۵) اصبح (۶) اضحی (۷) امسی (۸) عاد (۹) آض (۱۰) غدا (۱۱) راح

و مَازَالَ و مَا انْفَكَّ و مَابَرِحَ و مَافَتِئَ و مَادَامَ و لَيْسَ

(۱۲) مازال (۱۳) ما انفك (۱۴) مابرح (۱۵) مافتئ (۱۶) مادام (۱۷) لیس شو

این افعال تنها بفاعل تمام نشوند ومحتاج باشند بخبری

دغه افعال یوازې په فاعل نه تمامیږي بلکه احتیاج لرخبر ته

بدین سبب اینها را ناقصه گویند، و درجمله اسمیه روند

ددې وجهې نه دوئ ته ناقصه وائی. او په جمله اسمیه باندې داخلیږی

ومسندالیه را برفع کنند ومسند را بنصب چون كَانَ

اومسند الیه ته رفع ورکوی او مسند ته نصب ورکوی. لکه مثال. کان

زَيْدٌ قَائِمًا ومرفوع را اسم کان گویندومنصوب راخبر

زیدٌ قائمًا شو. نو مرفوع ته اسم دَ کان وائی اومنصوب ته خبر دَ کان

کان وباقی رابرین قیاس کن، **بدانکه** بعضی ازاین افعال

وائی او مابقی تول پدې قیاس کړه. پوهه شه ای طالبه. بعضی ددغه افعالونه

دربعضی احوال بفاعل تنها تمام شوند چون كَانَ مَطَرٌ شد

په بعضی احوالو کښې یوازې په فاعل نه تمامیږی. لکه مثال. کان مطرٌ شو

باران بمعنی حصل، واورا کَانَ تامّہ گویند و کَانَ زائدنیز باشد

یعنی و شو باران. معنی حاصل شو باران. نو دغې ته کان تامه وائی او کان زائد هم وی

افعال ناقصه ته افعال ناقصه ځکه وائی چه ناقصه په معنی دَ نقصان سره راځی پدیکښې هم نقصان دې ځکه چه دې په خپل فاعل باندې نه تمامیږی بلکه احتیاج یې وی خبر ته، مشهور افعال ناقصه اوولس دی، بیا دغه افعال ناقصه په خپل کور کښې په دوه قسمه دی (۱) تامه (۲) ناقصه

تامه هغې ته وائی چه فاعل باندې تمامیږی او خبر ته محتاج نه وی او ناقصه هغې ته وائی چه فاعل باندې یوازې نه تمامیږی بلکه خبر ته محتاج وی. دغه مذکوره افعال ناقصه په جمله اسمیه باندې داخلیږی اول جزء ته رفع ورکوی او دویم جزء ته نصب ورکوی. اول جزء ته مبتداء وائی او دویم جزء ته خبر وائی. او اول جزء ته اسم دَ فعل ناقص وائی او دویم جزء ته خبر دَ فعل ناقص وائی. لکه مثال (کَانَ زَیْدٌ قَائِمًا) شو. (کان) فعل ناقص شو (زیدٌ) مرفوع ورله اسم شو او (قائمًا) منصوب ورله خبر شو، نو اسم مسند الیه دې او قائمًا مسند دې.

بله خبره داده چه په بعضی اوقاتو کښې دوئ صرف په فاعل باندې تمامیږی او خبر ته ئی احتیاج نه وی، لکه مثال (کان مطرٌ) شو. نو (کان) په معنی دَ حصل سره دې. یعنی (حصل المطر) یعنی باران وشو. نو خبر ته ئی ضرورت نشته دې نو دې کان ته کان تامه وائی. او بعضی اوقاتو کښې کان

زائدوی یعنی څه غرض پرې نه حاصلیږی که وی او که نه وی

فصل،بدانکه افعال مقاربه چار است،عَسٰی و کَادَ وکَرَبَ
دافصل دې. پوهه شه ای طالبه. چه افعال مقاربه څلوردی (۱)عسی (۲) کاد (۳) کرب

واَوْشَكَ واین افعال درجمله اسمیه روند چون کان اسم
(۴) اوشك دی. اودغه افعال مقاربه په جمله اسمیه داخلیږی لکه دکان په شان

را برفع کنند وخـــبر را بنصب الا آنکه خبر اینها فعل
اسم تـه رفع ورکوی او خبـر تـه نصب ورکوی مگر که د دوئ خبر فعل

مضارع باشد با اَنْ چون عَسٰی زَیْدٌ اَنْ یَّخْرُجَ یا بی اَنْ
مضارع وی په آنْ سره، لکه مثال. عَسٰی زَیدٌاَن یخرج شو. یابغیرد آنْ نه راشی

چون عَسٰی زَیْدٌ یَخْرُجَ و شـــاید که فعل مضارع با اَنْ
لکه مثال عَسٰی زیدٌ یخرج . او کیدې شی چه فعل مضارع په آنْ سره دَ

فاعل عَسٰی باشد، واحتیاج بخبر نیفتـــند،چون عَسٰی اَنْ
عسٰی فاعل وی . اواحتیاج ئی خبر ته پاتې نه شـی . مثـال لکه .عسٰی آنْ

یَخْرُجَ زَیْدٌ در محل رفع به معنی مصدر
یخرج زیدٌ په محل د رفع کښ په معنی د مصدر سره.

افعال مقاربه ته ځکه مقاربه وائی چه مقاربه دَ مقاربت نه اخستل شویدې او مقاربت نزدیکت تـه وائی. او دَ دوئ خبر هم فاعل لره پـه نزدې زمانه کښ حاصلیږی خودغه قربت به رجائی وی یا حصولی وی یا اخذی وی، د رجائی مثال لکه:

(عسى زيد ان يخرج) شو، يعنى اميد دې چه زيد به راوځى.
او دحصولى مثال : لكه (كاد زيد ان يخرج) يعنى زيد يقينى وتونكې دې، او د اخذى مثال اودا هم حصول ته نزدې دې خو شروع پكښې وى په اسبابو دَ حصول دَ دغه شى باندې.
لكه كَرَبَ زيدٌ يخرج، يعنى زيد يقينى وتل شروع كړيدى.
باقى خبره داده څنگه چه افعال ناقصه په جمله اسميه باندې داخليدل نو هم دغه شان افعال مقاربه هم په جمله اسميه باندې داخليږى نو عمل هم هغه كوى. يعنى داهم اسم ته رفع اوخبرته نصب وركوى، خو صرف فرق دادې چه دافعال مقاربه خبر به فعل مضارع په (آنْ) سره يا بغير د (آنْ) نه وى او دافعال ناقصه خبر به كله فعل مضارع وى او كله به غيرمضارع وى، او داسې هم كيدې شى چه عسٰى ته دَ خبر ضرورت پاتې نشى نو دا هغه صورت كښې چه فعل مضارع سره دَ (آنْ) نه دَ عسٰى دپاره فاعل وى، لكه (عسٰى ان يخرج زيدٌ) شو، په محل دَ رفع كښې په معنٰى دَ مصدر سره. نو داسى به شى (عسى خروج زيد) نو (عسى) فعل شو (خروج) مضاف (زيد) مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه فاعل د عسٰى شو، نو معنٰى دا شوه نزدې دې وتل د زيد ،نو جمله پوره شوه خبرته ضرورت نشته دې.

فصل، بدانکه افعال مدح وذم چهار است، نِعْمَ وحَبَّذَا
دافصل دې . پوهه شه ای طالبه . افعال مدح اوذم څلوردی . نعم او حبذا

برای مدح وبِئْسَ وسَاءَ برای ذم وهرچه مابعد فاعل
دَمدح دپاره او بئس اوساء دَ ذم دپاره دی . اوهر هغه اسم چه مابعد دَ فاعل نه

باشدآنرا مخصوص بالمدح یا مخصوص بالذم گویندوشرط
وی هغې ته مخصوص بالمدح یا مخصوص بالذم وائی . او شرط

آنست که فاعل معرف بلام باشدچون نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ
دادې چه فاعل به معرف بلام وی . لکه مثال نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ شو .

یا مضاف بسوی معرف بلام باشد چون نِعْمَ صَاحِبُ
یا مضاف وی په طرف دَ معرف بلام ته . لکه مثال نعم صاحب

الْقَوْمِ زَيْدٌ یا ضمیر مستتر ممیز بنکره منصوبه چون نِعْمَ
القوم زید یا به ضمیر مستتر وی چه ممیز وی په نکره منصوبه سره لکه نعم

رَجُلاً زَيْدٌ، فاعل نعم هو است مستتر در نعم ورجلاً
رجلاً زیدٌ شو ؛ فاعل دَ نعم دلته هو دې . چه مستتر دې په نعم کښې او رجلاً

منصوب است بر تمیز زیراکه هومبهم است وحَبَّذَا زَيْدٌ
منصوب دې بنا بر تمیز ځکه چه هو مبهم دې . او په حبّذا زید کښې

حَبَّ فعل مدح است وذا فاعل اووزَيْدٌ مخصوص بالمدح
حب فعل مدح دې او ذا فاعل دې او زید مخصوص بالمدح دې

وَهمچنين بِئْسَ الرَّجُلُ زَيْدٌ وسَاءَ الرَّجُلُ عَمْرٌو

همدغه شان بئس الرجل زيدٌ او ساء الرجل عمروٌ شو

مدح ،ذم، دواړه صيغې دَ مصدر دی په معنٰی دَ مدح کولو او ذم کولو سره راځی، بیا دغه افعال مدح او ذم څلور دی، مدح په معنٰی دَ صفت کولو سره او ذم په معنٰی دَ بد وئیلو سره راځی، افعال مدح دوه دی (۱) نِعْمَ (۲) حَبَّذَا ، او افعال ذم هم دوه دی : (۱) بِئْسَ (۲) سَاءَ ، وروسته د دوئ نه چه کوم اسم ذکر شی هغې ته مخصوص بالمدح یا مخصوص بالذم وائی، شرط به داوی چه فاعل به ئی معرف باللام وی لکه (نعم الرجل زیدٌ) او (بِئس الرجل زید) شو، خود حبذا دپاره به فاعل معرف باللام نه وی، او یا به معرف باللام طرفته مضاف وی لکه : (نعم صاحب القوم زید) شو، نو دلته دَ نعم فاعل صاحب دې چه معرف باللام ته مضاف دې

اوکه فاعل ئی معرف باللام نه وو او معرف باللام طرفته مضاف هم نه وو، نو بیا به یې فاعل ضمیر مستتر وی چه مبهم به وی او دَ ابهام لرې کولو دپاره به تمیز نکره منصوب وی. لکه : (نعم الرجل زیدٌ) شو، نو دنعم فاعل (هو) ضمیر مستتر دې چه په نعم کښ پټ دې، او هو ضمیر کښ ابهام دې او دَ ابهام لرې کولو دپاره رجلاً تمیز شو، او زید مخصوص بالمدح شو. دغه شان تفصیل په ساء او بئس کښ دې. او په (حبّذا زید) کښ حب فعل مدح دې او (ذا) ئی فاعل

دي او زید مخصوص بالمدح دي، او حب د پاره به فاعل همیشه (ذا) وی.

فصل، بدانکه افعال تعجب دو صیغه از هر مصدر ثلاثی

دا فصل دي، پوهه شه ای طالبه، افعال تعجب دوه صیغې د ثلاثي مجرد و د هر

مجرد باشد اول مَا اَفْعَلَهُ چون مَا اَحْسَنَ زَیْدًا چه نیکو

مصدر نه وی اول دَ هغې نه مَا افعله وزن سره دي. لکه ما احسن زیداً شوخه ښه

است زید تقدیرش اَیُّ شَيْءٍ اَحْسَنَ زَیْدًا، ما بمعنی اَیُّ

دي زید، چه اصل عبارت داسې دي اي شيئٍ احسن زيد ما په معنی د اَیُّ شيئٍ سره دي

شَيْءٍ است در محل رفع بابتداء واحسن در محل رفع خبر

او په محل دَ رفع کښې دي، دَ مبتدا، کیدو په وجه او احسن هم په محل د رفع کښې چه

مبتداء فاعل احسن هو است در مستتر و زیدًا مفعول به

خبر د مبتداء دي، او فاعل د احسن هو دي چه په دي احسن کښې پټ دي او زید مفعول به

دوم اَفْعِلْ بِهٖ چون اَحْسِنْ بِزَیْدٍ، اَحْسِنْ صیغه امر است بمعنی

دي دویم وزن اَفعل به دي لکه، اَحسن بزید، احسن صیغه دامر ده په معنی د خبر

خبر تقدیرش اَحْسَنَ زَیْدٌ ای صَارَ زَیْدٌ ذَا حُسْنٍ وبا زائده است

سره یعني تقدیر د عبارت به داسې شي اَحسَنَ زیدٌ ای صار ذا حسن او با زائده ده

افعال تعجب هغې ته وائي چه یو نا اشنا شي په نظر راشي او په هغه سره چه تعجب وشي بیا دغه افعال تعجب د پاره دوه صیغې دی چه راځی دَ هر ثلاثی مجرد مصدر نه (۱) افعله، باب افعال صیغه د ماضی ده (۲) افعل به، ده باب افعال

صيغه د امر ده لکه مثال حسن ثلاثی مجرد مصدر دې نو فعل تعجب ترې دوه صيغې راځی : (۱) أَحْسَنَ بوزن أفْعَلَ (۲) أَحْسِنْ بوزن أفْعِلْ ، او اول وزن اگرچه انشاء نده ځکه چه ماضی ده خو بيا هم په معنی دَ انشاء ده.

(**ما افعله**) دا په اصل کښې ای شئ احسن زيد دې. يعنی څه شی دې چه هغې زيد ښائيسته کړې دې، او دَ تعجب په معنی کښې داسې وائی چه څه ښه دې زيد (ما) په معنی د ای شيئ سره مبتداء شوه، (احسن) فعل دې ضمير پکښې مستتر دې چه (هو) دې هغه ئې فاعل شو ، (زيد) يې مفعول به شو . فعل سره دفاعل او سره دمفعول به نه جمله فعليه خبرشو دَ مبتدا ، او مبتداء سره دَ خبر نه جمله اسميه انشائيه شوه.

(**افعل به**) صيغه د امر ده صورةً اوانشاء ده معنًی او خبردې، يعنی څه ښه دې زيد نو په دغه لحاظ سره احسن بزيد ، اصل احسن زيد شو ، او (بزيد) کښې با زائده ده، دغه شان دَ نورو مصادرونه هم دَ تعجب افعال راوباسه

باب سوم در عمل اسمائ عامله وآن يازده قسم است

دريم باب دې په بيان دَ عمل داسماء عامله ؤکښې او دا اسماء عامله يوولس قسمه دی

اول اسماء شرطيه بمعنی انْ و آن نه است مَنْ ومَا وأَيْنَ

اول قسم اسماء شرطيه دی چه په معنی د انْ سره دی اودغه نهه دی (۱)من (۲)ما (۳)اين

ومَتٰی وأَیُّ وأَنّٰی واذْماوحَيْثُمَا ومَهْمَا فعل مضار را بجزم

(۴) متی (۵) ای (۶) انی (۷) اذما (۸) حيثما (۹) مهما دي . دوئ فعل مضارع ته جزم

كنندچون مَنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ ومَاتَفْعَلْ اَفْعَلْ واَيْنَ تَجْلِسْ

ورکوي لکه، مثال، من تضرب اضرب، او ما تفعل افعل شو. او اين تجلس

اَجْلِسُ ومَتٰى تَقُمْ اَقُمْ واَىُّ شَيْءٍ تَاْكُلْ اٰكُلُ و اَنّٰى تَكْتُبْ

اجلس، او متى تقم اقم او ای شيئ تاكل اٰكل، او انى تكتب

اَكْتُبُ وَاِذَمَا تُسَافِرْاُسَافِرُو حَيْثُمَا تَقْصِدُ اَقْصِدُوَمَهْمَا تَقْعُدُ اَقْعُدُ

اکتب شو، او اذا ما تسافر اُسافر، او حيثما تقصد اقصد او مهما تقعد اقعد شو

مصنف رحمه الله شروع وکړه په بيان دَ اسماء عامله کښ او دغه اسماء عامله ټول يوولس قسمه سره دی، چه عمل کوی په فعل مضارع او اسم متمکن کښ نو اول قسم اسماء شرطيه دی، چه په معنیٰ دَ اِنْ شرطيه سره دی اوهغه نهه دی، نو دوئ چه په کومو جملو باندې داخل شی نو اول جزء ته يې شرط وئيلی شی او دويم جزء ته يی جزاء وئيلې شی، او د ټولو مثالونه په متن د کتاب کښ ليکل شويدی.

۱ ـ **مثال: من تضرب اضرب**: هغه څوك چه ته يې وهې نو زه يې هم وهم. نو دلته (من) په معنی د اِنْ سره دې نو ځکه په دوه جملو داخل شو چه اول شرطيه جمله شوه او دويمه جزائيه جمله شوه، او شرط او جزاء دواړه مجزوم دی. دا ټول حروف فعل مضارع ته جزم ورکوی. باقی ټول امثال په دې مثال باندې ورقياس کړه.

دوم اسـماء افعال بمعنی ماضی چون هیهات وشـتان

دویم قسم اسماء افعال دی چه په معنی دَفعل ماضی سره دي لکه هیهات اوشتان

وسرعان، اسم را بنابرفاعلیت برفع کنند چون هیهات

اوسرعان شو. خپل اسم ته رفع ورکوی بنا بر فاعلیت لکه مثال هیهات یوم

یوم العید ای بَعُدَ سوم اسماء افعال بمعنی امرحاضرچون

العیدای بعد. یعنی لرې شوه ورځ داختر. دریم قسم اسماء افعال دی په معنی دامرحاضر

رُوَيْدَ وبَلْهَ وحَيَّهَلْ وعَلَيْكَ ودُوْنَكَ وهَا، اسم را بنصب

سره دی لکه. روید او بله او حیهل او علیك او دونك او ها شو. اسم خپل ته نصب

کنند بـناء بر مفعولیت چـون رُوَيْدَ زَيْدً ای اَمْهِلْهُ

ورکوی بنا بر مفعولیت لکه مثال رویدزیداً شو. ای امهله یعنی پرېږده زیدلره

دویم قسم د اسماء افعالونه هغه اسماء افعال دی چه په معنی دَ فعل ماضی سره وی. اسماء ورته په ظاهری طور سره وائی اوافعال ورته ځکه وائی چه په معنی دَ فعل سره دی. مثالونه: هیهات. شتان. سرعان. (هیهات) په معنی دَ بعد سره (شتان) په معنی دَ افترق سره او (سرعان) په معنی دَ سرع سره. مثال دَ کتاب لکه (هیهات یوم العید) ای بعد. یعنی لرې شوه داختر ورځ. ددوئ عمل دادې چه اسم خپل ته رفع ورکوی بنا بر فاعلیت. یعنی اسم ددوئ فاعل وی.

دریم قسم هغه اسماء افعال دی چه په معنی دَ امر حاضر سره وی. دَ هغې دپاره دا حروف راځی: (۱) روید. په معنی د

امهل سره یعنی مهلت ورکړه (۲) بله: په معنی د دَعْ سره یعنی پریږده. (۳) حیّهل: په معنی د ایتِ سره. یعنی راشه ته (۴) هَلُمَّ: په معنی د ایتَ سره یعنی راشه ته (۵) علیك: په معنی د الزم سره. یعنی لازم اونیسه (۶) علیك: په معنی دخذ سره. یعنی واخله ته (۷) ها: دا هم په معنی دَخذ سره دي. دا مذکوره حرف خپل اسم ته نصب ورکوی. لکه: (روید زیداً) شو. په معنی دَ امهل سره (روید) اسم فعل شو. او (زید) ورته اسم منصوب شو، چه بناء بر مفعولیت نصب ورکوی. باقی ټول امثال په دې قیاس کړه.

چهارم اسم فاعل بمعنی حال یا استقبال عمل فعل معروف

خلورم قسم اسم فاعل دې. چه په معنی دحال یا استقبال وی او عمل یې دفعل

کند بشرط آنکه اعتماد کرده باشد برلفظی که پیش

معلوم وی پدې شرط سره چه اعتمادیې کړې وی په هغه لفظ چه دَدینه مخکښ

ازو باشد وآن لفظ یا مبتداء باشد در لازم چون زَیْدٌ

وی او هغه لفظ به یا مبتداء وی په صورت دَلازم کښ لکه مثال. زیدٌ

قَائِمٌ اَبُوْهُ و در متعدی چونِ زَیْدٌ ضَارِبٌ اَبُوْهُ عَمْرًا یا

قائمٌ ابوه او په متعدی کښ لکه مثال زیدٌ ضارب ابوعمرواً یا به

موصوف چون مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِب اَبُوْهُ بَکْرًا یاموصول

موصوف وی لکه مررت برجل ضارب اَبوبکرا یا به موصول وی

چون جائنی القائمُ ابوهُ و جائنی الضاربُ ابوهُ عمرًا یا

لکه مثال جئني القائم ابوه شو او جائني الضارب ابوه عمروا شو او یا به

دوالحال چون جائنی زیدٌ راکبا غلامهٗ فرسا یا همزه

ذوالحال وي لکه مثال جائني زید راکبا غلامه فرسا شو یا به همزه

استفهام چون اضاربٌ زیدٌ عمروا یاحرف نفی چون

استفهام وي لکه مثال اضارب زید عمروا شو یا به حرف نفي وي لکه مثال

ماقائمٌ زیدٌ همان عمل که قام وضرب می کرد.

ماقائم زید شو هماغه عمل چه قام او ضرب ئې کوي

حلورم قسم اسم فاعل دی. هغه اسم فاعل چه په هغې کښې معنی د حال یا استقبال موجوده وی نو مذکوره قسم اسم فاعل د فعل معلوم پشان عمل کوی یعنی فاعل ته به رفع ورکوی او که متعدی وی نو مفعول ته به نصب ورکوی

اسم فاعل هغه اسم ته وائی چه دلالت کوی په یو ذات باندی چه قائم وی په دغه ذات پورې معنی مصدری علی سبیل الحدوث

بیا دغه اسم فاعل چه عمل کوی نو شرط به داوی چه په دغه اسم فاعل کښې به معنی د حال یا استقبال موجوده وی او دویم شرط به داوی چه لاندې شپږو خیزونو نه به خامخا یو خیز دده نه مخکښې ذکر وی چه دغه اسم فاعل پرې اعتماد وکړی او هغه دادی (۱) مبتداء (۲) موصوف (۳) موصول (۴)

ذوالحال (۵) حرف استفهام (۶) حرف نفی به وی

(۱) مثال د اسم فاعل چه اعتماد یی کړی وی په مبتدا باندې اودغه دفعل لازم نه مشتق وی. لکه زیدٌ قائم ابوه شو. نوزید مبتدا ، شوه . قائم اسم فاعل اومشتق دفعل قام نه چه لازم فعل دې چه صرف فاعل ته رفع ورکوی نو ابوه فاعل شو او ابوه ته رفع ورکړې ده. نو اسم فاعل سره دفاعل نه خبر د مبتداء شو چه زید دې او مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه شوه او که چرته دغه اسم فاعل دَ فعل متعدی نه مشتق وی نو دَ هغې مثال لکه زیدٌ ضَاربٌ ابو عمرواً . نو دلته زید مبتداء شو. او ضارب اسم فاعل شو او دضرب نه مشتق دې او ابوه دَ ضاربٌ فاعل شو. اوعمرواً مفعول شو. نو دلته ضارب فاعل ته رفع او مفعول ته نصب ورکړې دې. نو اسم فاعل سره دَ خپل فاعل او مفعول به نه خبر د مبتداء شو

(۲) اوکه چرته مخکښې د اسم فاعل نه موصول وی. مثال لکه جائنی القائم ابوه. نو دلته جاء فعل شو . القائم کښې الف لام په معنٰی د الذی سره شو او (قائمٌ) اسم فاعل شو. او ابوه ورله فاعل شو. نو اسم فاعل چه قائمٌ دې سره د فاعل نه چه ابوه دې صله شوه د موصول دپاره او موصول سره د صلې نه فاعل شو دَ جاء فعل دپاره. او (نی) مفعول شو. نوله جمله فعلیه شوه. دا مثال شو د اسم فاعل لازم

اوکه مخکښې د اسم فاعل نه موصول وی او دغه اسم

فاعل مشتق د متعدی نه وی مثال لکه جائنی الضارب ابوبکرًا . (ضارب) اسم فاعل شو . او (ابو) یې فاعل شو . او (بکرًا) مفعول به شو . نو اسم فاعل سره دفاعل او سره دَ مفعول به نه صله شوه دَ موصول دپاره اوموصول سره دَ صلې نه فاعل شو دَ فعل جاء دپاره بیا ټوله جمله فعلیه شوه

(۳) اوکه مخکښ دَ اسم فاعل نه موصوف وی یعنی په موصوف یې اعتماد کړې وی. مثال لکه : مررت برجل ضارب ابوعمروًا (مررت) فعل فاعل (برجل) موصوف (ضارب) اسم فاعل (ابوه) فاعل (عمروًا) مفعول به. اسم فاعل سره دَ فاعل نه چه ضارب او ابوه دې او سره دَ مفعول به نه چه عمروًا دې مجموعه صفت شو دپاره دَ موصوف چه رجل دې. او موصوف سره دَ صفت نه مجرورشو دَجار چه (ب) ده او جار سره دمجرور نه متعلق شو مررتُ پورې.نو فعل سره دَ فاعل نه او سره دَمتعلق نه جمله فعلیه شوه.

(۴) اوکه مخکښ دَ اسم فاعل نه ذوالحال وی مثال لکه. جائنی زید راکبًا غلامه فرسًا شو . (راکبًا) اسم فاعل (غلامه) فاعل او (فرسًا) مفعول به . اسم فاعل سره دَ فاعل نه او سره دَ مفعول به نه مجموعه حال شو دپاره دَ ذوالحال چه زید دې او ذوالحال سره دَ حال نه فاعل شو دَ فعل جاء دپاره. بیا فعل سره دَ فاعل اومفعول نه چه (نی) دې جمله فعلیه شوه

(۵) اوکه مخکښ دَ اسم فاعل نه صرف استفهام وی مثال

(اضارب زید عمروا) (ضارب) اسم فاعل شو. او (زید) فاعل شو. او (عمروا) مفعول به شو. نو اسم فاعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله اسمیه انشائیه شوه او استفهام یکښ دی (۶) او که مخکښ د اسم فاعل نه حرف نفی وی. مثال لکه (ماقائم زید) (قائم) اسم فاعل شو (زید) فاعل شو. نو دغه اسم فاعل سره د فاعل نه په حرف نفی اعتماد کړیدې نو دغه جمله هم اسمیه خبریه شوه

پنجم اسم مفعول بمعنی حال واستقبال عمل فعل مجهول

پنځم قسم اسم مفعول دې. چه په معنی د حال یا استقبال وی او عمل د فعل مجهول

کند بشرط اعتمادمذکور چون زَیْدٌ مَضْرُوْبٌ اَبُوْهُ و عَمْرٌو

کوی په شرط د اعتماد مذکور سره لکه مثال زید مضروب ابوه شو او عمرو

مُعْطِیٌ غُلَامُهٗ دِرْهَمًاوَبَکْرٌ مَعْلُوْمٌ اِبْنُهٗ فَاضِلًا وَخَالِدٌ مُخْبَرٌ

معطی غلامه درهما شو او بکر معلوم ابنه فاضلا شو. او خالد مخبر

اِبْنُهٗ عَمْرًا فَاضِلًا همان عمل که ضُرِبَ وَ اُعْطِیَ و عُلِمَ

ابنه عمروا فاضلا شو. هغه عمل چه کوم ضرب او اعطی او علم

واُخْبِرمی کردمَضْرُوْبٌ وَمُعْطِیٌ ومَعْلُوْمٌ وَمُخْبَرٌ می کند

او اخبر کولو نو مضروب او معطی او معلوم او مخبر هم کوی

(اسم مفعول) نوم د کار کړې شوی ته وائی او مشتق کیږی د فعل مضارع نه نو کوم عمل چه فعل مجهول کوی نو هغه عمل به اسم مفعول هم کوی. یعنی څرنګه چه فعل مجهول د

فاعل په ځای مفعول مالم یسم فاعله ته رفع ورکوله او باقی مفاعیلو ته ئی نصب ورکولو نو دغه شان اسم مفعول به هم کوی. نو که فعل ئی متعدی یو مفعول ته وو نو دې به هم یو مفعول ته متعدی وی. الخ. او که فعل دوه یا درې ته متعدی وو نو دې به هم دغه شان وی. خو د اسم مفعول د عمل دپاره هم دوه شرطه دی: (۱) چه معنیٰ کښې حال یا استقبال وی (۲) شرط اعتماد به یې وی په اشیاء سته مذکوره پورې: (۱) مبتداء (۲) موصوف (۳) موصول (۴) ذوالحال (۵) همزه استفهام (۶) حرف نفی.

(۱) اسم مفعول متعدی بیک مفعول مثال (زید مضروب ابوه) شو. (زیدٌ) مبتداء (مضروب) اسم مفعول (ابوه) مفعول مالم یسم فاعله. نو اسم مفعول سره دَ خپل مفعول ما لم یسم فاعله نه خبر دَ مبتداء شو مبتداء سره دَ خبرنه جمله اسمیه شوه. معنیٰ یې داده چه: دزید پلار وهلې شویدې

(۲) اسم مفعول متعدی بدو مفعول او اکتفاء په یو باندې هم جائز وی: لکه مثال (عمروٌ معطًی غلامه درهمًا) معنیٰ دعمرو غلام ته یوه روپئ ورکړې شوه. (عمر) مبتداء (معطی) اسم مفعول او (غلامه) مفعول مالم یسم فاعله او (درهمًا) مفعول ثانی شو. نو یو مفعول حذف کول اودوېم باقی پاتی کول هم جائز دی

(۳) اسم مفعول متعدی بدو مفعول چه اکتفاء په یو جائز

نه وي لکه مثال (بکر معلوم ابنه فاضلاً) شو. معنی د بکر ځوی فاضل معلوم شوې دې. (بکر) مبتداء (معلوم) اسم مفعول (ابنه) مفعول مالم یسم فاعله او (فاضلاً) مفعول ثاني شو. نو دلته یو مفعول هم نشي حذف کولي

(۴) اسم مفعول متعدی په درې مفعولو سره. لکه مثال (خالد مخبر ابنه عمرواً فاضلاً) معنی د خالد ځوئ ته د عمرو د فاضل کیدو خبر ورکړې شو. (خالد) مبتداء شوه (مخبر) اسم مفعول شو (ابنه) مفعول ما لم یسم فاعله شو (عمرو) مفعول ثاني شو (فاضلاً) مفعول ثالث شو

دا کوم مثالونه چه بیان شو دا مثالونه د هغه اسم مفعول دی چه اعتماد کړې وی اسم مفعول په مبتداء باندې. باقی نورو پنځو ځیزونو باندې چه اسم مفعول اعتماد کړې د هغې مثالونه واضح دی. دویمه خبره داده چه کوم عمل ضرب او اعطی او علم او اخبر کولو هغه عمل به هغه مفاعیل هم کوی چه د دغه مذکوره نه وتلی وی.

(۲) هغه اسم مفعول چه اعتماد ئی په موصوف کړې وی د هغې مثالونه په طریقه مذکوره سره مَرَرْتُ بِرَجُلٍ مَضْرُوْب اَبُوْهُ، مررتُ برجُلٍ مُعْطيٍ غُلَامُهُ دِرْهَمًا، مَرَرْتُ بِرَجُلٍ مَعْلُوْمٌ اِبْنُهُ فاضلاً. مررتُ برجُلٍ مُخبرٍ اِبْنُهُ عَمْرواً فاضلاً.

(۳) هغه اسم مفعول چه اعتماد یې کړی وی په موصول باندې مثالونه جَائَنِیْ اَلْمَضْرُوْبُ غُلَامُهُ، جَائَنِیْ اَلْمُعْطٰی

غلامُهٗ درهما، جائنی المعلومُ ابنُه فاضلا، جائنی المخبرُ ابنُه عمروا فاضلا.

(۴) اسم مفعول چه اعتماد یې کړی وی په ذو الحال باندې مثالونه: جائنی زیدٌ مضروبًا ابوهٗ، جائنی زیدٌ معطیً غلامُهٗ درهما، جائنی زیدٌ معلومٌ ابنه فاضلاً، جائنی زیدٌ مخبرٌ ابنه عمروا فاضلاً.

(۵) اسم مفعول چه اعتماد یې کړې وی په همزه استفهام باندې مثالونه: أمضروبٌ زیدًا، أمُعطی زیدٌ درهمًا، أمعلومٌ زیدٌ فاضلاً، أمُخبرٌ زیدٌ عمروا فاضلاً.

(۶) اسم مفعول چه اعتماد ئې کړې وی په حرف نفی باندې مثالونه: مَا مضروبٌ زیدٌ، مَا مُعطیٌ زیدٌ درهمًا، مَا معلومٌ زیدٌ فاضلاً، مَا مُخبرٌ زیدٌ عمروا فاضلاً.

ششم صفت مشبه عمل فعل خود کند بشرط اعتماد مذکور

شپږم قسم صفت مشبه دی. عمل د فعل خپل کوی په شرط د اعتماد مذکور سره

چون زیدٌ حسنٌ غلامُهٗ همان عمل که حسُن میکرد حسنٌ میکند

لکه. زید حسن غلامه سو. هغه عمل چه حسُن کولو نو حسن به یې هم کوی

صفت مشبه هغه اسم دې چه مشتق کیږی د فعل لازمی نه دپاره د دلالت کولو په هغه ذات چه معنی د مصدر پکښ موجود یږی په طریقه د ثبوت سره او صفت مشبه ورته ځکه وائی چه مشابه دې د اسم فاعل سره په تذکیر او تانیث او

افراد او جمعیت کښې. او عمل د صفت مشبه دادې چه څرنګه د فعل لازم نه مشتق وي نو په دغه وجه خپل فاعل ته رفع ورکوي او دا عمل به هغه وخت کوي چه د اسم فاعل او اسم مفعول پشان په خپل ماقبل باندې اعتماد وکړي

لکه مثال زید حسن غلامه شو. (زید) مبتدا شوه (حسن) صفت مشبه شوه او (غلامه) ورله فاعل شو. نو صفت مشبه سره د فاعل نه خبر د مبتداء شو. او مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه شوه. یعنی د زید غلام ښائسته دې او ښائست دهمیشه لپاره ورسره دې

هفتم اسم تفضیل و استعمال او برسه وجه است به مِنْ

اووم قسم اسم تفضیل دې او استعمال ئې په درې طریقو سره دې (۱) د من سره

چون زَیْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو یابالف ولام چون جَائَنِیْ زَیْدٌ

لکه زیدٌ افضل من عمرو شو (۲) یا په الف لام سره استعمال وی لکه. جائنی زیدٌ

الاَفْضَلُ یا باضافت چون زَیْدٌ اَفْضَلُ الْقَوْمِ وعمل او در

الافضل شو (۳) یا په اضافت سره استعمال وی لکه. زید افضل القوم شو. او ددې عمل

فاعل باشد وآن هو است فاعل افضل که درو مستتراست

په فاعل کښې وی. او هغه هو دی چه فاعل د افضل دې. چه په هغې کښې پټ دې

اسم تفضیل هغه اسم ته وئیلې شی چه مشتق وی د فعل مضارع نه او دلالت کوی په زیادت د معنی مصدری باندې.
لکه مثال یو سړې پوهه وی نو هغه ته عالم په صیغه د اسم

فاعل سره وئیلې شي اوکه ښه زیات پوهه وی نو هغه ته اعلم په صیغه د اسم تفضیل سره وئیلې شي بیا اسم تفضیل په دوه قسمه وزن سره راځی (۱) اَفعَلُ دثلاثی مجردنه د مذکر دپاره (۲) فُعلٰی دَ ثلاثی مجرد نه د مؤنث دپاره راځی. لکه اَنصرُ او نُصرٰی شو

او استعمال دَ اسم تفضیل په درې طریقو سره دې (۱) په مِنْ سره (۲) په الف لام سره (۳) په اضافت سره

(۱) اسم تفضیل چه استعمال شی په مِنْ سره نو دا به همیشه مفرد مذکر وی. مثال لکه. زَیدٌ اَفضَلُ مِنْ عَمرٍو . یعنی زید غوره دې دعمرو نه.

(۲) اسم تفضیل چه استعمال شی په الف لام سره نودغه اسم تفضیل به دَ خپل موصوف سره مطابق وی. مثال لکه . (زَیدٌ الافضل) شو

(۳) اسم تفضیل چه استعمال شی په اضافت سره. مثال (زَیدٌ افضل القوم) نو افضل اسم تفضیل دې او القوم ته یې اضافت شویدې.

اسم تفضیل څه عمل کوی؟ نو عمل دَ اسم تفضیل رفع ورکول دی فاعل ته. او فاعل د اسم تفضیل هغه پټ ضمیر دې چه په اسم تفضیل کښې دې. اوکله اسم ظاهر هم راځی. لکه چه په غټو کتابونو کښې به درته راشی ان شاء الله تعالی

هشتم مصدر بشرط آن که مفعول مطلق نباشد عمل

اتم قسم مصدر دی . په دی شرط سره چه مفعول مطلق نه وی نو دی عمل

فعلش کند چون اَعْجَبَنِیْ ضَرْبُ زَیْدٍ عَمْرواً

د حمل فعل پشان کوی لکه مثال . اعجبنی ضرب زید عمروا شو

(مصدر) صیغه دَ ظرف ده معنی یې ځای دَ صدور ده او مصدر هغه ته وائی چه مشتق منه وی دَ فعل دپاره وی نو مصدر دَ ټولو افعالو مرجع شوه. او مصدر منون هم راځی او غیر منون هم راځی. خو مصدر کښې شرط دادې چه دغه مصدر به مفعول مطلق نه وی او که مفعول مطلق وو نو عمل به نکوی. باقی څنګه چه فعل عمل کوی دغه شان به مصدر هم عمل کوی، مثال دمصدر لکه (اعجبنی زید عمرواً) شو (اعجب) فعل . نون وقایه (یا) منکلم مفعول به (ضرب) مصدر (زید) فاعل محلاً مرفوع. او (عمرواً) مفعول به شو. نو مصدر سره دفاعل او سره دمفعول به نه فاعل داعجب شو

نهم اسم مضاف مضاف الیه را بجر کندچون جائنی

نهم قسم اسم مضاف دي چه مضاف الیه ته جرورکوی . مثال لکه . جائنی

غُلامُ زَیْدٍ بدانکه اینجا لام تحقیقت مقدر است زیرا که

غلام زید شو . پوهه شه ای طالبه . دلته لام په واقع کښې مقدر دی ځکه چه

تقدیرش آن است که غُلامٌ لِزَیْدٍ

تقدیر دَ عبارت داسی دی غلام لزیدٍ

مضاف صيغه دَ اسم مفعول ده. په لغت کښې مائل کيدو ته وائي، او تعريف دَ اضافت دادې چه «نسبة شيئ الى اسم بواسطة حرف الجر لفظًا او تقديرًا» او اضافت په درې قسمه سره راځي (۱) اضافت په تقدير دلام سره، لکه مثال مذکوره په کتاب کښې (۲) اضافت په تقدير دَ في سره لکه صَلٰوةُ اللَّيْلِ اى فِي اللَّيْلِ (۳) اضافت په تقدير د مِنْ سره لکه خاتَمُ فِضَّةٍ اى مِنْ فِضَّةٍ او عمل دَ اضافت دادې چه مضاف اليه ته جر ورکوي

دهم اسم تام تميز را بنصب کند وتمامى اسم يا بتنوين

لسم قسم اسم تام دې چه تميز ته نصب ورکوي. او تمام کيدل دا اسم يا په تنوين

باشد چون مَافِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا يا بتقدير تنوين

سره وي لکه مثال. مافي السماء قدر راحة سحابًا شو. يا به تقدير د تنوين سره وي

چون عِنْدِيْ اَحَدَعَشَرَ رَجُلًا وَزَيْدٌ اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا يابنون

لکه مثال. عندي احد عشر رجلًا شو. او زيد اکثر منك مالًا شو. يا په نون

تثنيه چون عِنْدِيْ قَفِيْزَانِ بُرًّا يابنون جمع چون هَلْ نُنَبِّئُكُمْ

دتثنيه سره وي، لکه عندي قفيزان برًّا شو. يا په نون د جمع سره وي لکه. هل ننبئکم

بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا يابمشابه نون جمع چون عِنْدِيْ عِشْرُوْنَ

بالاخسرين اعمالًا شو، يابه مشابه دنون دجمع سره وي لکه مثال. عندي عشرون

دِرْهَمًا تا تِسْعُوْنَ يا باضافت چون عِنْدِيْ مِلْؤُهٗ عَسَلًا

درهمًا تا تسعون شو. يا په اضافت سره وي لکه مثال عندي ملؤهٗ عسلًا شو

اسم تام هغه اسم ته وئيلې شي چه اسم په داسې حالت کښې وي چه بل اسم ته مضاف نه وي. بيا دغه اسم خپل مابعد اسم ته نصب ورکوي بنا برتميز يعني دغه منصوب اسم ته تميز وئيلې شي، بيا دغه اسم تام د لاندې مذکوره څيزونو نه راځي (۱) يعني اسم تام د تنوين نه راځي. برابره خبره ده که تنوين لفظي وي او که تقديري وي. د اول مثال لکه «مَافِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا» نو (راحة) باندې لفظ تنوين دې له همدې وجهې نه اسم تام شويدې او (سحابًا) ورله تميز شو، مثال د تقدير د تنوين لکه «عِنْدِيْ اَحَدَعَشَرَ رَجُلًا» نو په (احد عشر) کښې تنوين مقدر دې ځکه چه په اصل کښې (اَحَدٌ وعَشَرٌ) وو. نو احد عشر هم اسم تام دې او (رجلاً) تميز شو. يا دريم مثال لکه «زَيْدٌ اَكْثَرُ مِنْكَ مَالاً» نو (اكثر) کښې هم تنوين تقديري دې. ځکه چه غير منصرف دې او (مالاً) تميز شو

(۲) او دغه شان اسم تام د نون د تثنيه نه هم راځي. لکه مثال. «عِنْدِيْ قَفِيْزَانِ بُرًّا» شو. يعني ځما سره دوه پيمانې غنم دي. نو قفيزان تثنيه شوه نو د نون د تثنيه دغه اسم تام شو. او برًّا ورته تميز شو

(۳) اسم تام راځي د نون د جمع نه لکه مثال «هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالاً» نو (الاخسرين) کښې نون جمع سره اسم تام شو او (اعمالا) ورته تميز شو.

(۴) اسم تام راځي په هغه نون سره چه مشابه وي دَ نون دَ جمع سره. لکه مثال ((عِنْدِیْ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا تا تِسْعُوْنَ)) نو (عشرون) نه تر (تسعون) پورې چه کوم نونات راځي دغه نونات مشابه دي دَ نون دجمع سره نو هم په دغه نوناتو سره دا اسم تام شو او درهمًا ورته تمیز شو

(۵) اسم تام راځي په اضافت سره یعنی چه دمضاف سره مضاف الیه یوځای شي نو اسم تام شي. لکه مثال: ((عِنْدِیْ مِلْؤُهٗ عَسَلاً)) نو (ملؤه) مضاف (ه) ضمیر مضاف الیه نو اضافت په وجه اسم تام شو. او (عسلاً) تمیز شو. یعنی ځما سره دغه لوخی ډك دي دَ شهدو نه

یازدهم اسماء کنایه ازعدد وآن دو لفظ است کَمْ وکَذَا

یولسم قسم اسماء کنایه دي چه دعدد نه راځي. بیا هغه دوه لفظونه دي. کم. او

کم بردو قسم است، استفهامیه و خبریه، کم استفهامیه

کذا. کم په دوه قسمه دي (۱) کم استفهامیه (۲) کم خبریه. کم استفهامیه

تمیزرا به نصب کند و کذا نیز چون کَمْ رَجُلاً عِنْدَكَ وَ

تمیز خپل په نصب ورکوي اوکذا هم خپل تمیز ته نصب ورکوي. لکه. کم رجلا عندك

عِنْدِیْ کَذَا دِرْهَمًا وکم خبریه تمیز را بجر کند چون کَمْ

او عندی کذا درهمًا شو. او کم خبریه خپل تمیز ته جر ورکوي لکه مثال. کم

مَال اَنْفَقْتُ وَكَمْ دَارٍ بَنَيْتُ وگاهی مِنْ جار بر تمیز کم
مالٌ انفقت او کم دارٍ بنیت او کله . کله من جاره په تمیز دکم خبریه

خبریه آید چون قوله تعالی کَمْ مِنْ مَلَكٍ فِی السَّمٰوٰت
کښ راځي لکه مثال . دا قول د الله تعالی کم من ملك فی السموات

اسماء کنایه هغه ته وائی چه په هغې سره کنایه او اشاره د عدد دمقدار طرفته کیږی یعنی ښکاره عدد نه وی ذکر چه مخاطب دَ عدد په مقدار پوهه نه شی

کنایه دَ عدد دپاره دوه دی (۱) کم (۲) کذا. بیا کم په دوه قسمه دي (۱) کم استفهامی (۲) کم خبری. کم استفهامی هغه ته وائی چه هغه سره تپوس کیدي شی. او کم خبری هغه ته وائی چه هغه سره خبر ورکیدي شی.

دوَیم کذا دي بیا کم استفهامی خپل تمیز ته نصب ورکوی لکه مثال (کَمْ رَجُلاً عِنْدَكَ) شو. اوکم خبری خپل تمیز ته دَ مضاف الیه دَ وجه نه جر ورکوی لکه (کَمْ مَالٍ) او کَمْ دِرْهَمٍ) شو. او که دَ کم خبری اوتمیز په مینځ کښ څه څیز حائل وی نوبیابه تمیز ته نصب ورکوی لکه مثال (کَمْ عِنْدِیْ دِرْهَمًا) شو. په مینځ کښ یې عندی راغلې دی نو دِرْهَمًا تمیز ته یې نصب ورکړو. او (کذا) چه دي دعمل په اعتبار سره د (کم) استفهامی په شان دې. او د معنی په اعتبار سره دَ کم خبری په شان دي. او کله د (کم) خبری په تمیز (من) جاره هم داخلیږی لکه ((کَمْ مِنْ مَلَكٍ فِی السَّمٰوٰت))

قسم دوم عوامل معنوی

دويم قسم د عواملو معنويه په بيان کښې دی

بدانکه عوامل معنوی بر دو قسم است، اول ابتدا یعنی
پوهه شه ای طالبه. عوامل معنوی په دوه قسمه دی. (۱) اول قسم د عوامل معنويه

خلو اسم از عوامل لفظی که مبتداء وخبر را برفع کند
نه ابتداء ده چه خالي وي د عواملو لفظيه نه دغه عوامل معنوی مبتداء او خبر

چون زَيْدٌ قَائِمٌ واینجا گویند که زَيْدٌ مبتدا است مرفوع
ته رفع ورکوی لکه زيدٌ قائمٌ شو. دلته وائی چه زيدٌ مبتداء ده او مرفوع بنا بر

بابتداء وقائمٌ خبر مبتداء است مرفوع بابتداء واینجا دو
ابتداء ده او قائمٌ خبر دی د مبتداء. او مرفوع بنابر ابتدائيت دی. دلته دوه

مذهب دیگر است یکی آنکه ابتداء عامل است در
مذهبه نور دی (۱) يو دا چه ابتداء عامل ده په

مبتداء و مبتداء در خبر دیگر آنکه هریکی از مبتداء
مبتداء کښې او مبتداء عامل ده په خبر کښې او بل مذهب دا دی هر يو د مبتداء

وخبر عامل است در دیگر
او خبر نه عامل دی په بل کښې

مصنف رحمه الله شروع وکړه په دريم قسم عواملو کښې چه هغه عوامل معنويه دی. دغه عوامل معنويه په دوه قسمه دی اول قسم هغه دی چه په اسماؤ کښې عمل کوی دغه قسم

په ابتداء، ونيلې شي. چه اسم د لفظي عواملو نه خالي وي
دويم قسم هغه دي چه معنوي عمل کوي په فعل مضارع کښې
دغه اول قسم چه ابتداء ده. مبتداء ته رفع ورکوي او خبر
ته هم رفع ورکوي. لکه مثال زيدٌ قائمٌ شو. زيد مبتداء او
قائم يې خبر شو. او دواړه مرفوع دي. او عامل لفظي پکښې
نشته دي. نو دغه رفع د ابتداء د وجهې نه ده
بيا په مبتداء او خبر کښې د رفع ورکولو په باره کښې دوه
مذهبه دي (۱) اول مذهب دادې چه مبتداء ته رفع عامل
معنوي ورکړيده. او خبرته رفع مبتداء ورکړيده. نو د اول
دپاره عامل معنوي شو او د دويم دپاره عامل لفظي شو
(۲) مبتداء په خبر کښې عمل کوي او خبر په مبتداء کښې
عمل کوي نو په دواړو کښې عامل لفظي شو

دوم خُلُوّ فعل مضارع ازناصب وجازم فعل مضارع را
دويم قسم چه خالي وي فعل مضارع د عامل ناصبه او جازمه نه نو دغه فعل

برفع کند چون يَضْرِبُ زَيْدٌ، اينجا يَضْرِبُ مرفوع است
مضارع ته رفع ورکوي. لکه يضرب زيد شو. او س دلته يضرب مرفوع دي

زيـــرا که خالی اســـت ازناصب وجازم
ځکه چه خالي دي د عامل ناصبه او عامل جازمه نه

تـــمام شـــد عوامل نحو بتوفيق الله تعالی وعونه
نوتمام شو بحث د عواملو د نحو په توفيق او امداد د الله تعالی سره

دريم قسم دعواملو معنويه نه فعل مضارع کښې دَ رفع کولو عمل دې، يعنى فعل مضارع چه دَعامل ناصبه اوجازمه نه خالى وى نودغه فعل مضارع به مرفوع وى، اوعامل هم دغه شو چه مرفوع به وى ځکه چه عامل لفظى پکښې نشته دې، لکه مثال (يضرب زيدٌ) شو، نو (يضربُ) ځکه مرفوع دې چه خالى دې دَ عامل لفظى نه او عوامل لفظى دوه دى (۱) ناصبه (۲) جازمه ، دغه ځاى پورې دالله تعالى په توفيق او امداد سره دنحوې دعواملو بحث ختم شو.

خاتمه در فوائد متفرقه

خاتمه ، په فوائد کثيره کښې

كه دانستن آن واجب است و آن سه فصل است

چه معرفت حاصلول ئى واجب دې اودغه خاتمه درې فصلونه دى

فصل اول درتوابع، بدانكه تابع لفظى است كه درمى

اول فصل په توابعُ کښې دې، پوهه شه اى طالبه تابع هغه لفظ دې چه اول لفظ

ازلفظ سابق باشدباعراب سابق ازيك جهت ولفظ سابق

پسې دويم لفظ وى په اعراب سابق (رومبنى) سره دَيو جهت په وجه سره، اوسابق

را متبوع گويند و حكم تابع آن است كه هميشه در

لفظ ته متبوع وائى، او د تابع حکم دادې چه دَهميشه لپاره په

اعراب موافق متبوع باشد

اعراب کښې موافق د مبتوع وی

خاتمه : هغې ته وائی چه یو کتاب ختم شی او بیا پرې نظر وکړی او ښه ترینه پاتې شوی وی او هغه په آخره کښې ولیکی نو دیته خاتمه وائی ، پدغه خاتمه کښې درې فصله دی :

اول فصل دتوابعُ په بیان کښې دې : توابع جمع دَ تابع ده چه تابعدار ته وئیلې کیږی او هغه ته هم وائی چه وروسته په بل شی پسې ذکر وی او دَ اعراب په لحاظ سره دَ هغه بل شی چه متبوع ورته وائی تابع وی، یعنی که متبوع باندې رفع وی نو په تابع باندې به هم رفع وی او که په متبوع باندې نصب وو نو په تابع باندې به هم نصب وی۔ الخ۔

وتابع پنج نوع اســـت، اول صفت و اوتابعی است که

اوتابع په پنځه قسمه سره دې، اول قسم صفت دې. دا هغه تابع دې چه

دلالت کند برمعنی که درمتبوع باشد چون جَائَنِیْ رَجُلٌ

دلالت کوی په هغه معنی چه په متبوع کښې وی لکه مثال، جائنی رجل عالمٌ

عَالِمٌ یابرمعنی که درمتعلق متبوع باشدچون جَائَنِیْ رَجُلٌ حَسَنٌ

شو ، یاپه هغه معنی دلالت کوی چه دَمتبوع په متعلق کښې وی لکه. جائنی رجلٌ حسنٌ

غُلَامُهٗ یا اَبُوْهُ مثلاًقسم اول درده چیزموافق متبوع باشددر

غلامه یا ابوه شو مثلاً ، قسم اول په لسو ځیزونو کښې دَمتبوع سره موافق وی

تعريف وتنكير وتذكير وتانيث وافراد وتثنيه وجمع ورفع

(۱) تعریف (۲) تنکیر (۳) تذکیر (۴) تانیث (۵) افراد (۶) تثنیه (۷) جمع (۸) رفع

ونصب و جرچون عِنْدِیْ رَجُلٌ عَالِمٌ وَرَجُلَانِ عَالِمَانِ وَرِجَالٌ

(۹) نصب (۱۰) جر کښې. لکه مثال عندی رجل عالم. او رجلان عالمان او رجال

عَالِمُوْنَ وَامْرَأَةٌ عَالِمَةٌ وَامْرَأَتَانِ عَالِمَتَانِ وَ نِسْوَةٌ عَالِمَاتٌ

عالِمون او امرأة عالِمة او امرأتانِ عالِمتانِ او نِسوة عالمات شو

بیا دغه تابع په خپل کور کښې په پنځه قسمه دې: (۱) صفت (۲) معطوف بالحرف (۳) تاکید (۴) بدل (۵) عطف بیان.

(۱) صفت: دا هغه تابع دې چه دلالت کوی په هغه معنی چه متبوع کښې وی اویا د متبوع په متعلق کښې وی لکه متعلق غلام وی، پلار وی، تره وی وغیره وغیره. داول مثال لکه: ((جَائَنِیْ رَجُلٌ عَالِمٌ)) نو (رجل) متبوع شو او عالم صفت او تابع شو. اوصفت چه (عالم) دې دغه په متبوع کښې شته دې یعنی دغه معنی، دویم مثال لکه: ((جَائَنِیْ رَجُلٌ حَسَنٌ أَبُوْهُ یَا غُلَامُهُ)) شو، یعنی ځما خوا له داسې سړې راغې چه دَ هغه غلام یا پلار ښائیسته دې، نو رجل موصوف او متبوع شو. او حسن صفت شو، اودا صفت په متعلق دَ متبوع کښې پروت دې چه غلام یا پلار دې.

بیا دصفت په دوه قسمونو کښې دَ اول قسم چه هغه دَ خپل متبوع حالت ښکاره کوی دَ خپل متبوع سره په لسو ځیزونو

کښې موافق وی ، او په دغه لسو ۱۰ کښې به خلور په یو وخت
کښې په تابع او متبوع دواړو کښې موندلې شی (۱) دواړه به
مذکر وی (۲) یا دواړه به مؤنث وی (۳) دواړه به معرفه وی (۴)
یا دواړه به نکره وی (۵) دواړه به مفرد وی (۶) یا دواړه به
تثنیه وی (۷) یا دواړه به جمع وی (۸) دواړه به مرفوع وی
(۹) یا دواړه به منصوب وی (۱۰) یا دواړه به مجرور وی .

مثالونه :

رَجُلٌ عَالِمٌ دواړه نکرې او مذکر او مفرد دی او مرفوع دی
رَجُلٌ عَالِمَانِ .... او تثنیه ....
رِجَالٌ عَالِمُوْنَ .... او جمعې ....
اِمرَأَةٌ عَالِمَةٌ دواړه مؤنثه او نکرې او مفردې او مرفوع دی
اِمرَأَتَانِ عَالِمَتَانِ .... او تثنیه ....دی
نِسْوَةٌ عَالِمَاتٌ .... او جمعې .... دی

اما قسم دوم موافق متبوع باشد در پنج چیز تعریف و

هرچه دویم قسم دَ صفت دې موافق به دَ متبوع وی په پنځو خیزونو کښې (۱) تعریف

تنکیر و رفع ونصب و جر چون جَائَنِیْ رَجُلٌ عَالِمٌ اَبُوْهُ

(۲) تنکیر (۳) ، (۴) نصب (۵) جر . لکه مثال : جائنی رجل عالم ابوه شو .

بدانکه نکره را بجمله خبریه صفت توان کرد چون جَائَنِیْ

پوهه شه ای طالبه . چه نکره ته په جمله خبریه سره صفت کیږی . مثال لکه .

رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ ودرجمله ضميری عائد بنکره لازم باشد

جائني رجل ابوه عالم اوپه جمله کښې به يوضمير ضرور وي چه نکرې ته راجع شي

دويم قسم صفت چه دَ متعلق دَ مبتوع حالت ښکاره کوي دغه تابع دَمتبوع سره په پنځه خيزونوکښې موافق وي (۱) تعريف (۲) تنکير (۳) رفع (۴) نصب (۵) جر، ددغه پنځه مذکوره نه به دوه په يو وخت کښې موندلې شي ، لکه مثال: ((رجل عالم ابوه)) (رجل) موصوف او متبوع دې او (عالم) صفت او تابع دې نودواړه نکرې اومرفوع دی.

بله خبره داده چه نکره موصوف وي نو صفت به جمله خبريه هم کيدې شي، لکه مثال : (جائني رجل ابوه عالم)، يعني راغې ماته سړې چه پلار دَهغه عالم وو، نو (رجل) نکره موصوف ده ، (ابوه) مبتداء (عالم) ورله خبر، مبتداء سره دَ خبر نه جمله اسميه خبريه صفت شو دَ موصوف چه رجل دې، موصوف سره دَ صفت نه فاعل شو دَ جاء فعل دپاره ، بياتوله جمله فعليه شوه. خو جمله خبريه به هغه وخت کښې صفت نکرې وي چه جمله کښې يوضمير وي چه هغه نکرې موصوف ته راجع وي، دپاره ددې چه مناسبت پيدا شي

دوم تاکيد واوتابعی است که حال متبوع رامقرر گرداند

دويم قسم تاکيد دې او دا هغه تابع دې چه د متبوع حال مضبوط کوي

درنسبت یا در شمول تا سامع راشـــك نه ماند وتاكيد

په نسبت کښې يا په شمول کښې دپاره دَدې چه اوريدونکی ته شك پاتې نشي اوتاكيد

بردوقسم است لفظي ومعنوى، تاكيدلفظي بتكرارلفظ

بيا په دوه قسمه سره دې، يوتاكيد لفظي اوبل تاكيد معنوى، تاكيد لفظي

است چون زَيْدٌ زَيْدٌ قَائِمٌ وَضَرَبَ ضَرَبَ زَيْدٌ وَانَّ انَّ زَيْدًا

تكرار دلفظ سره وى، لكه: زيدٌ، زيدٌ قائمٌ اوضرب ضرب زيدٌ شو، اوانّ انّ زيداً

قَائِمًا وتاكيد معنوى هشت لفظ است نَفْسٌ،عَيْنٌ وَكِلاَ

قائمًا شو، اوتاكيد معنوى په اته الفاظو سره وى، (۱) نفس (۲) عين (۳) كلا

وكِلْتَا وَكُلٌّ واَجْـــمَعُ واَكْتَعُ واَبْتَعُ واَبْصَعُ چون جَائَنِىْ

(۴) كلتا (۵) كل (۶) اجمع (۷) ابتع (۸) ابصع . لكه مثال جائنى زيدٌ

زَيْدٌ نَفْسُهُ وَ جَائَنِىْ الزَّيْدَان اَنْــفُسُهُمَا وَجَائَنِى الزَّيْدُوْنَ

نفسه شو، او جائنى الزيدان انفسهما شو ، او جائنى الزيدون

اَنْفُسَهُمْ وعَيْنٌ رابرين قياس كن ،وَجَائَنِى الزَّيْدَان كِلاَهُمَا

انفسهم شو، او عين په دوئ قياس كړه ، او جائنى الزيدان كلاهما

وَالْهِنْدَان كِلْتَاهُمَا وكِلاَ وكِلْتَاخاص است بمثنى وجَائَنِى

والهندان كلتاهما شو، اوكلا اوكلتا خاص دى په تثنيه پورې او جائنى

اَلْقَوْمُ كُلُّهُمْ اَجْـــمَعُوْنَ واَكْتَـــعُوْنَ و اَبْتَعُوْنَ واَبْصَعُوْنَ

القوم كلهم اجمعون و اكتعون و ابتعون و ابصعون شو

بدانکه اَکْـتَعُ و اَبْـتَعُ واَبْصَعُ اتباع اندبه اَجْمَعُ پس

پوهه شه ای طالبه ، اکتع ، ابتعُ او ابصعُ دا تابع دي دَ جمعې پورې پس

بدون اَجْمَعُ ومقدم بر اَجْمَعُ نباشد.

بغير دَ جمعې نه اومقدم په جمع باندې نه کيږي.

تاکيد: په لغت کښې مضبوطوالي ته وائي اوتعريف ئي دادي : ((هوتکرار يراد به تثبيت امر المکرر فی نفس السامع ليرفع شکه)) بيا تاکيد په دوه قسمه سره دې (۱) تاکيد لفظي (۲) تاکيدمعنوی ، تاکيد لفظي ديته وائي چه : ((تکرار اللفظ المؤکد سواء کان اسمًا ظاهرًا ام فعلاً ام حرفًا)) مثال د ظاهر ((جَاءَ عُمَرُ عُمَرُ)) مثال دَ فعل ((جَاء جَاءَ عَلِيٌّ)) مثال دحرف ((اِنَّ اِنَّ زَيدًا قَائِمٌ)) ، اوتاکيد معنوی هغې ته وائي چه راشي په الفاظ مخصوصه سره چه هغه اته الفاظ دي : لکه : ((نَفْسٌ، عَيْنٌ وَکِلاَ وکِلْتَا وَکُلٌّ واَجْمَعُ واَکْتَعُ واَبْتَعُ واَبْصَعُ)) ا. ددې ټولو مثالونه په کتاب کښې ذکر شوی دی .

فائده : نفس اوعين راځي : (لرفع احتمال ان يکون فی الکلام مجاز اوسهو اونسيان) مثلاً (جَاءَ الاَمِيْرُ) نو وهم راغې چه راتلل به نسيانًا وی يا سهوًا وی نوتاکيد راغې چه نفسه اوعينه نو وهم ختم شو.

(**کلا ، کلتا**) : دَ تاکيد دَ تثنيه دپاره راځي، چه سامع منکر وی نوهغه انکار ختم شي. او (کل او اجمع) دَ وهم د دفع کولو

لپاره راځی چه سامع ته وهم وی چه هغه ختم شی، (**اکتع ،ابتع، ابصع**) دا الفاظ دَ اجمع تابع دی، یعنی دَ اجمع نه به وروسته راځی لکه مثال ((جَائَنِیَ الْقَوْمُ کُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ وَاَکْتَعُوْنَ و اَبْتَعُوْنَ واَبْصَعُوْنَ)) شو. نو دغه الفاظ په اجمع نشی مقدم کیدې بلکه تابع به وی دَ اجمع.

سوم بدل واوتابعی است که مقصود به نسبت اوباشد

دریم قسم بدل دې او دا هغه تابع دې چه مقصود په نسبت سره وی دغه.

وبدل برچهار قسم است،بدل الکل وبدل الاشتمال و

اوبدل په خلور قسمه سره دې (۱) بدل الکل (۲) بدل الاشتمال

بدل الغلط وبدل البعض ، بدل الکل آنست که مدلولش

(۳) بدل الغلط (۴) بدل البعض، بدل الکل هغې ته وائی چه مدلول دَهغې

مدلول مبدل منه باشدچون جَائَنِیْ زَیْدٌ اَخُوْکَ وبدل البعض

دمبدل منه مدلول وی ، لکه مثال : جائنی زیدٌ اخوك شو . اوبدل بعض هغې

آنست که مبدلولش جزء مبدل منه باشدچون ضُرِبَ زَیْدٌ

هغې ته وائی چه مدلول دهغې د مبدل منه جزء وی لکه مثال ضرب زیدٌ

رَأسَهُ وبدل الاشتمال آنست که مدلولش متعلق به مبدل

رأسه شو ، اوبدل اشتمال هغې ته وائی چه مدلول دهغې دمبدل منه سره متعلق

منه باشدچون سُلِبَ زَیْدٌ ثُوْبُهُ وبدل الغلط آنست که بعد

وی، لکه مثال، سلب زیدٌ ثوبه شو ، او بدل غلط هغې ته وائی چه پس

از غلط بلفظی دیگر یاد کنند چون مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ

د غلط لفظ نه په بل لفظ سره یاد شي، لکه مثال مررتُ برجلٍ حمارٍ شو.

بدل هغه تابع ته وائی چه وروسته دَ لفظ نه راغلې وی، بلکه کوم نسبت چه مخکښې لفظ ته شوې وی نو هغه نسبت سره دغه مخکښې مقصود نه وی بلکه دویم مقصود وی چه هغې ته بدل وائی، اومخکښې ته مبدل منه وائی او متبوع هم دې اوبدل ته تابع وائی، بیا دغه بدل په څلور قسمه دې (۱) بدل کل (۲) بدل بعض (۳) بدل اشتمال (۴) بدل غلط.

(۱) **بدل کل**: هغې ته وائی کومه معنی اومدلول چه مبدل منه کښې وی هم هغه معنی اومدلول په بدل کښې وی، لکه مثال (جائنی زید اخوك)، زید مبدل منه او اخوك بدل دې، نو دَلته دزید ذکر تمهیداً دې اومقصود دلته اخوك دې لکه چه په تعریف د بدل کښې بیان شو.

(۲) **بدل البعض**: دیته وائی چه معنٰی یې دَ مبدل منه جزء وی لکه مثال: (ضرب زید رأسه) شو، یعنی اووهلې شوزید سر دَهغه، نو زید مبدل منه شو، او رأس بدل شو، نو رأس صرف یو جزء دزید دې نودا بدل البعض شو.

(۳) **بدل الاشتمال**: هغه ته وائی چه معنٰی اومدلول، نه دَ مبدل منه کل وی اونه جزء وی بلکه دَ مبدل منه دَ متعلقاتو نه وی، لکه مثال (سلب زید ثوبه) یعنی ویستلی شوې شوی د زید نه کپړې دهغه، یعنې زید ندې ویستلې شوې بلکه دَ هغه

کېږي ویستلې شوی او کېږي دَ زید دَمتعلقاتو نه دی.

(۴) **بدل غلط**: هغه ته وائی چه دَ مبدل منه وروسته صحیح لفظ ذکر شی ځکه چه هغه مبدل منه غلط وی، لکه مثال: (مررت بزید حمارٍ) یعنی تیر شوم په زید بلکه حمار باندې، نو حمار سره یې اصلاح وکړه نوزید مبدل منه شو او حمار بدل شو.

چهارم عطف بحرف و او تابعی است که مقصود باشد

څلورم قسم عطف بحرف دې، داهغه تابع دې چه په نسبت کښې د خپل متبوع

به نسبت با متبوعش بعد از حروف عطف چون جَائَنِي

مقصود وی او واقع پس د حروف عطف نه لکه مثال جائنی زید

زَیْدٌ وَعَمْرٌو. وحروف عطف ده است در فصل سوم

و عمروٌ شو، او حروف عطف لس دی چه په دریم فصل کښې به

یاد کنیم انشاء الله تعال واورا عطفِ نسق نیز گویند

یې بیان کړو ان شاء الله تعالی او دغې ته عطفِ نسق هم وئیلې شی.

العطف بالحرف: (هو تابع یتوسط بینه وبین متبوعه بحرف من حروف العطف)، حرف عطف سره دَ خپل متبوع نه په نسبت کښې مقصود وی، لکه مثال: ((جَائَنِي زَیْدٌ وَعَمْرٌو)) نو (زید) او (عمرو) دَ یو بل سره تړلی دی په واسطه دَ حرف عطف سره او نسبت داتیان هم دواړو ته یوشان برابر دې، نو زید معطوف علیه او واو حرف عطف او (عمرو) معطوف شو او دغه حرف عطف ته نسق هم وئیلې شی، یعنی عطف ترتیب

، او بیا حروف عطف تول لس دی لکه چه وروسته را روان دی انشاء الله تعالی .

پنجم عطف بیان و اوتابعی است غیر صفت که متبوع راروشن

پنځم عطف بیان دې، اودا هغه تابع دې چه صفت نه وی، لیکن متبوع لره ښکاره

گرداند چون اَقْسَمَ بِاللهِ اَبُوْ حَفْصٍ عُمَرُ وقتیکه بعلم مشهور

کړی لکه ، اقسم بالله ابوحفص عمر هغه وخت کښ چه متبوع په علم ډیر مشهور

تر باشد وجَائَنِیْ زَیْدٌ اَبُوْعَمْرٍو وقتیکه بکنیت مشهور ترباشد

وی او جائنی زید ابو عمرو هغه وخت کښ چه په کنیت سره ډیر مشهور وی

عطف بیان : (هو تابع غیر صفة متبوعه وهو یشبه الصفة فی کونه یکشف عن المراد کما یکشف الصفة) ، لکه یو سړې وی چه دَ هغه دړې نومونه وی خویو نوم دبل نوم نه زیات مشهور وی اول په غیر مشهور نوم سره یاد شی بیا سمدستی مشهور نوم ئی ذکر شی نودغې ته عطف بیان وائی لکه مثال : (اقسم بالله ابو حفص) ، یعنی قسم وخوړو ابو حفص ، نو چاته معلومات ونه شو چه ابو حفص څوک دې،نو وضاحت وشو چه (عُمَرُ) نو دا عطف بیان شو ، ابو حفص دَ حضرت عمر رضی الله تعالی عنه کنیت وو ، یا لکه بل مثال : (جائنی زید ابوعمرو) یعنی راغې زما خواته زید چه دَ عمر پلار دې، نو دلته په خپل نوم سره مشوره نه و نو وضاحت یې په کنیت سره وشو چه (ابوعمرو) دې ، نو دلته او پدې سره

زیات مشهور وو، خلاصه دا شوه چه په کوم نوم زیات مشهور وی نو هغه به عطف بیان وی، نو د چا دپاره خپل نوم عطف بیان او دچا دپاره کنیت عطف بیان وی.

فصل دوم، دربیان منصرف و غیر منصرف، منصرف

دویم فصل دې، په بیان د منصرف اوغیر منصرف کښ. اومنصرف هغه اسم

آنست که هیچ سبب ازاسباب منع صرف در او نباشد

ته وائی چه هیڅ سبب د اسبابو د منع صرف نه په هغې کښ نه وی

وغیرمنصرف آنست که دوسبب از اسباب منع صرف

اوغیرمنصرف هغه اسم ته وائی چه دوه سببه د اسبابو د منع صرف نه

دراو باشد واسباب منع صرف نُه است عدل و وصف

په هغه کښ وی او اسباب دَ منع صرف نهه ۹ دی (۱) عدل (۲) وصف

وتانیث ومعرفه وعجمه وجمع وترکیب ووزن فعل والف

(۳) تانیث (۴) معرفه (۵) عجمه (۶) جمع (۷) ترکیب (۸) وزن فعل (۹) الف

ونون مزیدتان چنانچه در عُمَرُ عدل است وعَلَمْ ودر

اونون زائدتان لکه د مثال په طور سره په عمرُ کښ عد اول او علمیت دې اوپه

ثُلٰثَ ومَثْلَثَ صفت است وعدل ودرطَلْحَةُ تانیث است

ثلاث او مثلث کښ صفت دې او عدل دې او په طلحةُ کښ یو تانیث دې

وعلم ودرزَیْنَبُ تانیث معنوی است و علم ودر حُبْلٰی

اوبل علمیت دې اوپه زینب کښ تانیث معنوی اوعلمیت دې او په حبلی کښ

تانیث است بالف مقصوره ودرحَمْرَاءُ تانیث است بالف

تانیث دې په الف مقصوره سره او په حمراء کښې تانیث دې په الف

ممدوده واین مؤنث بجای دوسبب است ودر اِبْرَاهِیْمُ

ممدوده سره اودغه مذکوره مؤنث په مقام د دوه سببونو دې او په ابراهیم

عجمه است و عَلَمْ و در مَسَاجِدُ و مَصَابِیْحُ جمع منتهی

کښې عجمه ده او بل علمیت دې او په مساجد او مصابیح کښې صیغه د منتهی

الجموع بجایٔ دو سبب است ودربَعْلَبَكٌ ترکیب است

الجموع ده چه په ځای د دوه سببونو ده او په بعلبك کښې ترکیب دې

وعلم ودراَحْمَدُوزن فعل است وعلم ودر سَکْرَانَ الف

اوعلمیت دې او په احمدُ کښې وزن فعل دې او بل علمیت دې اوپه کسران کښې

ونون زائدتان است ووصف ودرعُثْمَانَ الف ونون زائدتان

الف اونون زائدتان اوبل وصف دې او په عثمان کښې الف و نون زائدتان دی

است وعلم وتحقیق غیرمنصرف از کتب دیگرمعلوم شود

اوبل پکښې علمیت دې او تحقیق د غیر منصرف دنورو کتابونونه معلومیږی

طالبانو! الله پاك جل جلاله مو علم نصیب کړه دَ منصرف اوغیر منصرف بحث په بیان د اسم متمکن دَ جهت دَ اقسامو دَ وجوهو داعراب نه په صفحه ۸۳ کښې بیان شویٔ دې هم هلته یې وګورئ تسلی به مو وشی .جزاکم الله احسن الجزاء

فصل سوم درحروف غیرعامله وآن شانزده قسم است

دریم فصل دې دحروف غیرعامله وُ په بیان کښې ، او هغه په شپاړس قسمه دی

اول حروف تنبیه وآن سه است : اَلاَ واَمَا و هَا ، دوم

اول قسم حروف تنبیه دی او هغه درې دی (۱) اَلاَ (۲) اَمَا (۳) هَا دویم قسم

حروف ایجاب و آن شش است نَعَمْ و بَلٰی واَجَلْ واِیْ

حروف ایجاب دی او هغه شپږ دی (۱) نَعَمْ (۲) بلی (۳) اَجَلْ (۴) اِیْ

وجَیْرِ واِنَّ سوم حروف تفسیر وآن دواست اَیْ واَنْ

(۵) جَیْرِ (۶) اِنَّ دې ، دریم قسم حروف تفسیر دی او هغه دوه دی (۱) اَیْ (۲) اَنْ

کقوله تعالی نَادَیْنَاهُ اَنْ یَا اِبْرَاهِیْمُ چهارم حروف مصدریه

لکه دا قول دالله تعالی شو ونَادَیناه اَن یا ابراهیم، خلورم قسم حروف مصدریه دی

وآن سه است مَا و اَنْ واَنَّ ، ما واَنْ در فعل روند تا

او هغه درې دی (۱) مَا (۲) اَنْ (۳) اَنَّ ، مَا او اَنْ دا په فعل داخلیږی او

فعل به معنی مصدر باشد

فعل په معنی مصدریه سره گرځوی

دهغه حروفو په بیان کښې چه عمل نکوی هغه په شپاړس قسمه دی :

قسم اول حروف تنبیه دی : او دا درې دی : اَلاَ ، اَمَا ، هَا دی ، تنبیه صیغه د مصدر دباب تفعیل نه ده ، دغه در مذکوره حروف په جمله اسمیه کښې راځی اوعمل نکوی ،

البته اَلاَ او اَمَا سره دَ كلام شروع كيږي او خبرداري د سامع مقصد وي او (ها) هم دَ خبرداري د مخاطب دپاره راځي. اوپه څلورو ځيزونو داخليږي : (۱) اسماء الاشاره (۲) ضمير باندي (۳) ماضي چه مقرونه وي په قد باندي (۴) په مابعد د اَيُّ باندي په نداء كښ ، مثالونه : هذا شو ، (فَهَا اَنَا ئَائِبٌ) ، (هَا قَدْ رَجَعْتُ) ، (يَا اَيُّهَا الاِنْسَانُ).

دويم قسم حروف ايجاب دي : ايجاب صيغه دَ مصدر دباب افعال ده ، معنٰى ثابتول اوحروف ايجاب شپږ دي : (نَعَمْ، بَلٰى ، اَجَلْ ، اِيْ جَيْرِ ،اِنَّ) (۱) نَعَمْ : دكلام د تصديق دپاره راځي كه كلام مثبت وي اوكه منفي وي لكه په جواب دَ (اَمَا قَامَ زَيْدٌ) كښ نَعَمْ وئيلي شي (۲) بلي : راځي دپاره دَ ثبوت دَ منفي كلام لكه مثال : (اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا بَلٰى) شو (۳) اجل (۴) جَيْرِ (۵) اِنَّ ،دوئ هم په شان دَ نَعَمْ تصديق د كلام كوي (۶) اِيْ : دا هم دنعم په شان دي، خو صرف فرق دادي چه د اِيْ نه مخكښ به استفهام وي او وروسته به قسم وي، لكه مثال : (اَقَامَ زَيْدٌ) نو جواب كښ وئيلي شي اِيْ وَاللهِ او اِيْ نَعَمْ

دريم قسم حروف تفسير دي : په معنٰى د وضاحت سره او حروف تفسير دوه دي (۱) اَيْ (۲) اَنْ ، خو فرق دادي چه اَيْ دَ مفرداتو تفسير كوي لكه مثال : (رَاَيْتُ لَيْثًا اَيْ اَسَدًا) او اَنْ دَجملو تفسير كوي لكه مثال : (وَنَادَيْنَاهُ اَنْ يَا اِبْرَاهِيْمُ) شو

څلورم قسم حروف مصدريه دي : اوحروف مصدريه دري

دی او په جمله فعلیه باندې داخلیږی اومعنی مصدری ته یې اړوی، یعنی دغه اولنی دوه چه ما اوأنْ دی او هرچه انّ دې دا خاص دې په جمله اسمیه پورې لکه ماکافه ورسره یوځای شی یعنی اِنّمَا شی نو بیا په جمله فعلیه هم داخلیږی. مثالونه یې ظاهر دی ذکر کولو ته یې ضرورت نشته.

پنجم حروف تحضیض وآن چهار است اَلاَّ وَهَلاَّ ولَوْلاَ

پنځم قسم حروف تحضیض دی او هغه څلور دی (۱) الا (۲) هلاّ (۳) لولا

وَلَوْمَا ششم حروف توقع وآن قَدْ است برائ تحقیق در

(۴) لوما ، شپږم قسم حروف توقع دی اوهغه قد دې د تحقیق دپاره راځی په

ماضی وبرائ تقریب در ماضی بحال ودرمضارع برائ

ماضی باندې او دپاره د نزدیکت د ماضی حال ته او په مضارع کښ دپاره

تقلیل، هفتم حروف استفهام وآن سه است مَاوهمزه وهل

دتقلیل وی، اووم قسم حروف استفهام دی او هغه درې دی (۱) ما (۲) همزه (۳) هل

هشتم حرف ردع وآن کَلاَّ است به معنی بازگردانیدن

اتم قسم حروف ردع دی او هغه کلاّ دې په معنی دَ منع کولو سره

وبه معنی حَقًّا نیز آمده است چون کَلاَّ سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ

او په معنی دَحقًا سره هم راځی لکه مثال ، کَلاَّ سَوْفَ تَعلَمُوْنَ

پنځم قسم حروف تحضیض دی: اوهغه څلور حروف دی: الاَّ و هَلاَّ ، لولاَ ، لومَا ، او دتحضیض معنی ده تیزی ورکول او دا حروف هم مخاطب ته تیزی ورکوی. ددغه مذکوره

حروفو نه وروسته فعل راځي که لفظي وي او که تقديري وي او که دغه حروف په فعل مضارع داخل شي نو تيزي به ورکوي په عمل او ترغيب به هم ورکوي او که فعل ماضي باندې داخل شي نو فوات الامر باندې ندامت او ملامتي دپاره به وي لکه دَ اول مضارع مثال: ﴿لَوْلَا تَسْتَغْفِرُ اللهَ﴾ دفعل ماضي مثال لکه: ﴿فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوا مِنْ دُوْنِ اللهِ قُرْبَانًا آلِهَةً﴾

شپږم قسم حروف التوقع دي: او توقع نه اميد كول مراد دي او ددغې دپاره قد راځي، اگرچه مصنف رحمه الله متن کښې صيغه دَ جمع يعنې دحروف لفظ راوړې دې دا ځکه چه په اعتبار دَ معنى سره ځکه چه معنى يې په درې قسمه سره راځي (۱) تحقيق دپاره راځي که په ماضي داخل شي زمانه دَ ماضي حال ته قريب کوي (۲) دَ تحقيق مع التقليل دپاره راځي که په مضارع داخل شي (۳) تقصير دپاره راځي

اوم قسم حروف استفهام دي: استفهام باب استفعال دې، طلب دَ فهم ته وائي او دغه حروف درې دي: ما، همزه، هل او دغه حروف هم دَ طلب دَ فهم دپاره راځي، لکه: هل زيدٌ قائمٌ

اتم قسم حرف ردع دې: او دغه هم يو حرف دې، يعنې: كَلَّا او مصنف رحمه الله دجمعې لفظ په اعتبار دَ معنى سره ذكر کړيدې ځکه چه كَلَّا راځي دپاره دمنع او کله راځي دپاره دَ حقًا او کله په معنى دَ نعم سره او کله په معنى د الاَّ ابتدائيه سره.

نهم تنوین و آن پنج است تمکن چون زیدٌ وتنکیر چون

نهم قسم تنوین دې او تنوین په پنځه قسمه دې (۱) تمکن. لکه زیدٌ شو (۲) تنکیر لکه

صَهٍ ای اُسْکُتْ سُکُوْتًا مَّا فِیْ وَقْتٍ مَّا، اَمَّا صَه بغیر تنوین

صَهٍ شو یعنی چپ شه، یو قسم چپ کیدل یو وخت کښې هرچه صه دې بغیر د تنوین نه نو

فمعناه اُسْکُتْ السُّکُوْتَ الْاٰنَ وعوض چون یَوْمَئِذٍ ومقابله

معنی نې داده چپ شه خاص چپ کیدل پدې وخت کښې (۳) عوض دپاره لکه یومئذ شو

چون مُسْلِمَاتٍ وترنم که در آخر ابیات باشد **شعر**:

(۴) دمقابلې دپاره لکه مسلمات شو. (۵) ترنم دپاره چه د شعر په آخر طرف کښې وی. شعر

اَقِلِّیْ اللَّوْمَ عَاذِلِ وَالْعِتَابَنْ + وَقُوْلِیْ اِنْ اَصَبْتُ لَقَدْ اَصَابَنْ

کمه کړه ملامتی ای عاذله اوزورنه او که زه حق ته ورسیدم نو او به وائی ته چه

په تحقیق سره ته حق ته ورسیدې

وتنوین ترنم دراسم وفعل وحرف رود اما چهار خاص است باسم

او تنوین ترنم په اسم او فعل او حرف باندې راځی هرچه څلور اولنی دی نو هغه اسم پورې خاص دی

طالبانو الله تعالی مو علم کښې زیادت وکړه ـ آمین ـ د

تنوین لغوی معنی او کما ینبغی بحث او بیان مخکښې د اسم

په علامو کښې تیر شوې دې باید چه هلته یې مطالعه کړئ

دهم نون تاکید در آخر فعل مضارع ثقیله وخفیفه چون

لسم قسم نون تاکید دې چه د فعل مضارع په آخر کښې راځی چه ثقیله او خفیفه

اضْرِبَنَّ وَاضْرِبَنْ، یازدهم حروف زیادت و آن هشت

راځی لکه، اضربنّ، او اضربنْ شو. یولسم قسم حروف زیادت دی او هغه اته

حروف است انْ وَانْ ومَا وَلاَ ومِنْ وكاف وبا ولام

حروف دی (۱) اِنْ (۲) اَن (۳) ما (۴) لاَ (۵) مِنْ (۶) کاف (۷) با (۸) لام دي

چهار آخر درحروف جر یاد کرده شد.

دغه څلور آخرنی حروف په حروف جارو کښې یاد کړې شویدی

لسم قسم نون تاکید دې اونون تاکید ورته ځکه وائی چه راځي دپاره دَتاکید. دا بیا په خپل کور کښې په دوه قسمه دي نون تاکید ثقیله ای مشدده اوبل نون تاکید خفیفه ای ساکنه

یولسم قسم حروف زیادت دی: او حروف زیادت اته دی او زیادت ورته ځکه وائی چه کله زائد راځي په کلام کښې اوکه دویٔ حذف شي نو غرض نه خرابیږی بلکه راځي دغه حروف لتزیین الکلام والسجع

امثال: (اِنْ) زائد راځ پس دَما نافیه نه دَ تاکید دپاره لکه (مَا اِنْ رَأَیْتُ اَحَدًا) (اَنْ) زائد راځي پس دَ لمَّا نه. لکه (فَلمَّا اَنْ جَاء الْبَشِیْرُ). (مَا) زائد راځي د اذَا او د مَتٰی او د اَیُّ او دَ اَیْنَ او د اِنْ سره، اومعنی په دې ټولوکښې شرط وی. **مثالونه**: اذَا مَا تَخْرُجُ اَخْرُجُ، مَتٰی تَذْهَبُ اَذْهَبُ، اَیًا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَاءُ الْحُسْنٰی، اَیْنَ مَا تجْلِسُ اَجْلِسُ.

(لا) زائد راځي دَ نفي نه پس دَ واو عاطفه سره لکه مثال: مَاجَائَنِي زَیْدٌ وَلاَ عَمْرو.

(مِنْ، کَافْ، بَا. لام) دویٔ هم زائد راځي لیکن حروف

جاره هم دي چه جر ورکوی ، مثال د (مِنْ) مَا جَائَنِیْ مِنْ اَحَـد مثال د (کاف) لَیْسَ کَمِثْلِه شَيْءٌ ، مثال د بَا ، لَیْسَ زَیْدٌ بِقَائِم

دوازدهم حروف شرط وآن دواست اَمَّا ولَوْ، اَمَّا برای

دولسم قسم حروف شرط دی ، او هغه دوه دی : اَمَا او لَوْ ، اَمَا راځی دپاره

تفسیر وفا در جوابش لازم باشــد کقوله تعالی فَمِنْهُمْ

دتفسیر او فاء یې په جواب کښې لازمی وی ، لکه دا قول دالله تعالی فمنهم

شَقِيٌّ وَسَعِيْدٌ فَاَمَّاالَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ، وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا

شقیٌ وسعیدٌ فامّاالذین شقوا ففی النار ، وامّا الذی سعدوا

فَفِي الْجَنَّة ولوبرائ انتفائ ثانی بسبب انتفائ اول چون

ففی الجنة او لو راځی دپاره دَ انتفاء دَ ثانی په سبب دَ انتفاء دَ اول سره لکه

لَوْكَانَ فِيْهِمَا آلِهَةٌ الاَّ اللهُ لَفَسَدَتَا

مثال ، لوکان فیهما آلهة الاّ اللهُ لفسدتا

دولسم قسم حروف شرط دی او حروف شرط دوه دی : اَمّا او لَوْ دي ، هرچه اَمّا دي. دَ تفسیر دپاره راځی او په جواب کښې یې فا راوړل کیږی ، لکه مثال : (فمنهم شقیٌ وسعید) یعنی بعضی پدې خلقو کښې به بدبخته وی او بعضی به نیك بخته وی، نو دغه اجمال شو ، اوس اَمّا تفصیل کوی (فَاَمّا الذین شقوا ففی النار۔الایه۔) نو (ففی النار) او (ففی الجنة) کښې چه فا راغلې ده دغه فا په جواب د اَمّا کښې راغلې ده.

اوهر چه (لو) دې نو په دوه جملو داخلیږی او د وروستۍ

جملې نفي کوي ځکه چه اول جمله منتفي ده، او که په مستقبل هم داخل شي نو دماضي دپاره وي لکه مثال: ﴿لَوْكَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ اِلاَّ اللهُ لَفَسَدَتَا﴾، يعنې که په ځمکه او آسمانونو کښې ډير خدايان وې نو ځمکه او آسمانونه به وران شوي وې، ليکن ورانې نشته دې نو معلومه شوه چه نور خدايان هم نشته دی د الله تعالى نه سوا.

سیزدهم لَولاَ و او موضوع است برائ انتفائ ثانی

ديارلسم قسم ﴿لولا﴾ دې او دا موضوع دې دپاره دَ انتفاء دثانی

بسبب وجوداوّل چون لَوْ لاَعَلِیٌّ لَهَلَكَ عُمَرُ، چهاردهم

په سبب دَ وجود د اول سره. لکه مثال، لولا علیٌ لهلك عمر شو. څوارلسم

لام مفتوحه برائ تاکید چون لَزَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو

قسم لام مفتوحه دې دپاره دَ تاکید راځي. لکه. لزیدٌ افضل من عمرٍو

ديارلسم قسم لولا دې: او لولا وضع شوې دې دپاره دَ انتفاء دَ ثاني په سبب دَ وجود داول سره، نو معلومه شوه چه لولا هم په دوه جملو داخليږي لکه مثال: ﴿لولاعلیٌ لهلك عمر﴾ يعنې که حضرت علي رضی الله عنه موجود نه وې نو هلاك شوې به وی حضرت عمر رضی الله عنه، نو عمر رضی الله عنه هلاك نشو ځکه چه حضرت علي رضی الله عنه موجود وو.

واقعه داسې وه چه يوه ښځه چه حامله وه او زنا يې کړې وه نو حضرت عمر رضی الله عنه پرې درجم حکم وکړو نو حضرت علي رضی الله عنه دَ حکم دجاری کيدو نه مخکښې ورته وئيل چه دَ

حمل سره دغه حاملې لره رجم ندې پکار، نو حضرت عمر رضی الله عنه خبره اومنله. یعنی چه کله بچې پیدا شی نو بیابه حکم دَ رجم جاری شی، او دغه کلام چه (لولا علیٌ لهلك عمرٌ) دَ حضرت عمر رضی الله عنه دَ خولې مبارکې نه پدغه وخت کښې صادر شو

څوارلسم قسم لام تاکید دي چه مفتوح وی او دغه لام په ابتداء کښې راځی نو لام ابتدائیه ورته هم وائی، لکه مثال لزید افضل من عمرو یعنی خامخا زید افضل دې دَعمرو نه

پانزدهم ما بمعنی مادام چون اَقُوْمُ مَاجَلَسَ الاَمِیْرُ شانزدهم

پنځلسم قسم (ما) دې چه په معنی د مادام سره دې. لکه، اقوم ماجلس الامیر شپاړسم

حروف عطف و آن ده است واو وفا و ثُمَّ وحتّٰی واَمَّا

حروف عطف دی اوهغه لس دی (۱) واو (۲) فا (۳) ثم (۴) حتی (۵) اَمّا

و اَوْ واَمْ ولاَ وبَلْ و لکِنْ فقط.

(۶) او (۷) اَمْ (۸) لا (۹) بل (۱۰) لکِن. دی. فقط


تمت بالخير


پنځلسم قسم (ما) دې چه په معنی دَ مادام سره دې، لکه مثال (اقوم ماجلس الامیر) یعنی زه به ولاړیم ترڅو چه امیر ناست وی

شپاړسم قسم حروف عطف دی عطف یو څیز دبل څیز سره په حکم کښې یوځای کولو ته وائی. اوحروف عطف لس دی: (واو) لکه جَائَنِیْ عَمْرٌو وَخَالِدٌ (فا) جَائَنِیْ زَیدٌ فَخَالِدٌ.

(ثُمَّ) جَائَنِیْ وَاجِدٌ ثُمَّ خَالِدٌ (حتّٰی) قَدِمَ الْحَاجُ حَتّٰی الْمُشَاةُ (امّا) اَلْعَدَدُ امّا فَرْدٌ اَوْ زَوْجٌ (او) جَائَنِیْ خَالِدٌ اَوْ وَاجِدٌ (اَمْ) اَلْوَاجِدُ عِنْدَ اَمْ خَالِدٌ (لَا) جَائَنِیْ زَیْدٌ لَا عَمْرٌو (بل) جَائَنِیْ زَیْدٌ بَلْ خَالِدٌ (لکِنْ) مَاجَائَنِیْ زَیْدٌ لکِنْ خَالِدٌ.

او په دې کښې به نور بحث په لويو کتابونو کښې راشي.





ناشر

مکتبه رحمانیه

محله جنگی قصه خوانی پشور

ناظم مکتبه

خطاط شهزاده نقشبندی عفی عنه خادم العلماء والطلباء والمشائخ

چون بحث مستثنٰی در کتاب نحومیر نبود

چونکه په نحومیر کتاب کښ دَ مستثنٰی بحث نه وو

برای فائده طلاب افزوده شد

دَ طالبانو دَ فائدې دپاره زیات کړې شو

بدانکه مستثنٰی لفظیست که مذکور باشد بعد الّا و

پوهه شه ای طالبه، چه مستثنٰی هغه لفظ دې چه مذکور وی پس دَ الّا نه یا دَ

واخوات آن یعنی غَیْرُ وَسِوٰی وسِوَاء وحَاشَا وخَلَاوعَدَا

دَ امثالونه یعنی، غیر او سِوٰی او سَوَآء او حاشا او خلا او عدا

ومَاخَلَا ومَاعَدَاولَیْسَ ولَایَکُوْنُ تاظاهر گردد که منسوب

او ماخلا او ما عدا او لیس او لایکون نه، دپاره ددې چه ظاهر شی منسوب

نیست بسوی مستثنٰی آنچه نسبت کرده شده است

ندې په طرف د مستثنٰی هغه چه نسبت کړې شوې دې

بسوی ماقبل وی وآن بردو قسم است متصل ومنقطع

په طرف دماقبل دمستثنٰی، او دغه په دوه قسمه ده (۱) متصله (۲) منقطع

متصل آنست که خارج کرده شود از متعدّد بلفظ الّاَ

متصل هغې ته وائی چه خارج کړې شوې وی دَ متعدد نه په لفظ دَ الّا سره

واخوات وی، مثل : جَائَنِیَ الْقَوْمُ الّاَ زَیدًا پس زید که

او دَ اخواتو دَ الّا سره، لکه مثال جائنی القوم الّا زیداً شو. پس زید چه

درقوم داخل بود از حکم مجیئ خارج کرده شد ومنقطع
په قوم کښې داخل وو لیکن د حکم د راتلو نه خارج کړې شو. او مستثنٰی منقطع

آن باشد که مذکور بعد الاَّ واخوات وی وخارج کرده
هغه ده چه مذکور وی پس د الاَّ او د اخواتو د الاَّ نه او خارج

نشود از متعدد بسبب آنکه مستثنٰی داخل نباشد درمستثنٰی
نکړې شی د متعدد نه په سبب د دې سره چه مستثنٰی داخل نه وی په مستثنٰی

منه مثل جَائَنِیَ الْقَوْمُ الاَّ حمَارًا که حمار درقوم داخل نبود
منه کښې لکه مثال: جائنی القومُ الاَّ حماراً چه حمار په قوم کښې داخل نه دې

بحث دَ مستثنٰی دَ طالبانو دفائدې د پاره زیات شو.
مستثنٰی صیغه د اسم مفعول د باب استفعال ده، معنٰی ایستلو ته وائی، اوتعریف دَ مستثنٰی په کتاب کښې ذکر دې اوفائده دَ استثناء متصله تخصیص بعد التعمیم دې اود منقطع فائده استدراك دې، بیا مستثنٰی په دوه قسمه سره ده (۱) متصله (۲) منقطعه. که مستثنٰی د مستثنٰی منه د جنس نه وه نو متصله شوه او که مستثنٰی دَ مستثنٰی منه په جنس کښې داخله نه وه نو مقطع شوه، دَ اول مثال لکه جائنی القوم الاَّ زیدٌ اوددویم مثال لکه جائنی القوم الاَّ حماراً شو. او حروف د استثناء په متن د کتاب کښې ذکر دی.

بدانکه اعراب مستثنٰی برچهارقسم است اول آنکه
بوهه شه ای طالبه، اعراب دَ مستثنٰی په څلور قسمه دي (۱)، اول هغه دي چه
اگر مستثنٰی بعد الاّ در کلام موجب واقع شود پس
که مستثنٰی پس دَ الاّ نه په کلام موجب کښې واقع شي پس
مستثنٰی همیشه منصوب باشد نحوجَائَنِیَ الْقَوْمُ الاّ زَیْدًا
مستثنٰی به همیشه منصوبه وی، لکه مثال، جائنی القوم الاّ زیداً شو
وکلام موجب آنکه درآن نفی ونهی واستفهام نباشد
او کلام موجب هغه دي چه په هغه کښې نفی، نهی او استفهام نه وی
وهمچنین درکلام غیرموجب اگر مستثنٰی را به مستثنٰی
همدغه شان په کلام غیر موجب کښې که مستثنٰی په مستثنٰی منه باندې
منه مقدم گردانندمنصوب خوانندنحومَاجَائَنِیْ الاّ زَیْدًا اَحَدٌ
مقدمه وګرځی نومنصوب به لوستلې کیږی، لکه مثال ماجائنی القوم الاّ زیداً احدٌ شو
و مستثناء منقطع همیشه منصوب باشد و اگر مستثنٰی بعد
او مستثنٰی منقطع همیشه دپاره منصوبه وی او که مستثنٰی پس دَ
خلا واقع شود بر مذهب اکثر علماء منصوب باشد وبعد
خلا نه واقع شی نو په مذهب د اکثرو علماؤ به منصوبه وی اوپس
مَاخلا و ما عَدَا ولَیْسَ ولاَیَکُوْنُ همیشه منصوب باشد نحو
دَما خلا، وما عدا، ولیس او لا یکون نه چه واقع وی نو همیشه دپاره به منصوبه

مَاجَائَنِیَ الْقَوْمُ خَلاَ زَیْدٌ وَ عَدَا زَیْدًا ـ الخ ـ

وی لکه مثال ، جائنی القوم خلازیداً اوعدا زیداً ، ـ تر آخره پورې ـ

اعـراب دمـستثنٰی پـه څلور قـسمه سره دې اول قـسم مستثنٰی به منصوبه وی دَ دې دپاره پنځه مقامات دی (۱) چه مستثنٰی متصله وی او واقع وی په کلام موجب کښ او پس دَ الاّ نه وی، کلام موجب هغې ته وائی چه په هغه کښ نفی ، نهی او استفهام نه وی او کلام غیرموجب دَ دې مقابل وی یعنی چه دغه مذکوره شیان پکښ نه وی

(۲) دویم صورت : چه مستثنٰی پس دَ الاّ نه وی او په کلام غیر موجب کښ وی او مستثنٰی هم په مستثنٰی منه مقدم وی لکه مثال (ماجائنی الاّ زیداً اَحَدٌ) شو.

(۳) چه مستثنٰی منقطع وی نو هم به منصوبه وی همیشه

(۴) چه مستثنٰی پس دَ خلا او عدا نه واقع وی نو دَ اکثرو په نیزبه منصوبه وی لکه مثال (ماجائنی القوم خلازیداً وعدا زیداً) شو

(۵) چه مستثنٰی پس دَ ما خلا او ماعدا او لیس او لایکون نه واقع شی نو هم همیشه به منصوبه وی. لکه مثال (ماجائنی القوم ما خلازیداً وماعدا زیداً ولیس زیداً ولایکون زیداً ـ الخ ـ

دوم آنکه مستثنٰی بعد الاّ در کلام غیر موجب واقع

دویم قسم هغه دې چه مستثنٰی پس دَ الاّ نه په کلام غیرموجب کښ واقع

شود ومستثنٰی منه هم مذکور باشد پس درآن دو وجه

شي او مستثنٰی منه هم مذکور وی پس دې کښې دوه وجهې

روا است یکی آنکه منصوب باشد بر سبیل استثناء

جائزې دی، یوه دا چه منصوب وی دَ استثناء په وجه سره

دیگر آنکه بدل باشد از ماقبل خویش چون مَاجَائَنِیْ

دویمه وجه دا چه مستثنٰی بدل وی د ماقبل نه. لکه مثال ماجائنی

اَحَدٌ اِلاَّ زَیْدًا وَاِلاَّ زَیْدٌ

احدٌ الا زیداً او الاّ زیدٌ شو، نو اول منصوب بنا بر استثناء او دویم مرفوع بنا بر بدلیت

دریم قسم اعراب که مستثنٰی پس دَ اِلاَّ نه په کلام غیر موجب کښې واقع شی او مستثنٰی منه هم مذکور وی، نو دغه مقام کښې دوه طریقې جائزی دی (۱) نصب (۲) بدل. نصب خو ځکه جائز دې چه مستثنٰی ده او مستثنٰی منصوبه وی او رفع ځکه جائزه ده چه دمستثنٰی منه اعراب به وی یعنی که مستثنٰی منه مرفوع وه مستثنٰی به هم مرفوع وی، لکه مثال: ماجائنی اَحدٌ اِلاَّ زَیْدًا او اِلاَّ زَیْدٌ شو. نو قائل ته اختیار دې چه منصوب یې وای او که مرفوع.

سوم آنکه مستثنٰی مفرغ باشدیعنی مستثنٰی منه مذکور

دریم هغه ده چه مستثنٰی مفرغ وی یعنی مستثنٰي منه مذکور

نباشدو در کلام غیرموجب واقع شودپس اعراب مستثنٰی

نه وی او په کلام غیر موجب کښې واقع شی پس نو اعراب د مستثنٰی

به الاّ دراین صورت بحسب عوامل مختلف باشد نحو

به د الاّ په ذریعه سره په دې صورت کښې په حسب دَ عواملو سره به مختلف وی

مَاجَائَنِیْ اِلاَّ زَیْدٌ وَ مَا رَأَیْتُ اِلاَّ زَیْدًا و مَامَرَرْتُ اِلاَّ بِزَیْدٍ

لکه. ماجائنی الاّ زیدٌ او ما رأیتُ الا زیداً او ما مررتُ الاّ بزیدٍ شو

دریم قسم که مستثنیٰ مفرغ وی یعنی مستثنیٰ منه مذکوره نه وی او په کلام غیرموجب کښې پس دَ الاَّ نه واقع وی نو دَ دغه مستثنیٰ اعراب به دَ خپل عامل موافق وی. یعنی که عامل رفعه ورکوله نو مرفوع به وی اوکه عامل ناصب وو نو منصوبه به وی اوکه عامل جاره وو نو مجروره به وی او داځکه چه مستثنیٰ منه حذف شوه، نو هغه عامل چه دَ الاَّ نه مخکښې دې فارغ شو دَ عمل دَ مابعد لپاره په حسب دَ هغې چه هغه تقاضا کوی، نوکلمه دَ الاّ به دغه وخت کښې دَ حصر دپاره شی، او مثالونه ئې په کتاب کښې ذکردی

چهارم آنکه مستثنیٰ بعدازلفظ غَیْرُوسِوٰی وسَوَاءَ واقع

څلورم قسم هغه دې چه مستثنیٰ پس دَ لفظ دَغیراَو سِوٰی او سواءَ نه واقع

شودپس مستثنیٰ را مجرور خوانند وبعد حاشا برمذهب

شی نو پس مستثنیٰ به بیا مجرورلوستل کیږی اووروسته دَ حاشانه په مذهب

اکثر نیز مجرور باشد وبعضی نصب هم جائز داشته اند چون

دَ اکثرو علماؤ باندې هم مجروروی او بعضی علماء ورته نصب هم جائز وایی

جَائَنِی الْقَوْمُ غَیرَ زَیْد، سوٰی زَیْد وَسَوَاء زَیْدوحَاشَا زَیْد

لکه مثال . جائنی القوم غیرزدي وسوٰی زید وسواءَ زید وحاشا زید شو

وبدانکه اعراب لفظ غَیْرَمثل اعراب مستثنٰی به الاّ باشد

او پوهه شه ای طالبه. چه اعراب دلفظ دَ غیرُ په شان د داعراب دَ مستثنٰی دي

درجمیع صورهای مذکوره چنانکه گوئی جَائَنِیَ الْقَوْمُ

چه په الاّ سره وی په ټولو صورتونو کښ چه مذکوردی لکه چه ته به وائی جائنی

غَیْرَ زَیْد وغَیْرَحِمَار وَمَاجَائَنِیْ غَیْرَ زَیْد الْقَوْمُ ومَاجَائَنِیْ

القوم غیرَ زید و غیر حمار وما جائنی غیر زیدٌ القوم شو و ما جائنی

اَحَدٌ غَیْرَزَیْد وَغَیْرُ زَیْدومَاجَائَنِیْ غَیْرُ زَیْدومَارَأیْتُ غَیْرَ زَیْد

احدٌ غیرَ زید و غیرُ زیدٌ و ماجائنی غیر زیدٌ و ما رأیت غیر زیدٍ

وَمَامَرَرْتُ بغَیْر زَیْد، وبدانکه لفظ غیرموضوع است

وما مررت بغیر زید شو. او پوهه شه ای طالبه . چه لفظ دَ غیرموضوع دي

برائ صفت وگاه برائ استثناء آید، چنانکه الاّ برائ

دپاره دَ صفت او کله دَ استثناء دپاره هم راځی لکه چه الاّ د استثناء

استـــثناء موضوع است وگاه در صفت مستعمل شود

دپاره موضوع دي اوکله دَ صفت دپاره استعمالیږی.

نحو قوله تعالی لَوْکَانَ فِیْهِمَا آلِهَةٌ الاَّ اللّٰہُ لَفَسَدَتَا یــعنی

لکه مثال دا قول د الله تعالی لوکان فیهما آلهة الا الله لفسدتا . یعنی

غیر اللّٰہ ، همچنین لاَ اِلٰهَ الاَّ اللّٰہُ

غیر الله . اوهمدا رنګه ،لا اله الا الله، هم ده

څلورم قسم اعراب. که مستثنٰی پس دَ لفظ دَ غیر او سوٰی او سواء نه واقع شی نو مجروره به وی، چه دغه غیرُ وغیره به مستثنٰی طرف ته مضاف وی او مستثنٰی به مضاف الیه وی او مضاف الیه مجرور وی .

اوکه وروسته د حاشانه واقع شی نو دلته یې هم اکثر علماء مجروره وائی اوبعضی علماء یې منصوبه وائی. مثالونه یې په کتاب کښ په تفصیل سره ذکر شویدی

((**وبدانکه اعراب لفظ غیر**)) : دلته مصنف رحمه الله یوه قاعده بیانوی، اوهغه داده چه که لفظ دغیر دَ اِلاَّ په معنٰی واقع شی نو اعراب به یې څه وی نو کوم اعراب چه دَ مستثنٰی وی نوهم دغه اعراب به دَ لفظ دَ غیرهم وی، یعنی که مستثنٰی منصوبه وه نو غیر به هم منصوب وی ـ الخ ـ او مثالونه یې ټول په کتاب کښ ذکر شوی دی

((**وبدانکه لفظ غیر موضوع است برای صفت ـ الخ ـ**))

یعنی لفظ دَ غیر وضع شوې دې دپاره دَ صفت او کله کله دَ استثناء دپاره هم استعمالیږی همدغه شان اِلاَّ دَ استثناء

دپاره وضع شوي دي او کلمه کله په معنی دَ غیرهم استعمالیږی، او مثالونه یې په کتاب کښ ذکر شویدی

تُمَّت بعون الله تعالی وبتوفیقه ، اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنِّیْ هٰذِهِ الرِّسَالَةَ وَاجْعَلْهَا مَقْبُوْلَةً بَیْنَ الطُّلَّابِ وَالْعُلَمَاءِ اَنَّكَ سَمِیْعُ الدُّعَاءِ ـــ آمین ، ثُمَّ آمِیْن ـــ بِرَحْمَتِكَ یَا اَرْحَمَ الرَّحِمِیْنَ . وَصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَ آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.

تاریخ بروز جمعة المبارك وقت صلوة فجر

۶ صفر المعظم سنه ۱۴۲۹ هـ

موافق ۱۵ فروری سنه ۲۰۰۸م

(عطاء الله رحمانی کان الله له)

ناشر

مکتبه رحمانیه

محله جنگی قصه خوانی پشور

ناظم مکتبه

خطاط شهزاده نقشبندی عفی عنه خادم العلماء والطلباء والمشائخ

کمپوز : طالب الدعاء حافظ مولوی محمدولی (بغلانی)